بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ!

زما د ښوونې او روزنې په ډګر کې مخکښ لارښود، قدرمند او محترم پلار، ګران او مشر ورور انجنير محمد زبير (رحيمي) ته چې دواړو تر خپلې وسې تل زما د برياوو په وړاندې د شته ناخوالو او خنډونو سره په ورين تندي مبارزه کړې، ډالۍ کوم او د الله جل جلاله له درباره ورته د دارينو د بريا مستدعي يم.

# د ملګرو ملتونو سازمان

د بشري حقونو نړیواله اعلامیه

د بشري حقونو اسلامي اعلامیه

عبیدالرحمن رحیمي

ناشر و معرّف تمدن شما

<u>**شناسه**</u>

- **د کتاب نوم:** د ملگرو ملتونو سازمان
- **ليکوال:** عبيدالرحمن رحيمي
- **ډيزاين:** انجنير محمد افضل ذاکر
- **د چاپ وار:** لومړی، ۱۳۹۷ خورشيدی
- **کچه او چاپشمېر:** رقعی، ۱۰۰۰ نسخه

**بيه:** ۱۰۰ افغانی

- **خپرندوی:** انتشارات تمدن شرق

پته: کابل؛ د کوټه سنگی چوک او دهبوري څلورلارې ترمنځ، د رحمان بابا ليسې ته مخامخ.
اړيکه: ۰۷۷۳۲۹٤۰۰۱ و ۰۷۰۸۲۱۵۱۱۳
Email: shamssharq@yahoo.com

**د چاپ، ژباړې زياتونې او کاپي حقوق يې له خپرندوی سره خوندي دي.**

# تقریظ

نقش سازمان‌های بین المللی در عصر معاصر به دلیل ضرورت تامین امنیت و صلح جهانی از بنیادی ترین نیاز ها و آرمان های بشری بوده است. تامین امنیت و صلح جهانی بدون موجودیت سازمان های‌بین المللی امکان پذیر نبوده است.

بنابر این فاجعه جنگ جهانی اول و دوم منجر به تجمع دولت های جهت پایان بخشیدن به جنگ ها و تشکیل جامعه ملل و نهایتا سازمان ملل متحد گردید.

جامعه ملل بر خرابه های جنگ جهانی اول بنیان گذاشته شد ولی به دلیل ضعف های جامعه ملل، جنگ جهانی دوم شکل گرفت. اما بازهم احساس ضرورت به تشکیل سازمان بین المللی از بین نرفت و دولت های فاتح جهانی بار دوم به ارایه راسخ تر جهت تامین امنیت و صلح جهانی به تاسیس سازمان بین المللی جدید «سازمان ملل متحد» پرداختند.

این کتاب توسط محترم عبیدالرحمن (رحیمی) تحت عنوان سازمان ملل متحد به زبان پشتو به رشته تحریر در امده است. در نوشتن اثر کنونی زحمات زیادی را اقای (رحیمی) متقبل گردیده و از عهده ای این مسوولیت بزرگ به خوبی بدر شده و خالیگاه مهم را پر نموده و جا دارد که این اقدام معنوی شان ستایش به عمل آید.

در این کتاب به صورت علمی به (پیشینه شکل گیری، اصول، اهداف، و ارکان سازمان ملل متحد) پرداخته شده و مورد بررسی قرار گرفته است.

اکنون بعد از طبع ان محصلین گرامی رشته روابط بین الملل و حقوق بین الملل عمومی می توانند برای مطالعات بیشتر از این اثر علمی جهت غنای علمی شان بهره ببرند و از اساتید پوهنتون های کشور تقاضا دارم که مفاد این کتاب را برای مطالعات تخصصی به جوانان کشور ارشاد فرمایند.

در اخیر یک بار دیگر برای دوست گرامی و جوان فرهیخته میهنم آقای عبیدالرحمن(رحیمی) توفیق مزید از رب العزت در زمینه خلق آثار علمی استدعا دارم.

با احترام

اسماعیل روشنگر

استاد پوهنتون کاروان و عضو ارشد انستیتیوت تحقیقات استراتیژیک و مطالعات توسعه افغانستان

## د پیل خبرې

**الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه أجمعین وبعد!**

لکه څرنگه چې نړیواله سوله او امنیت د دولتونو لپاره یوه فطري او اړینه موضوع ده؛ نو پدې آساس د ملگرو ملتونو سازمان چې یو نړیوال سازمان دی، له دوهمې نړیوالې جگړې وروسته په (۱۹۴۵م) کال د اکتوبر په (۲۴) نیټه د یو لړ اقداماتو او هلو ځلو (د بین المتحیدینو د اعلامیې صادریدل، د اتلانتیک منشور، د ملگرو ملتونو اعلامیه، د مسکو او تهران کنفرانسونه او بالاخره د سانسفرانسکو کنفرانس) په پایله کې د تل پاتې نړیوالې سولې او امنیت د راوستلو، ساتلو، او تداوم لپاره د امریکا د متحده ایالاتو په نیویارک ښار کې رسما په فعالیت پیل وکړ، چې دغه موخې ته رسیدل په گډه د نوموړي سازمان د غړو هیوادونو د همکارۍ په پایله کې ممکنه ده.

د ملگرو ملتونو نړیوال سازمان منشور د (۱۹) فصلونو او (۱۱۱) مادو په لرلو سره تدوین شو او د نړیوالې محکمې د دیوان آساسنامه د منشور د نه بېلیدونکي ضمیمې په عنوان وپیژندل شو او ددغه کال د جون په (۲۵) نیټه د سانسفرانسکو د اپرای په تالار کې د رأیو په اتفاق تصویب شو، یوه ورځ وروسته په هغه تشریفاتي مراسمو کې چې د (ورکو سربازانو) په پار جوړ شوی وو، د اکتوبر (۲۴) نیټه رسما د ملگرو ملتونو د ورځې په نوم ونومله.

د ملگرو ملتونو سازمان اصلي ارگانونه چې د امنیت شورای، عمومي اسامبله، د نړیوالې محکمې دیوان، اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای، دارالانشأ او د قیمومیت شورای څخه عبارت دي، د نوموړي سازمان سره د سولې او امنیت په برخه کې پراخه همکاري لري چې په اړه یې په راتلوونکي کې په مفصل ډول بحث شویدی.

زموږ ګران هیواد افغانستان هم ددغه سازمان غړیتوب په (۱۹۴۶م) کال یعنې د نوموړي سازمان له تأسیس څخه یو کال وروسته تر لاسه کړ، چې ځان یې له دې لارې نړیوالو اړیکو ته داخل کړ.

ما په دې کتاب کې د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان په اړه تر خپلې وسې ډېری معلومات ځای پر ځای کړي، خو دا په دې معنی نده چې، د نیمګړتیاوو او نواقصو څخه دې خالي وي، بلکه پدې اړه مې له محترمو استادانو، ګرانو محصلینو، د نظر خاوندانو او ټولو لوستوونکو څخه هیله داده چې، ددغه اثر هر ډول عیوبو او نیمګړتیاوو ته چې دوی ته په نظر ورځي؛ زما پام هم ور واړوئ، تر څو په راتلوونکي چاپ کې یې اصلاح ته پاملرنه وکړم.

او په آخر کې د واکمن او ځواکمن څښتن تعالی ډېر، ډېر شکر پر ځای کوم او پر ځان مې د الله ﷻ ځانګړې لورینه او پیرزوینه ګڼم، چې ماته یې ددې توان راکړ، تر څو دغه ارزښتناک اثر(د ملګرو ملتونو سازمان) د خپل مسلک په برخه کې د ګرانو هیوادوالو او بالخصوص د محترمو محصلینو لپاره په خپله مورنۍ ژبه (پښتو) د لیک په ګاڼه سمبال کړم.

لکه څرنګه چې الله ﷻ هیڅ نفس له خپل وس او توان څخه لوړ نه دی مکلف کړی، بلکه د خپل توان په اندازه یې په ټولنه کې د خپل ځان او خلکو په وړاندې د مسؤلیت او مکلفیت بار ور په اوږه کړی، نو ما هم د خپل توان په کچه دغه سپیڅلي مکلفیت ته غاړه ایښې او په ورین تندي مې ورته لبیک وویل.

له بل لوري په پښتو ژبه کې د کتابونو کم شتون او فقر هغه موضوع وه، چې د نوموړي اثر لیکلو ته یې وهڅولم. او په دې برخه کې د ذولجلال رب څخه د لا زیات توفیق او نصرت غوښتوونکی یم!

عبیدالرحمن (رحیمي)

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د اداري او دیپلوماسۍ څانګې د څلورم ټولګي محصل

# لړ لیک

| سرلیک | مخګڼه |
| --- | --- |


## لومړی څپرکی

## ۱. د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان

الف- د ملګرو ملتونو سازمان تاریخچه........ ۱
ب- د ملګرو ملتونو سازمان مقعر........ ۲
ج- د ملګرو ملتونو سازمان رسمي ژبې........ ۲
د بین المتحدینو اعلامیه (Inter – Allied Declaration)........ ۲
د اتلانتیک منشور (Atlantic Charter)........ ۳
د ملګرو ملتونو اعلامیه........ ۳
د تهران او مسکو کنفرانسونه........ ٤
د امبارتن اوکس او یالتا کنفرانسونه........ ۵
د سانسفرانسکو کانفرانس........ ۷

## دویم څپرکی

الف- د ملګرو ملتونو سازمان موخې او اصول........ ۹
ب- د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصول........ ۱۰
ج- د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان جوړښت (ترکیب)........ ۱۰
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب د لاسته راوړلو اصول........ ۱٤
د ملګرو ملتونو په نړیوال سازمان کې د غیر غړو دولتونو حالات........ ۱٤
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب انتها........ ۱۷

## دریم څپرکی

## د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصلي ارګانونه

الف: د امنیت شورای جوړښت (ترکیب)........ ۲۰
د امنیت په شورای کې رأی ګیري........ ۲۳

د امنیت شورای د یوه غړي له رأیې ورکولو څخه ډډه کول او د هغه
حقوقي اغیزې ........................................ ۲۴
د امنیت شورای دندې او اختیارات (صلاحیتونه)................... ۲۵
د امنیت شورای اجراعات ........................................ ۳۰
ب: عمومي اسامبله ................................................ ۳۶
په عمومي اسامبله کې د رأی ګیرۍ بڼه (شکل)..................... ۳۷
د عمومي اسامبلې دندې او واکونه ................................ ۳۸

## څلورم څپرکی

## د عدالت نړیواله محکمه

د عدالت نړیوالې محکمې پرتله د نړیوالې دایمي محکمې سره ..... ۴۲
اختلافي نقطې ........................................................ ۴۲
د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو د سازمان اصلی رکن....... ۴۳
د نړیوالې محکمې د دیوان پیدایښت................................. ۴۵
د نړیوالې محکمې تأسیس .......................................... ۴۷
د نړیوالې محکمې جوړښت او تشکیلات ............................ ۴۸
د ځانګړي قاضي څخه ګټه اخیستنه ................................. ۴۹
ج: د نړیوالې محکمې واکونه (صلاحیتونه) .......................... ۵۲
د محکمې مشورتي واکونه (صلاحیتونه)............................. ۵۳

## پنځم څپرکی

## د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای

د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای د غړو جوړښت (ترکیب): ........۵۸
د کار طرزالعمل ....................................................... ۵۹
د مطالعاتو اجرأ کول ................................................. ۶۲
سپارښتلیکونه صادرول.............................................. ۶۳

د کنوانسیونونو د مسودې ترتیبول ........................ ٦٣
د نړۍ والو کنفرانسونو تشکیل ........................ ٦٤
د تخصصي سازمانونو سره مرسته او د هغوي ترمنځ د همغږۍ ټینګښت
........................................ ٦٤
و- دارالانشأ ........................................ ٦٦
ز- سرمنشي ........................................ ٦٦
ح- د سرمنشي د ټاکلو بڼه ........................................ ٦٦
ب: د سرمنشي دندې او اختیارات ........................ ٦٨
ه: د قیمومیت شورای تاریخچه ........................ ٧١
د قیمومیت شورای صلاحیتونه او اختیارات ........................ ٧٧

**شپږم څپرکی**

**د بشري حقونو نړیواله اعلامیه**

سریزه ........................................ ٧٩

**اووم څپرکی**

**د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه**

سریزه ........................................ ٨٩
**ضمایم ........................................ ٩٩**
**لومړی ضمیمه ........................................ ٩٩**
**دویمه ضمیمه ........................................ ١٠٧**
**اخځلیکونه ........................................ ١١١**

# لومړی څپرکی

## ۱. د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان

### الف- د ملګرو ملتونو سازمان تاریخچه

د ملګرو ملتونو سازمان پیدایښت او منځ ته راتګ د هغو اقداماتو او هلو ځلو پایله ده،چې د دغه سازمان په رامنځ ته کیدو کې موثر او ګټور واقع شوي وو. ددغه اقداماتو او هلو ځلو له جملې څخه کولای شو چې د بین المتحدینو د اعلامې صادیریدل،د اتلانتیک منشور، د ملګرو ملتونو اعلامیه، د مسکو او تهران کنفرانسونه، د امبارتن اوکس او یالتا کنفرانسونه او په پای کې د سانفرانسکو کنفرانس ته اشاره کولای شو.

نوموړی سازمان د (۱۹۴۵م) کال د اکتوبر په ۲۴ نیټه د ملتونو ټولنې پرځای د ۵۱ غړو هیوادونو په ګډون رامنځ ته شو. چې په ۲۰۱۵ م کال کې یې د غړو هیوادونو شمیر ۱۹۳ ته لوړ شو. کابو ټول هغه مستقل هیوادونه چې په نړیواله سطحه په رسمیت پیژندل شوي دي، ددغه سازمان غړیتوب لري.

په استثنا د واتیکان (عضویت یې په سازمان کی نه دی قبول شوی) او د ملي چین (تایوان) چې عضویت یې د چین ولسي جمهوریت له عضویت وروسته لغوه شو. د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري. نوموړی سازمان د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د فاتحو هیوادونو له خوا شکل ونیو.چې د امنیت شورای ددغه سازمان پیاوړی ارګان ګڼل کیږي او د ۵۱ غړو څخه چې ۵ یې دایمي او ددغه شورای په تصمیم نیولو کې د ویټو له حق څخه هم ګټه اخیستونکي دي.

**ب- د ملګرو ملتونو سازمان مقعر**

د ملګرو ملتونو سازمان غړيو هيوادونو له يـوې رايـې اخيسـتو وروسـته د ۱۹۴۶م کال د ديسمبر په ۱۴ نيټه د امريکـا د متحـده ايـالاتو د نيويـارک ښار خپل مقعر وټاکه. چې وروسته جان دي راکيفيلر اوه هکتـاره ځمکـه د ۸.۵ مليون ډالرو په بدل کې د نيويارک د ختـيځ بحـر تـه څيرمـه نومـوړي سازمان ته د تحفې په شکل وړاندې کړه. او تحفه يې د غړيـو هيوادونـو لـه خوا قبوله او په ۱۹۵۲م کال کې يې د تعمير کار پای ته ورسيده.

**ج- د ملګرو ملتونو سازمان رسمې ژبې**

د ملګرو ملتونو سازمان رسمي ژبې عربي، چينايي، انګريزي، فرانسوي، روسي او هسـپانوي ژبــې دي. خـو کـاري ژبــې يــې چينــايې، انګريـزي، فرانسوي، روسي او هسپانوي ژبې دي. اوس لاندې هغو ټکو ته په تفصـيل اشاره کوؤ، کوم چې ددغه سازمان پـه رامـنځ تـه کيـدو کـې ګټـور او مـؤثر تمام شويدي.

**د بين المتحدينو اعلاميه (Inter – Allied Declaration)**

لومړی ګام چې د ملګرو ملتونـو نړيـوال سـازمان د تأسيس لپـاره پورتـه شو، د بـين المتحيـدنو د اعلاميـې صـادريدل وو. دغـه اعلاميـه د ۱۹۴۵م کال د جون د مياشتې پـه (۱۲) نيټـه پـه لنـدن کـې د"سـنت جيمـز" پـه ماڼۍ کې د يوځـای شـويو هيـوادو د اسـتازو لـه خـوا (اسـتراليا، د جنـوبي افريقا اتحاديه، بريتانيا، زلاندنو، کاناډا، د بلجيم پـه تبعيـد کـې هيوادونـه، چک سلواکيا، لهستان، لوګزامبورک، ناروې، هالند، يوګوسلاويا، يونـان، او لـه فرانسـې جنـدرال دوګـل لاسـليک کـړه) او ددې اعلامېـې د لاسـليک وروسته يې ټينګار کاوه، چې د واقعي او تل پـاتې سـولې بنسـټ د نـړۍ د ازادو ملتونو د تيري د خطر د مخنيوي، په اقتصادي او ټولنيزه برخه کی د

ټولو هیوادونو ګډه همکاري ده.

دغه موخې ته د رسیدو په خاطر د سولې او جګړې په وخت کې یو او بل سره د نړۍ د هیوادونو او ازادو ملتونو د همکاریو په پاپله کې ممکنه ده.

**د اتلانتیک منشور (Atlantic Charter)**

د بین المتحیدینو (یوځای شویو هیوادونو) د اعلامیې وروسته کوم ګټور ګام چې د نوموړي سازمان د تأسیس په اړه پورته شو، د اتلانتیک د منشور لاسلیک کول وو. هغه د ۱۹۴۱م کال د اګست د ۱۴ نیټې ملاقات وو. چې د امریکا د متحده ایالاتو د وخت ولسمشر- فرانکلین روزولټ د انګلستان د وخت صدراعظم وینسټون چرچیل له خوا په عرشه ناوې (اطلس اتلانتیک اقیانوس کې واقع ده) کې ترسره شو هغه تړون لاسلیک شو، چې د اتلانتیک په نامه سره یادیږي. دغه منشور په اتو (۸) عمده اصلونو استوار وو. چې آتم اصل یې په لاندې ټکو ټینګار کولو.

تر هغه وخته پورې چې د عامه امنیت په خاطر یو پراخ او دایمي نظام منځ ته نه وي راغلی د هیوادونو بې وسلې کول اړین دي د یوه پراخ او دایمي نظام مفهوم په خپله د اتلانتیک منشور د لاسلیک کوونکو هیوادونو نیت د نړیوال سازمان جوړیدل وو. سره له دې چې دا مطلب په منشور کې نه وو روښانه شوی.

**د ملګرو ملتونو اعلامیه**

د ۱۹۴۲م کال د جنوري په لمړۍ نیټه په جکړه کې د امریکا ور ګډیدل د ۲٦ هیوادونو استازو چې د محوري هیوادونو المان، ایټالیا او جاپان په ضد یې مبارزه کوله. په واشنګټن کې یوه اعلامیه لاسلیک کړه چې د ملګرو ملتونو اعلامیې په نوم سره یادیږي. په دې اعلامیه کې هیوادونو ژمنه کړې وه، چې ټولې پوځي او اقتصادي سرچینې به د

محوري هيوادونو او د هغوي د ملاتړو پر ضد په کار اچوي. او هيڅ يو غړی هيواد به په يوائې توګه له دښمنانو سره سوله نه کوي. د ملګرو ملتونو اعلاميې وروسته غړو هيوادونو يو لړ نورې لزومنامې د نړيوالې سولې او امنيت ټينګښت او د نړيوال سازمان د تشکيل په هکله لاسليک کړې. د دغه لزوم نامو له جملې څخه کولای شو، د ستالين او د پولنډ ولسمشر- سيکوريسکي (Sikorski) ترمنځ په ۱۹۴۲م کال تړون او د انګليس اتحاد، شوروي اتحاد، د جمهوريتونو ترمنځ ۱۹۴۲م دکال د مې د مياشتې د (۲٦) نيټې تړونونه يادولای شو.

همدارنګه په ۱۹۴۳م کال د ډسمبر (۱۷) نيټه د امريکا متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير کرډل هول کانګرس د هغو اقداماتو په ضد چې هيواد به يې په نوي نړيوال سازمان کې د غړيتوب د مخنيويي په خاطر ترسره شوی وو، يوه راډيويي نيوکه وکړه او د نړيوال سازمان د تأسيس مسئله او دغې موخې ته د رسيدو په خاطر يې لارې چارې طرحه کړې. ددې نيوکې په تعقيب د امريکا د استازو مجلس په ۱۹۴۳م کال د ډسمبر په (۲۰) نيټه يوه مشهوره پريکړه چې د "فولبرايټ" په نوم سره ياديږي، د (۳٦۰) موافقو او (۲۹) مخالفو رأيو په وړاندې په تصويب ورسوله. پدې پريکړه کې له کانګرس څخه غوښتنه شوې وه، چې د نوي نړيوال سازمان د تأسيس سره موافقه وکړئ، ددې غوښتنې په تعقيب د امريکا د سنا مجلس د سناتور (تونالي) طرحه ومنله.

**د تهران او مسکو کنفرانسونه**

او بل ګام چې د ملګرو ملتونو سازمان د تأسيس په خاطر پورته شو، د ۱۹۴۳م کال د اکتوبر د مياشتې په ۳۰ نيټه په مسکو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزير (کرډل هول) د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزير

(مولوتیف) د انګلستان (انتوني یدن) په شوروي اتحاد کې د چین لوي سفیر (فوپینګ شونګ) ترمنځ ملاقات وو.

چې ګډونوالو د خپلو متبوع دولتونو څخه د یوه نړیوال سازمان تأسیس د اړتیا غوښتنه وکړه. چې د ټولو سوله دوسته هیوادونو د غړیتوب (لوی او واړه) په اصولو ولاړ وي.

او د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په منظور یې ټینګار کاوه. د ۱۹۴۲م کال د دسمبر په لومړۍ نیټه یعنې یوه میاشت وروسته د مسکو کنفرانس د دریو هیوادونو انګلستان (ویستون چرچیل) امریکا (روزولټ) او شوروي اتحاد(ستالین) ولسمشرانو د تهران په کنفرانس کې ګډون وکړ.

په هغه مسؤلیت باندې یې د سولې د راوستو او د جګړې د مخنیوي په هکله چې د دغه هیوادونو او په ټولیز ډول د ملګرو ملتونو د سازمان په غاړه وي، ټینګار وشو.

**د امبارتن اوکس او یالتا کنفرانسونه**

د ۱۹۴۴م کال د اوړي په پای کې د واشنګټن ډي سي په ویلای کې، چې په امبارتن اوکس باندې مشهور دی، د امریکا، انګلستان او شوروي اتحاد د کارپوهانو یو کمیسیون په ۱۹۴۴م کال د اګست له (۲۱ څخه تر ۲۸) پورې او په همدې کال د دسمبر د ۲۹ نیټې څخه د اکتوبر تر ۷ نیټې پورې یو بل کمیسیون د امریکا انګلستان او چین د کارپوهانو څخه جوړ شو.چې په پایله کې د یوه سند په ترتیب کولو چې ۱۲ فصله یې درلوودل پای ته ورسیدل چې په ټولیز ډول د نووړي سازمان د پام وړ موخې او اصول د هغې اصلي اورګانونه د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په هکله د نظام برقراري د دولتونو ترمنځ اقتصادي او ټولنیزو برخو کې همکاري درج شوې وې. په همدې خبرو اترو کې د نړیوالې

سولې او امنيت ساتنې موضوع د امنيت شورای په غاړه ور واچول شوه، چې له (پنځو لويو ځواکمنو هيوادونو) څخه جوړه شوې وه. ولې د امنيت په شورای کې د رأی ګيرۍ په هکله عدم توافق (د يالتا) غونډې ته پاتې شو. په ۱۹۴۵م کال د فبروري په يوولسمه نيټه په امنيت شورای کې د رأی ګيرۍ د شکل موضوعات د يالتا په کنفرانس کې د فرانکلين روزولټ، چرچيل او ستالين له خوا تر بحث لاندې ونيول شول.

پدې خبرو اترو کې هوکړه وشوه، هغه کنفرانسونه چې د ملګرو ملتونو سازمان په ګډون په ۱۹۴۵م کال کې د اپريل په ۲۵ نيټه په سانسفرانسکو کې دايريږي، چې د سازمان منشور د امبارتن اوکس د کنفرانس د طرحې په بنسټ تيار شي. دغې کنفرانس د چين دولت او د فرانسې د وخت موقت حکومت څخه غوښتنه کړې وه، چې د نورو هيوادونو سره (امريکا، انګلستان او شوروي اتحاد) د سانفرانسکو په کنفرانس کې همکاري وکړي. د فرانسې او چين دولتونو سره د شوروي اتحاد د مشورې په پای کې د منشور وړاندې شوی متن د رأی ګيرۍ په بڼې سره را څرګند شو. د چين دولت ته د ليږل شوي بلنليک سره هوکړه اعلان کړه. ولې د فرانسي دولت يوائې په کنفرانس کې د ګډون موضوع ومنله. پدې باندې ټينګار وشو، چې د سانسفرانسکو کنفرانس ته رابلل شوي هيوادونه د سوله دوستۍ شرط تر څنګ بايد د ۱۹۴۵م کال د مارچ تر لومړۍ نيټې پورې د جاپان او المان په ضد د جګړې اعلان وکړي. او په ۱۹۴۲م کال د جنوري په لومړۍ نيټه (د ملګرو ملتونو د سازمان اعلاميه) يې بايد لاسليک کړې وي. همدارنګه په امنيت شورای کې د رای ګيرۍ شکل هم د سانسفرانسکو په کنفرانس کې ومنل شو. دا موضوع په بلنليک کې هم درج شوې وه.

**د سانسفرانسکو کانفرانس**

دغـې کنفـرانس خپـل کـار د امبـارټن اوکـس او یالتـا د کنفرانسـونو د طرحې پر بنسټ د ملګروملتونو سازمان د منشور د تـدوین او منظـورۍ پـه منظور پیل شو. نوموړی کنفرانس رسـما د نړیـوال سـازمان پـه بـاره کـې د ملګروملتونو کنفزانس نوم ځانتـه غـوره کـړ. د سانسفرانسـکو لـه کنفـرانس وړاندې د منشور د امبارټن اوکس او یالتـا کنفرانسـونو پیشـنهادي مـتن د نړۍ د بیلا بیلو هیوادونو له خوا په انفرادي ډول وڅیړل شو.

د لاتین امریکا د ۲۰ هیوادونو استازو د ۱۹۴۵م کال د فـبروري لـه ۲۱ نیټې څخه د مارچ تر ۸ نیټې پورې د ماکسیکو په ښار کې سره غونډ شول او د یوه پریکړه لیک په ترڅ کـې یـې د ملګروملتونـو سـازمان د منشـور پـه هکله خپل نظرونـه څرګنـد کـړل. ددغـه او نـورو واړو هیوادونـو لـه نظـره د امنیت شورای پنځو دایمي غړو د ویټو حق د ځـانګړي امتیـاز د اصـل سره پــه تضــاد کــې وو.همدارنګــه د ملګروملتونــو د ســازمان د فلســفې سره د سیمیزو سازمانونو د کـار او فعـالیتونو یـو لـړ اوږده بحثونـه راوپـارول. ددې نیوکو سره سره په ۱۹۴۵م کال د جون په ۲۵ نیټه د ملګروملتونو سـازمان منشور د رأیو په اتفاق تصویب شو.

دغـه منشـور د ۱۹ فصـلونو او ۱۱۱ مـادو پـه لړلـو سره تـدوین شـو.او د نړیوالې محکمې د دیوان آساسنامه د منشور د نه بیلیدونکي ضـمیمې پـه عنوان وپیژندل شو.

د ملګرو ملتونو سازمان منشـور د جـون پـه ۲۵ نیټـه د سانسفرانسـکو د اپرآی په تالار کې د رأیـو پـه اتفـاق تصـویب شـو.یوه ورځ وروسـته پـه هغـو تشریفاتي مراسمو کې چې "ورکو سربازانو" په ویـاړ جـوړ شـوی وو، د دوهـم ځل لپاره دغه منشور تأید شو او بلاخره پـه ۱۹۴۵م کـال د اکتـوبر پـه ۲۴

نیټه وروسته له هغې چې امریکا،چین، شوروي اتحاد،فرانسې،انګلستان او اکثره لاسلیکونکو هیوادونو چې د منشور تصویب شوی سند یې تسلیم کړ،لازم الاجرأ شو.عمومي اسامبلې په ۱۹۷۱م کال د اکتوبر په ۳۱ نیټه د یوې قطعنامې په ترڅ کې د اکټوبر په ۲۴ نیټه رسماً د ملګرو ملتونو د ورځې په نوم ونوموله (۸۵،۸۱:٦).

## دویم څپرکی

### الف- د ملګرو ملتونو سازمان موخې او اصول

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان منشور په اصل کې د نوموړي سازمان تشکیل کوونکي وو. چې د سازمان ټول مقاصد، اهداف او اصول پکې بیان شوي وو. او همدارنګه د ټولو غړیو هیوادونو حقوق او تعهدات تعینوي. د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان موخې او اصول د منشور په لومړۍ ماده کې داسې بیان شویدي.

- د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه ددغه سازمان یوله مهمو موخو څخه شمیرل کیږي. ددغه مطلب د لاسته راوړلو لپاره د ټولو ټولنیزو اغیزمنو اجراعاتو اختیارول، چې سوله او امنیت د ناحقه خطرونو، تېریو، یرغلونو او نورو سوله ماتوونکو کړنو مخه ونیول شي، او د سولې په دایره کې د نړیوال قانون سره سم د عدالت په بنسټ د هغو نړیوالو شخړو او د هغه د شکلونو په هکله چې سوله او سلامتي له منځه وړي، د هغو په برخه کې دې خبرې اترې وشي.
- د نړیوال اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او هغو مسائلو د پریکړو په غرض چې د انسان دوستۍ لپاره وي، د نړیوالې مرستې د لاسته راوړلو او د توکم، جنس او مذهب له توپیر پرته د انساني حقوقو درناوی او دغه ډول په ټولو انسانانو کې د ازادۍ او استقلال حس او مینه پیداکول.
- د ملګرو ملتونو د خپلواکۍ او مساوي حقوقو ته درناوی، د قومونو تر منځ د دوستانه اړیکو ټینګول او د نړیوال امنیت د ساتلو او ټینګولو لپاره د مناسبو لارو غوره کول.
- ددغه ګډې موخې د لاسته راوړلو لپاره د ملتونو او دولتونو په اجراعاتو کې د همغږۍ راوستلو په خاطر د یوه مرکز ټاکل.

**ب- د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصول**

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د دوهمې مادې په اساس، په لاندې ذکر شویو اصولو عمل کوئ.

۱: سازمان د ټول غړیو هیوادونو د تساوي حاکمیت پر اصل استوار دی.

۲: ټولو هغه غړیو هیوادونو چې د منشور تعهدات قبول کړي، باید په حسن نیت یې لازم اجرأ کړي.

۳: د سازمان د غړیو هیوادونو نړیوال اختلافات باید د خبرو اترو له لارې حل او فصل شي.

۴: د سازمان غړي هیوادونه باید له ټولو هغو اختلافي مقرراتو چې په منشور کې یې یادونه شوې جدا او ځان وساتي.

۵: ټول غړي هیوادونه باید د سازمان له هغه عمل سره همغږي او همکار وي، کوم چې په منشور کې ذکر شوي دي.

٦: سازمان باید د هیڅ یو غړي هیواد په داخلي چارو کې مداخله او لاسوهنه ونه کړي.

په عمومي توګه ملګرو ملتونو سازمان اصولو ته په پاملرنې له لاندې دوو قاعدو څخه کار اخلي.

۱: د نړیوالو شخړو په هواري کې د زور له قوې څخه کار اخیستل د دولتونو مانع کیدل.

۲: د نړیوالو شخړو په سولییز هواري کې د ښکلیلو دولتونو لخوا د الزامي قاعدو رامنځته کول (۱۷:۱۲،۱۳).

**ج- د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان جوړښت (ترکیب)**

په تاریخي لحاظ کولای شو چې، د ملګرو ملتونو سازمان غړي په دوه برخو وویشو.

۱ اصلي یا مؤسس غړي

۲ نوي غړي

**۱ اصلي یا مؤسس غړي:** د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصلي یا اولني غړي ددې سازمان د مؤسسو غړو په عنوان (۵۱) هیوادونه وو. چې د سانسفرانسکو په کنفرانس کې یې ګډون کړی وو. او مخکې له هغې د ملګرو ملتونو اعلامیه لاسلیک او تصویب کړې وه.

او د محوري دولتونو (المان، جاپان او ایټالیا) پرضد یې د جګړې اعلان کړی وو.

ددغه مؤسسو دولتونو له جملې ایران، ترکیه، عراق، مصر او سوریه یادولی شو. د ملګرو ملتونو سازمان د غړو په هکله د منشور په دریمه ماده کې داسی لیکل شوي دي.

[د ملګرو ملتونو سازمان لومړني او اصلي غړي هغه هیوادونه وو، چې د ملګرو ملتونو په هکله، د سانسفرانسکو ښار په جوړ شوي کنفرانس کې یې ګډون کړی وو. او لا پخوایې د ملګرو ملتونو اعلامیه باندې لاسلیک کړی وو. چې په ۱۹۴۲م کال د جنوري په لومړۍ نیټه خپره شوې وه. او هغه هیوادونه چې برسیره ددغې اعلامیې په لاسلیکولو یې تر (۱۱۰) مادې لاندې په هغو باور کړی وو.]

ټولو سوله دوستو هیوادونو کولای شول، چې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړي. خو په دې شرط چې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د اعلامیې ټول شرطونه په ځان ومني. او مسولیتونه یې پرغاړه واخلي. او د اجرأ لپاره یې چمتو وي. د ملګرو ملتونو په نړیوال سازمان کې د دا ډول هیوادونو ګډون د امنیت شورای په سپارښتنه او د عمومي اسامبلې په تصویب سره ترسره کیږي(۱۷:۱۴،۱۷).

**۲- نوي غړي:** د ملګرو ملتونو نوي غړي هغه هیوادونه دي، چې د نوموړي سازمان له تأسیس وروسته یې عضویت ترلاسه کړی. د ملګرو ملتونو

سازمان د منشور په اساس د نويو غړو او اصلي يا مؤسسو غړو ترمنځ هيڅ کوم فرق وجود نه لري. اما فقط په تاريخي لحاظ دغه فرق شتون لري.

د نويو غړو د منلو لپاره د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان د منشور په څلورمه ماده کې څلور شرطونه په ګوته شويدي.

۱ د دولت په څېر(دولت بودن) ۲ سوله دوستي ۳ په منشور کې د درج شوو ژمنو منل ۴ په منشور کی د درج شوو ژمنو د پلي کولو د وړتيا او توانايی درلودل. پورته شرطونه په لاندې ډول په تفصيل سره بيانوو!

**۱ د دولت په څير:** په نوموړي سازمان کې د غړيتوب لومړی شرط د دولت په څير يا دولت بودن دی. پدې معنا چې متقاضي دولت به د غړيتوب د لاسته راوړلو په خاطر په خپل کورني او بهرني سياست کې د کامل استقلاليت څخه برخمن وي.

د دولت اصلي ځانګړتيا په دوو دلايلو د هغې (خپلواکي) ده چې عبارت دي له:

- ❖ د غړو دولتونو د حاکميت د برابری اصل (۲ ماده، لومړی فقره). څه ډول چې دولت له بشپړې خپلواکی څخه برخمن نه وي، نشي کولای د سازمان د نورو غړو په نسبت چې بشپړې خپلواکی لري د مساوي حاکميت لرونکي وي.
- ❖ د منشور په (۴ ماده، لومړی فقره) کې د مندرجو ژمنو د اجراعاتو توانايي او وړتيا،هغه دولتونه چی د دولت په څير نه وي، او د سياسي خپلواکی څخه برخمن نه وي. قطعا نه شي کولای هغه ژمنې چې منشور په دولتونو باندې د هغوی د رعايت کول لازم کړي دي، ترسره کړي لکه د نورو هيوادونو سره سياسي او اقتصادي همکاری د ملګرو ملتونو سازمان د موخو د ترسره کولو لپاره بل هيواد ته د پوځونو ليږل.
- ❖ استثنا: دغه استثنا د ملګرو ملتونو په سازمان کې د اوکراين او بلا

روسیې په هکله وه هرڅومره چې شوروي اتحاد د ۱۹۴۴م کال د فبروري د میاشتې اصلاح شوی اساسي قانون ټولو جمهوریتونو ته حق د ملګرو ملتونو په سازمان کې د پورته اوو جمهوریتونو غړیتوب یوه سیاسي پریکړه وه. چې د یالتا په کنفرانس کې د روزولټ په هوکړه ترسره شویوه. چې دا په عمل کې د لوی شوروي اتحاد لپاره د ملګرو ملتونو په سازمان کې د یوې رایې پرځای د دریو رایو حق ورکول وو. چې د بهرنۍ نړۍ سره خپلې دیپلوماتیکې اړیکې وساتي، دا عمل د ملګرو ملتونو د سازمان خلاف ګڼل کیدو.

۲ **سوله دوستي:** دا شرط د ملګروملتونو سازمان د غړیتوب غوښتوونکي دولت د سیاسي رژیم په ماهیت پورې تړاو لري. په دې معنی چې غړیتوب غوښتوونکي دولت نه باید د تیري کولو مفکوره ولري، بلکې د بهرنیو اړیکو درلودل باید د سولې د اصولو پر بنسټ ولاړ وي. له یاده باید ونه ایستل شي، چې د سوله دوستۍ صفت باید هغه دولتونه چې د محوري دولتونو (آلمان،جاپان، او ایټالیا) په ضد یې د جګړې اعلان کړی وو، کار واخیستل شي. چې دغه شرط په خپل ذات کې حقوقي نه بلکه سیاسي شرط دی.

۳- **په منشور کې د درج شوو ژمنو منل:** د هر دولت لپاره چې، د ملګرو ملتونو سازمان غړیتوب لاسته راوړي. لومړی اقدام بلل کیږي. ځکه چې د حقوقو او مکلفیتونو قبلول د ملګرو ملتونو سازمان په ګټه دي. د سازمان دغه شرط هم یو سیاسي شرط دی.

۴ **په منشور کې د درج شویو ژمنو د پلي کولو توانایي او وړتیا:** دامنیت شورای او عمومي اسامبلې له خوا هغه مشخص شوي، چې په لاندې ډول ورباندې بحث کوو.

### د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړيتوب د لاسته راوړلو اصول

ملګرو ملتونو ته د نويو غړو منل عمومي اسامبلې ته د امنيت شورای په سپارښتنه او ددې اسامبلې په تصويب ترسره کيږي(۴ ماده دوهمه فقره).

عمومي اسامبله د ۳/۲ مثبتو رأيو په اکثريت د غړيتوب غوښتنليکونه مني. د ملګرو ملتونو سازمان د غړو د منلو قانون نسبت ملتونو ټولنې ته پيچلی دی. د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نويو غړو منل د عمومي اسامبلې په پريکړه پورې اړه لري. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو سازمان، امنيت شورای د ويټو حق څخه برخمنه ده. د يادولو وړ ده، چې د" سپارښتنې" کلمه په پورته ذکر شوې ماده کې په همغه معنا ده. کومه چې په (۱،۱۲،۱۴،۳۷،۳۸) او نورو مادو کې منظور شويده. دلته" سپارښتنه" يوه رأيه او ساده مشورتي نظرنه دی. چې حقوقي ارزښت ونه لري. بلکه په دقيقه توګه د يوې پريکړې په معنا کارول کيږي.

د نويو غړو د غړيتوب په هکله د رأی ګيری روش د څيړنې موضوع په امنيت شورای کې د (کيفي اکثريت) په بڼه ترسره کيږي. چې دا روش ددې سبب کيږي، چې د امنيت شورای دايمي غړي عملا د ويټو له حق څخه برخمن کيږي. د ۱۹۰۰م کال پورې شوروي اتحاد (۴۷) ځله د نويو (۱٦) هيوادونو د غړيتوب په هکله د ويټو له حق څخه کار اخيستی وو. د ۱۹۵۱م کال نه تر ۱۹۵۴م کال پورې د ملګرو ملتونو سازمان ته د نورو هيوادونو د غړو په توګه منل د بحران سره مخ وو. ولې د حالاتو د بدلون له امله دغه بحران تر يوه حده پورې په ۱۹۵۵م کال کې هوار شو. دغه نويو هيوادونو ته د ملګرو ملتونو غړيتوب ورکړل شو.

### د ملګرو ملتونو په نړيوال سازمان کې د غير غړو دولتونو حالات

د ملګرو ملتونو سازمان د غير غړو دولتونو حالاتو ته په پاملرنې سره ځانګړي مقررات وضع کړي چې هغه عبارت دي له:

**I. د غیر غړو دولتونو لخوا په منشور کې د درج شویو اصولو او مقرراتو مراعات کول:**

د منشور د (۲ مادې او ٦ فقرې) سره سم (دغه سازمان به څارنه وکړي، هغه هیوادونه چې د ملګرو ملتونو سازمان غړي نه وي، تر هغه ځایه چې موضوع د نړیوالې سولې او امنیت په ساتنه پورې اړه ولري، ملګري ملتونه کولای شي له اصولو سره سم عمل وکړي).

**II. د ملګرو ملتونو په اړوند د غیر غړو دولتونو ستونزو ته قضایي لاس رسی:**

د منشور د(۳٦) مادې سره سم (هر دولت چې د ملګروملتونو سازمان غړیتوب نه لري، هر کله چې غیر غړی هیواد د ستونزې یو لوری وي، چې په امنیت شورای کې ورلاندې بحث کیږي، کولای شي پرته د رأی ورکولو له حق څخه په خبرو اترو کې ګډون وکړي. امنیت شورای به د غیر غړی دولت د عادلانه ګډون په موخه شرایط وضع کړي.

پورتني مقررات د غیر غړي دولت د حقوقو ضمانت، د ځان او د بیان د څرګندولو څخه دفاع کوي. په دې ترتیب هیڅ دولت له ځان څخه د د فاع او د ملګروملتونو سازمان له قضاوت څخه پرته قرار ولري. د امنیت شورای کورني قوانین هم اجازه نه ورکوي، چې د غیر غړو هیوادو استازي دې د توضیحاتو د ورکولو لپاره امنیت شورای ته را احضار کړي.

د نړیوالې قضایي رویې پر بنسټ د ملګروملتونو سازمان نړیوال حقوقی شخصیت پر غړو هیوادو باندې هم تحمیل کیږي. او سازمان کولای شي د غیر غړي هیواد پر ضد دعوای وکړي.(دلاهه د ۱۹۴۹م د اپریل د ۱۱ نیټې مشورتي رأیې) له مخې د عمومي اسامبلې پریکړې په غړو او غیر غړو هیوادو باندې د مراعات وړ دي.

(د ۱۹۷۱م کال د جون د ۲۱ نیټې د نامیبیا د قضیې په هکله د لاهه

د دیوان مشورتي رایه) همدارنګه د ملګروملتونو سازمان (۳۵ ماده،دوهمه فقره) حکم کوي.

(هغه دولتونه چې د ملګروملتونو سازمان غړیتوب نه لري، د داسې شخړې په هکله چې نوموړی مدعي یا مدعي علیه وي امنیت شورای ته خبر ورکولای شي خو په دې شرط چې نوموړی دولت مخکې له دې چې ملګروملتونو امنیت شورای ته خبر ورکړي. د ذکر شوې شخړې په اړه هغه حکمونه ومني، کوم چې د ملګروملتونو په اعلامیه کې د دا ډول شخړو د هوارې په هکله ذکر شوی دی)(۱۷:۲۲).

له دې پرته د ملګروملتونو سازمان منشور(۵۰ ماده) حکم کوئ، (هغه وخت چې د امنیت شورای د یوه دولت په خلاف بندیرونه ولګوئ او یا کوم نور عملي اجراءت وکړئ، نو په کوم بل دولت چې د ملګروملتونو غړی وي او یا نه وي،که چیرې دغه بندیزونه د دریم دولت په اقتصاد کې کومې ستونزې را ولاړې کړي، نو دغه دریم دولت کولای شي ددغه ستونزو په هکله د امنیت شورای سره مستقیمې خبرې وکړي)(۱۷،۲٦:).

**III. د کوچنیو هیوادونو حالات:**

د کوچنیو دولتونو د غړیتوب مسئله د ملګرو ملتونو په سازمان کې یوه لویه ستونزه بلل کیده. ځکه هغه هیوادونه چې کوچنی جغرافیوي مساحت یې درلود او کم نفوسه وو. لکه باربادوس چې ۴۳۰ کیلو متره مربع مساحت او ۲۵۰ زره نفوس یې درلود. په ۱۹٦٦م کال او د مالدیف جزیره چې ۳۰۰ کیلو متره مربع مساحت او ۱۱۰ زره نفوس یې درلود، ۱۹٦۵م کال کې د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړ. دا موضوع د ملګرو ملتونو په ټولنه کې د بحث وړ نه وه. ځکه چې ملتونو ټولنې واړو (میکرو) هیوادونو ته د غړیتوب له ورکولو څخه ډډه کوله.

داچې کوچنیو هیوادونو ته د غړیتوب د ورکولو لپاره (د خاورې او نفوس په لحاظ) هیڅ ډول معیار وجود نه درلود. ولې د ملګرو ملتونو روش د ملتونو ټولنې له روش سره توپیر لري، د ملګرو ملتونو سازمان تمایل دادی، چې ټول هیوادونه د حاکمه واک لرونکي دي. پرته له دې چې څومره نفوس او خاوره لری، کوچنی دی او که لوی، کولای شي چې وړاندې ذکر شویو شرطونو په لرلو سره د ملګرو ملتونو سازمان غړیتوب ترلاسه کړي. د (۱۹۸۴-۱۹۷۳) میلادي کلونو ترمنځ (۲۶) هیوادونو د ملګرو ملتونو سازمان د نویو غړو په توګه ومنل شول. او (۸) هیوادونه د هغو هیوادونو له جملې څخه وو، چې یو ملیون نفوس یې درلود. او د کوچني قلمرو لرونکي وو.

په هر حال د امریکا د ۱۹۶۹م کال وړاندیز سره سره چې کوچنیو هیوادونو ته د غړیتوب ورکول (په عمومي اسامبله کې د رایې د حق پرته) ولې د هغې په بدل کې د ونډې او حق العضویت څخه د معاف کیدو په صورت کې ترسره شول. (۱۱:۷.۱)

**د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب انتها**

د متقضي دولت غړیتوب په لاندې دوو طریقو په ملګرو ملتونو سازمان کې پای ته رسیږي.

۱: له سازمان څخه خروج (وتل) ۲: له سازمان څخه اخراج (ایستل).

له سازمان څخه وتل: د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان په خپل منشور کې د متقضي دولت د خروج په هکله د کومو مقرراتو وړاندوینه نه ده شوې، ځکه د منشور د تدوین او تنظیم د جریان په وخت کې ځینو دولتونو مخالفت ښودو له دې کبله د منشور مسوده لیکوونکو دغه موقف اختیار کړی وو.

په هر حال لکه څرنګه چې په منشور کې پدې اړه د احکامو صراحت نه وو شوی، خو دولتونو کولای شوای چې د غړیتوب په استسمار کې له سازمان څخه ووځي.

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د تأسیس له نیټې څخه تر اوسه عملا یوځل د وتلو پیښه رامنځ ته شوې ده. هغه هم د اندونیزیا دولت وتل له سازمان څخه د ۱۹٦۴م کال د ډسمبر په ۳۱ نیټه چې دلیل یې د مالیزیا دولت غړیتوب په امنیت شورای کې د معوقه وجوه له ورکړې وروسته له سازمان څخه ویستل شو.

خو له یو کال څنډ وروسته نوموړی دولت د ۱۹٦٦م کال د سپتمبر په ۲۲ نیټه خپله همکاري یو ځل بیا له دغه سازمان سره پیل کړه.

له سازمان څخه ایستل (اخراج): د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د منشور په شپږمه ماده کی د دولت د ایستلو اخراج په اړه داسې طریقه وړاندې کوي.

((د ملګرو ملتونو هر غړی، کله چې د منشور له مندرجو اصولو څخه سرغړونه وکړي د عمومي اسامبلې په واسطه د امنیت شورای په سپارښتنه له سازمان څخه ویستل کیږي))

د پورتنۍ مادې پر اساس د سازمان غړی دولت په هغه صورت کې ایستل کیږي. چې په منشور کې د مندرجو اصولو څخه په مکرر ډول سرغړونه، او عمومي اسامبله د امنیت شورای په سپارښتنه د (۳/۲) رأیو په قرار د نوموړي دولت ایستل (اخراج) صادر کړي.

## دریم څپرکی

## د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصلي ارګانونه

د سازمان منشور (۷) ماده د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان اصلي ارګانونه داسې معرفي کړیدي«(۱) اصلي ارګانونه عبارت دي له:عمومي اسامبله، امنیت شورای، اقتصادي او ټولنیزو چارو شورا، قیمومیت شورای، د نړیوالې محکمې دیوان، او دارلانشا (۲) عرفي ارګانونه: که یې اړتیا تر سترګو شوه، امکان لري، پرطبق د منشور تأسیس شي».

د امنیت شورای: د امنیت شورای، د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان یو له اصلي او اساسي ارګانونو څخه ګڼل کیږي. چې د منشور د (۲۴) مادې پر اساس د نړوالې سولې او امنیت د ساتنې مسؤلیت په غاړه لري.

د منشور د پورتنۍ مادې له څیړلو داسې بریښي (چې د منشور د مسودې لیکوونکو عمدا د امنیت شورای د ملګرو ملتونو سازمان له مهمو ارګانونو څخه ګڼلې ده).

د یادولو وړ ده چې امنیت شورای ته د پورته مسؤلیت سپارل د «امبارتن اوکس» په کنفرانس کې طرحه شوي وو. دغه طرحه د لویو واکمنو دولتونو لخوا په داسې حال کې چې دوهمه نړیواله جګړه روانه وه، د یوه نړیوال سازمان د تأسیس په ابتدایي حالت کې وړاندې شوه. په واقعت کې هر هغه څه چې د ملګرو ملتونو د سازمان په ابتدایي حالت کې د امنیت شورای په چوکاټ کې یې وړاندوینه شوې وه. د یوه اجرایوي ارګان جوړیدل چې عمل وکړي. او هغه وخت چې نړیواله صلحه او امنیت له خطر سره مخ کیږي. چټک اقدام او تصمیم نیسي.

د امنیت شورای ارزښت: د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د امنیت شورای ارزښت کولای شو چې په لنډو ټکو کې وړاندې کړو.

۱. د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې وظیفه چې د ډیرو مهمو او اولی وظایفو څخه ده. د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان یې په غاړه لري.
۲. د امنیت په شورای کې د دایمي نړیوالو ځواکمنو قدرتونو غړیتوب،.
۳. د امنیت شورای په تصمیم نیونه کې د ویټو له حق څخه کار اخیستل. او په نړیوال عمومي وضیعت یې اغیز.
٤. د عمومي اسامبلې مهم تصمیومونه لکه، متقضي- دولتونو ته د غړیتوب ورکول، د غړو دولتونو تعلیق او ایستل له سازمان څخه، د عمومي منشي ټاکل او داسې نور، د امنیت شورای له تصمیم نیونې وروسته صورت نیولای شي.

**الف: د امنیت شورای جوړښت (ترکیب)**

امنیت شورای د ملتونو ټولنې په شان د دولتونو یو محدود انجمن دی، ولې د هغې غړي په دوو ډلو ویشل کیږي. (دایمي او غیر دایمي غړي) د منشور د (۲۳) مادې سره سم امنیت شورای د ملګرو ملتونو سازمان له (۱۵) غړو څخه متشکله ده. د چین ولسی جمهوریت، فرانسه، روسیه، انګستان، او د امریکا متحده ایالات په امنیت شورای کې دایمي غړي بلل کیږي.

دایمي غړي د دایمي غړیتوب څخه پرته یو بل ځانګړی امتیاز (ویټو حق) څخه هم برخمن دي، ذکر شویو هیوادونو ته ددې امتیاز ورکولو اصلي علت د پروفیسور (جساف) په قول د امنیت شورای د نورو غړو سره اختلافات اوج ته رسیدلی وو.

یا په بل عبارت د نړیوالی سولې او امنیت مسؤلیت په اوله درجه کې د امنیت شورای د دغو دایمي غړو لخوا په اوږه باندې ایښودل شوي وو. او پدې باره کې تصمیم نیول باید همدغو هیوادونو پرغاړه وي. د دغو هیوادونو د امنیت شورای د دایمي غړو په توګه ټاکل، چې په ۱۹۴۵م

کال کې د یوه (انکار نامنوونکي حقیقت) په توګه تلقي شي. د امنیت شورای د دایمي غړو په توګه د دغو پنځو غړو ټاکل په نړیواله کچه د قدرتونو د سیاسي اړیکو پر بنسټ ترسره شوي دي.

په اوسنیو شرایطو کې چې په نړیواله سطحه نور لوی قدرتونه پیداشوي دي د امنیت شورای په جوړښت کې باید بدلون راشي. له همدې امله یو لړ هیوادونه په جدي توګه د امنیت شورای د غړو د زیاتوالي غوښتنه کوي. هغه هیوادونه چې د امنیت شورای د دایمي غړو په توګه باید وپيژندل شي، عبارت دي له جاپان، المان، مخ پر وده هیوادونه لکه هند او برازیل. سره له دې چې د امنیت شورای په دایمي غړو باندې له سره کتنه نه ده شوې، ولې د غیر دایمي غړو په هکله بدلونونه او اصلاحات رامنځ ته شویدي.

په ۱۹۴۵م کال کې د دایمي غړو شمیر پنځه (۵) هیوادونه او د غیر دایمي غړو شمیر یې (٦) هیوادونه، چې جمله د امنیت شورای د غړو تعداد (۱۱) هیوادو ته رسیدو، او غیر دایمي غړي د (۲) کلونو لپاره ټاکل کیدل. په ۱۹٦۳م کال د ډسمبر په (۱۷) نیټه د عمومي اسامبلې له خوا د منشور د (۲۳) مادې پر بنسټ یو لړ بدلونه رامنځ ته شول. دغه بدلونونه او اصلاحات په ۱۹٦۵م کال کې لازم الاجرأ وګرځیدل. دغه اصلاحات پرته له دې چې د دایمي غړو په ترکیب کې بدلون راوړي د غیر دایمي غړو شمیر یې له (٦) غړو څخه (۱۰) غړو ته پورته کړ.

پدې ترتیب د امنیت شورای د غړو شمیر له (۱۱) غړو څخه (۱۵) غړو ته پورته شو. د ملګرو ملتونو سازمان د غړو تعداد ته په پاملرنې سره په ۱۹٦۳م تر ۱۹۷۳م کلونو کې له (۱۱۲) څخه تر(۱۳۵) غړو او په (۲۰۱۰) کال کې (۱۹۳) غړو ته پورته شو.

غیر دایمي غړي د جغرافیوي اصل پربنسټ د عمومي اسامبلې له خوا

د (۳/۱) رأیو په اکثریت صورت مومي، چې لاندې معیارونه باید ولري.

۱. د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې او د سازمان د نورو موخو سره مرسته.

۲. د جغرافیایي اصل پر بنسټ د امنیت شورای د کرسیو عادلانه ویش. د عمومي اسامبلې د ۱۹۶۳م کال د ډسمبر د (۱۷) نیټې(۱۸/۱۹۱۹) ګڼې قطعنامې پر بنسټ د ۱۹۶۵م کال د سپتمبر د لومړۍ نیټې څخه وروسته امنیت شورای ته ددې (جغرافیایي اصل) په اساس لازم الاجرأ وګرځید، چې په لاندې بڼه د غیر دایمي غړو په برخه کې بدلونونه رامنځ ته شول:

أ. اسیا او افریقا دولتونو څخه (۵) غړي.

ب. د لاتین امریکا دولتونو څخه (۲) غړي.

ج. د شرقي اروپا دولتونو څخه (۱) غړی.

د. د لویدیځ اروپا دولتونو څخه (۱) غړی.

ه. د اقیانوس او نورو دولتونو (کاناډا، نوی زیلانډ او نورو څخه) (۱) غړی.

د منشور د (۳۱) مادې د حکم له مخې په شورای کې د دایمي او غیر دایمي غړو پرته د ملګرو ملتونو سازمان نور غړي چې د امنیت شورای غړیتوب هم نه لري، د رای د حق پرته د مسائلو پر سر باندې ټولو بحثونو کې کولای شي ګډون وکړي، په دې صورت کې چې امنیت شورای ذکر شوي مسائل د مطلب غړي په توګه وبولي، ګډون وکړي.

همدارنګه د منشور د (۳۲) مادې د حکم له مخې هغه هیوادونه چې بالکل د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان غړیتوب نه لري، کولای شي چې د رای حق پرته په هغو خبرو اترو کې ګډون وکړي، چې نوموړی هیواد له هغوي سره دلچسپي ولري.

**د امنيت په شورای کې رأی ګيري**

د امريکا د متحده ايالاتو د ۱۹۴۴م کال د ډسمبر د (۵) نيټې د هغه وړانديز سره سم چې د يالتا په کنفرانس کې وړاندې شوي وو، او د منشور د (۲۷) مادېد حکم سره سم د امنيت په شورای کې رأی ګيري تنظيم شويده. د ملتونو ټولنې پرخلاف بې هلته ټولې پريکړې د رأيو په اتفاق ترسره کيدې.

د امنيت شورای (د مسائلو په اړوند د کار قانون) د عمومي سامبلې د ۱۹۶۲م کال قطعنامې چې د منشور (۲۷) ماده او په دوهمه فقره کې يې بدلون راوست. په ۱۹۶۵م کال کې لازم الاجرأ شو.

ددې شورای اکثره پريکړې د (۹) مثبتو رأيو (پرته له دايمي او غير دايمي غړو) په ورکولو سره تصويبوي. منشور د کار قانون په اړوند مسائل ندي مشخص کړي او په دي برخه کې د امنيت شورای او په لاندې مواردو کې د کار د قانون اجزاوې بللی شو:

د غونډو د تشکيل اړوند مسائل، د کار د دستورونو ټاګل، د شورای د رئيسانو ټاګل، په شورای کې د سازمان د غړو ګډون، د شورای په کارونو کې د ګډون لپاره د نورو دولتونو او اشخاصو رابلل، د عمومي غونډو د تشکيل دستورونه، د يوه هر اړخيز ګنفرانس تشکيلول او په منشور باندې د سره کتنه په ۱۹۴۵م کال د سانسفرانسکو په کنفرانس کې يوه تفسيري لايحه دايمي غړو تأيد کړه.

پدې لايحه کې روښانه شوې وه، چې د امنيت شورای په دستورونو کې د هرې مسئلې ثبت په خپله د امنيت شورای د کار جز بلل کيږي.

په همدې دليل سره د امنيت شورای هيڅ يو غړی د ويټو حق څخه په ګټې اخيستنې سره، په امنيت شورای کې دې داډول مسئلو د طرحه

کیدو خنډ شي. د (کارقانون پرته نور مسائل) د اکثریت رأیو (۱۵/۹) په داسې حال کې چې هیڅ یو د دایمي غړو څخه منفي رأیه ورکړي، صورت مومي په دا ډول مسائلو کې که چیرې (۱۴) هیوادونه مثبته رأیه ورکړي او یو دایمي غړی منفي رأیه ورکړي پریکړه نه شي تصویب کیدای او په واقعت کې دې عمل ته د ویټو عمل وایي.

**د امنیت شورای د یوه غړي له رأیې ورکولو څخه ډډه کول او د هغه حقوقي اغیزې**

د یوه غړي له رأی ورکو څخه ډډه کول (ویټو) په بڼه نه تلقي کیږي. او صادره شوې قطعنامه د یوه دایمي غړي د ممتنع رأیې په بڼه تلقي کیږي. د نورو قطعنامو حقوقي الزامي اغیزې د ځان سره لري.

د یوه مسئلې پر سر د یوه دایمي غړي له خوا د رأی ورکولو څخه ډډه کول د لومړي ځل لپاره د امنیت شورای په (۳۹) غونډه کې د هسپانیې په قضیه کې د شوروي اتحاد لخوا وکارول شوه نوموړی هیواد په ذکر شوې قضیه کې ممتنع رأیه وکاروله.

شوروي اتحاد دا استدلال کولو چې د رأیې څخه د ممتنع په بڼه ډډه کول د پریکړې د ویټو کولو په معنا نه وه، دغه دریځ د ټولو هیوادونو د تائید وړ وګرځید.

د ۱۹۴٦م کال د اپریل په (۲٦) نیټه د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د ارام اقیانوس د جزیرو د ستراتیژی تائید، د ۱۹۴۷م کال د اپریل په (۹) نیټه نړیوالې عملیبته د (کورفو) د قضیې راجع کول، په ۱۹۴۹م کال د مارچ په (۵) نیټه د ملګرو ملتونو په سازمان کې د اسرائیلو د غړیتوب موضوع په سر د امنیت شورا د یو لړ دایمي غړو له خوا د رأیو ورکولو څخه ډډه وشوه. د امنیت شورای د یو دایمي غړي له خوا د ممتنع رأیې کارول، همیشه دا ډول تفسیریږي، چې د شورای د پریکړو په تصویب کې هیڅ

ډول خنډ نه رامنځ ته کیږي. دا ډول روش د ملګرو ملتونوو سازمان د ټولو غړو له خوا د منلو وړ وګرځید. د سازمان د ټولو غړو د ټولنیز عمل په توګه بلل کیدو. که چیرې د (۲۷) مادې د دریمې فقرې سره په ټکر کې نه وي د ویټو حق د کارونې د ویټو د دایرې د پراختیا د محدودولو په معنا نه وي(۱۲:۱۱٦،۱۲۲).

**د امنیت شورای دندې او اختیارات (صلاحیتونه)**

د ملګرو ملتونو منشور له (۲۴-۲٦) مادې د امنیت شورای دندې بیان کړیدي، د پوتنیو مادو له مخې د امنیت شورای اصلي دنده د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه ده. د سازمان ټولو غړو منلې ده، چې د امنیت د درلودلو کوم مسؤلیت یې چې په غاړه دی د غړو له خوا وربانډې عملي کیږي. د پورته ذکر شوې دندې پرته امنیت شورای مؤظفه ده، چې د ملګرو ملتونو د سازمان د موخو او اصولو په چوکاټ کې فعالیت وکړي یاپه بل عبارت دغه فعالیتونه او اقدامات باید په منشور کې درج شوي وي او خپل سري اقدامات ترسره نه کړي. د منشور د (۲۵) مادې سره سم د ملګرو ملتونو سازمان ټولو غړو هوکړه کړې، چې د امنیت شورای ټولې پریکړې به قبولې او د منشور په رڼا کې به یې اجرأ کوي.

د نوموړې مادې څخه داسې معنا اخیستل کیږي چې د ملګرو ملتونو سازمان غړو یواځې د امنیت شورای د پریکړو د اجرأ سره موافقه کړې او سپارښتنلیکونه په بر کې نه نیسي.

د هغه ستونزو او اختلافاتو په سولییز هواري کې لاسوهنه کولای شي، چې نړیوالې سولې او امنیت ته خطر متوجه کوئ، (د منشور سپږم فصل).

قهرجنه لاسوهنه او د جبري روشونو غوره کول (هغه وخت صورت نیسي چې شپږم فصل کړې نتیجه ورنکړي).

الف: د ستونزو سوليېز هـواری، د قـانون اړونـد مقـررات، چـې د نړيوالـو شخړو سوله ييز هواری دی چې د منشور په شـپږم فصـل کـې ورتـه اشـاره شويده، چې د شپږو مادو لرونکی دی.(۳۸-۳۳) مادو پوری.

په بنسټيزه توګه امنيت شورای ته په هغه شخړو کې د لاسوهنې اجـازه ورکوي چې د نړيوالې سولې او امنيت ته خطر متوجه کوي. امنيت شورای دا ډول شخړو هـواري تـه د سـوله ييـزو ميتودونـو لـه لارې رسـونه کـوي. د منشور د (۳۳) مادې د سـتونزو د هـواري لپـاره سـنتي ميتودونـو تـه شـاره کوي، د شخړو دواړه خواوې که چيرې په دې پوه شي، چې د شخړې دوام نړيوالې سولې او امنيـت تـه خطـر اړوي بايـد د هغـه لارو چـارو څخـه کـار واخلي کومې چې د منشور په ذکر شويو مادو کـې ورتـه اشـاره شـويده. (د هغه شـخړې مـدعي او مـدعي عليـه چـې د دوي د شـخړو دوام د نړيـوالې سولې او امنيت ساتنې لپاره خطر پيداکوي، بايد په لومړي سر کـې ددغـه شخړو د خـبرو اتـرو، تفـاهم او د شـخړو د هـواري د منځګړيتـوب د عـدلي پريکړې په وسيله او يا د سيميزو څانګو پـه مرسـته، يـا هـم هغـه ډول چـې ددوي خوښه وي يا په نورو امني وسائلو باندې هـوارې کـړي او يـا دا چـې کله امنيت شـورای يـې لازمـه وګڼـې دواړو خـواوو تـه د پورتنيـو وسـائلو پـه مرسته د شخړې د هواري په موخه منطقي امر کولای شي(۱۵:۱۲۳).

ب: نور سوليېز وسائل:

۱: واکمن مقامات پرته له پروتـه ذکـر شـويو سـنتي روشـونو کـولای شي د نړيوالو شخړو د هواري په موخه امنيت شورای ته وړاندې کړي.

۲: د ملګرو ملتونو سازمان منشور (۳۵ ماده لومړۍ فقره) حکم کوي: چـې د ملګرو ملتونو سازمان هر غړی هيواد کولای شي د امنيـت شـورای او يا عمومي اسامبلې پاملرنـه هغـې موضـوع تـه راواړوئ، چـې پـه (۳۴)

ماده کې ورته اشاره شویده (۳۵ ماده لومړی فقره).

۳: هغه هیوادونه چې د ملګرو ملتونو سازمان غړیتوب نه لري، د شخړې یو لوری بلل کیږي کولای شي، چې امنیت شورای او عمومي اسامبلې ته خبر ورکړي، خو پدې شرط چې نوموړی دولت تردې وړاندې هغه مقررات چې د شخړو د سوله ئیز هواري په موخه وضع شویدي ومني (۳۵ ماده دوهمه فقره).

۴: عمومي اسامبله کولای شي، چې د امنیت شورای پاملرنه داسې حالت ته راواړوي، چې نړیوالې سولې او امنیت ته خطر اړوئ (۱۱ماده دریمه فقره).

دلته باید دغې ټکي ته اشاره وکړو چې (امنیت شورای د هغو حالاتو او وضعیت په باره کې اقدام کوي چې په منشور کې هغه د امنیت شورای په غاړه اچول شویدي). د (۱۲ مادې په لومړی فقره) حکم له مخې عمومي اسامبله د دا ډول ستونزو او شخړو په باره کې هیڅ کله امنیت شورای ته سپارښتنه نه شي کولای، مګر دا چې امنیت شورای یې له عمومي اسامبلې څخه غوښتنه وکړي.

سرمنشی کولای شي چې (د امنیت شورا پاملرنه داسې موضوع ته راواړوئ، چې دده په عقیده د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د خطر لامل وګرځي).

هغه شخړې او وضعیت چې نړیواله سوله او امنیت تهدیدوي، امنیت شورا مؤظفه ده چې د شخړې دواړو خواوو ته په هغه خبرو اترو کې د رأیې ورکولو حق پرته د ګډون بلنه ورکړي همدارنګه هره مسئله چې په امنیت شورای کې ورباندې بحث کیږي او په ټولو نورو مواردوکې امنیت شورای کولای شي هغه غړی هیواد چې موضوع ور پورې تړاو لري، په خبرو اترو کې د ګډون په خاطر بلنه ورکړئ.

امنیـت شـورای د شـخړې د اړخونـو پـه غوښـتنه کـولای شي د سـنتي میتودونو چې په (۳۳ ماده، دوهمه فقره) کې ورته اشاره شـویده، د اړخونـو په غاړه ور واچوي (۱۲:۱۲۶).

پرته له دې چې امنیت شـورای د سـتونزو د هـواری لپـاره اقـدام وکـړئ کولای شي، چې د اړخونو د نظرونو د اوردیدلو وروسته د ستونزې د څېړنې په موخه یو ارګان هم تأسیس کړي.

د امنیت شورای د (۳٦ مادې اولې فقرې) د حکم له مخـې کـولای شي چې د شخړې د ښه هواري په موخه اړخونـو تـه د نـورو روشـونو سپارښـتنه وکړي هغه سپارښتنې چې د امنیت شورای یې د شخړې اړخونـو تـه کـوي باید په پام کې ولري، چې قضایي شـخړې د نړیـوالې محکمـې د دیـوان د اساسنامې له مخې د مدعي او مدعي علیه له خوا بایـد نړیـوالې محکمـې ته اقامه شي. (۳٦ ماده دریمه فقره) د (تنګه کورفو) په قضیه کـې امنیـت شورای د شخړې اړخونو ته سپارښتنه کړې وه، چې خپلـه سـتونزه نړیـوالې محکمې ته وړاندې کړئ.

د بیلګې په توګه د سوله ییز کانال قضیه په ۱۹۵۱م کال کې د هند او پاکستان ستونزه او همدارنګه په ۱۹۴۷م م کـال کـې د انـدونیزیا سـتونزه امنیت شورای ته له مراجعې وروسته، امنیت شور اړخونـو تـه وړانـدیز وکـړ، چې د ستونزې د هواري په موخه شخړه نړیوالې محکمې ته اقامه کړي.

د ملګرو ملتونو سازمان پـه چوکـاټ کـې د امینـت شـورای پـه واسـطه د ستونزې د هواري په موخه هره مرجع تأسیس کړې، د بیلګـې پـه توګـه پـه ۱۹۴۷م کال په اندونیزیا کې د سولې کمیټې، د هندوسـتان او پاکسـتان ترمنځ د کشـمیر د لانجـې د هـواري د منځګړیتـوب کمیټـه او د فلسـطین موضوع ګانې وې، چې امنیت شورای عمومي اسامبلې ته وړاندې کړي.

د امنيت شوراى ټولې سپارښتنې چې د شخړو د سوله ييز هواري په موخه اړخونو ته کيږي، الزامي بڼه نه لري د منشور د (۲۵) مادې له مخې يوازې د امنيت شوراى ټولې پريکړې الزامي بڼه لرئ (۲۱:۱۷).

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د (لومړي فصل) له مخې کوم مؤليت (د نړيوالې سولې او امنيت ساتنه) چې د امنيت شوراى په غاړه ور اچول شويده، امنيت شوراى کولاى شي چې د سولې نقض کوونکي ته سپارښتنه وکړئ او يايې پرضد پريکړه وکړي او عملي اقدامات وکړي (۴۱ او ۴۳ مادې).

د دغو عملي اقداماتو بيلګې په لاندې توګه يادولاى شو:

- امنيت شورا په ۱۹۶۳م کال د جولاى په (۳۱) نيټه پريکړه وکړه، او د ټولو دولتونو څخه يې غوښتنه وکړه، چې پرتګال هيواد ته د وسلو له برابرولو څخه ډډه وکړئ، چې مستعمره هيوادونه ازاد او د هغوي خپلواکي په رسميت وپيژني.
- امنيت شوراى په ۱۹۶۳م کې د اګست په ۱۷ نيټه پريکړه وکړه او د ټولو هيوادونو څخه يې غوښتنه کړې وه چې جنوبي افريقا ته د وسلو له برابرولو څخه ډډه وکړئ.
- د امنيت شورا په ۱۹۷۰م کال د جولاى په (۲۹) نيټه پريکړه وکړه او د ټولو هيوادونو څخه يې غوښتنه وکړه، چې د جنوبي افريقا سره ټولې ډيپلوماتيکي، قونسلي او نورې اړيکې پرې کړي، چې په نامبيا باندې د جنوبي افريقاحاکميت پاى ته ورسوي.
- د پوځي وسائلو په توګه د سولو او تخنيک څخه کار اخيستلو نورې بيلګې لکه په ۱۹۵۱م کال په کوريا په ۱۹۵۶م کال په مصر، په ۱۹۶۰م او ۱۹۶۴م کلونو په کانګو کې ترڅو چې بلجيمي ځواکونه

له کانګو څخه ووځي، په ۱۹٦۴ کال د مارچ په میاشت کې د قبرس په باره کې پلی شوی دی (۷۷،۷۸:۸).

**د امنیت شورای اجراعات**

د امنیت شورا د اجراعاتو (د کارقانون) په اړه د منشور له (۲۸ تر ۳۲) مادو پورې نوموړي احکام تنظیم شویدي.

چې په لاندې توګه یې په تفصیل سره بیانوؤ:

۱: د امنیت شورای غونډې: د منشور د (۲۸) مادې پراساس « امنیت شورا په داسې توګه دائره شي » چې وکولای شي په دوام داره توګه د خپلو وظیفو په سرته رسولو قادر وي. له دې کبله د امنیت شورای هر غړی به په هر وخت کې د سازمان په مقر کې نماینده ګي وکړي.

سوله ساتنه او همدارنګه د شخړو سوله ییز هواری ددغه ارګان په غاړه دي. نو هر کله چې دارنګه ستونزې منځ ته راځي امنیت شورای کولای شي چې په اړوند یې غونډه دائره کړئ.

لګه څرنګه چې امنیت شورای کولای شي چې غونډې دائرې کړي. د امنیت شورای دغه غړي په دوو برخو ویشل کیږي.

الف: عادي غونډې ب: استثنایي غونډې

**الف: عادي غونډې:** د امنیت شورای عادي غونډې د منشور د (۲۸) مادې په اساس او د شورای د موقتو اجراعاتو د (۴) مادې په موجب د کال په معینو فصلونو کې دوه ځله، چې وعده یې د امنیت شواری ټاکي دایریږي.

**ب: استثنایي غونډې:** د امنیت شورای استثنایي غونډې د عندالضرورت په اساس دائریږي.

۲: د شورای د کار دستور: سر منشي بی له ځنډه د امنیت شورای د ټولو غړو پاملرنه د ملګرو ملتونو سازمان د ټولو غړو په لیکونو او یا سرمنشي

په خپله د هغو وسائلو په هکله چې د امنيت په شواری کې د څېړلو وړ دي د مقرراتو سره سم را اړولی شي. د امنيت شورای د هرې غونډې لپاره د کار موقت دستور د سرمنشي له خوا تنظيم او د امنيت شورای د رئيس له خوا تصويب کيږي.

د امنيت شورای د هرې غونډې لپاره د کار دستور لږ تر لږه درې ورځې وړاندې د سرمنشي لخوا په امنيت شورای کې ټولو استازو ته ابلاغ کيږي. ولې په بيړنيو (اضطراري) حالاتو کې کيدای شي د غونډې د دايريدو په وخت کې ګډونوالو ته واورول شي.

د امنيت شورای د غونډې لومړی کار د کار دستور تصويبول دی، که چيرې غونډه د کار د دستور کومه فقره په غونډه کې تر بحث لاندې ونه نيول شي، موضوع به په خپله د راتلونکي غونډې د تائيد وړ وګرځي مګردا چې د امنيت شورای په دې هکله بل ډول پريکړه وکړي.

ج: د امنيت شورای رياست:

د امنيت شورای رياست د انګلسي د الفبأ د تورو په ترتيب په نوبت سره غړي هيوادونه (دايمي او غير دايمي غړي) د يوې مياشتې لپاره په غاړه اخلي. که چيرې د شورای رئيس يوې داسې مسئلې ته نيغ په نيغه لاس رسی ولري. چې د رئيس په متبوع هيواد پورې اړه ولري، غوښتنه ورڅخه وشي چې د ښه نيت له مخې د مسؤليت اجرا کول د منشور رياست ونه لري او مراتب امنيت شورای ته په ګوته کړي. پدې صورت کې د شورای رياست د انګلسی الفبأ تورو په ترتيب د بل هيواد استازو ته وسپاري.

امنيت شورای چې هر وخت وغواړي کولای شي، د ملګرو ملتونو سازمان نور غړي چه په شورای کې استازي نه لري او يا هر دولت چې د ملګرو ملتونو سازمان غړيتوب ونلري، د رأيې د حق پرته د امنيت شورای

په بحثونو کې ګډون وکړي (۹۵:۲).

د استازو د شورای رئیس په ترتیب سره خپل نظرونه څرګندوي او وروباندې بحث کوي، شورای کولای شي چې د هرې مسئلې لپاره یوه خبري کمیټه یا کمیسیون وټاکي د شورای رئیس کولای شي چې خبر رسونکي ته د اولیت حق ورکړي (۱۳۴:٦).

دا چې استازو ته د خبرداري یوه قطعنامه ورکوي، چې د شورای رئیس بې له ځنډه خپل حکم صادر کړي، که چیرې حکم د تائید وړ وګرځي، رئیس باید په شورای کې د پریکړې کولو په هکله خپل قضاوت په فوري ډول مطرح کړي، د رئیس حکم دایمي بڼه لري. تر هغې چې نقض نه شي معتبر ګڼل کیږي. وړاندې شوې پریکړې، بدلونونه او وړاندیزونه (مهمې تطام نامې) باید په کتبي (تحریري) بڼه استازو ته ورکړل شي.

د اصلي تطام نامې وړاندیز او د پریکړه لیکونو مسودې په ترتیب سره وړاندې کیږي د هرې نطام نامې وړاندیز او د پریکړو مسودې تر څو چې د هغوی په باره کې رأی ګیري نه وي شوې، کیدای شي بیرته واخیستل شي. د ملګرو ملتونو سازمان هر غړی چې د امنیت شورای غړیتوب نه لري، د امنیت شورای د پریکړې وروسته کولای شي د رأیې ورکولو پرته په هغو بحثونو کې برخه واخلي، کوم چې د امنیت په شورای کې مطرح کیږي هغه وخت چې امنیت شورای دا ډول پریکړې تصویب کړي. او په دې پوه شي چې دغه بحثونه د هغوي غړو په ګټه باندې اغیزې وکړي، کولای شي د منشور د (۳۵) مادې او لومړۍ فقرې سره سم د امنیت شورای پاملرنه دا ډول مطلب ته راواړوي.

د ملګرو ملتونو سازمان هر غړی د پورته ذکر شوې مادې سره سم او د منشور د (۴۲) مادې د حکم له مخې چې امنیت شورای ته په بحثونو کې

د ګډون په موخه بلنه ورکړل شي کولای شي د لیکونو د مسودې وړاندیز وکړي. دا ډول وړاندې شوې طرحې او یا د پریکړه لیکونو مسودې کیدای شي د امنیت شورای د یوه استازي په غوښتنه رأی ګیری ته وړاندې شي (۱۰۴:۱۲).

د: د امنیت شورای غونډو علنیت:

د امنیت شورای غونډې علني بڼه لري، مګر دا چې پدې هکله کومه بل ډول پریکړه وشي، البته عمومي اسامبلې ته د سرمنشي د ټاکلو په موخه د هر ډول غونډو رسمي اسناد باید په ټاکلي وخت کې په رسمي ژبو خپاره شي.

د غیر علني غونډو په هکله باید سرمنشي- یوه اعلامیه صادره کړي، په غیر علني غونډو کې د ملګرو ملتونو سازمان د ټولو غړو استازي ګډون کولای شي حق لري چې په خپل وخت سره په دارالانشأ کې ټولو اسنادو ته مراجعه وکړي. امنیت شورای کولای شي چې د ملګرو ملتونو سازمان د غړو هیوادونو استازو ته، د اسنادو د کتلو لپاره د لاس رسي شرایط برابر کړي، سرمنشي باید په کال کې یوځلې هغه اسناد چې په خپل وخت کې یې محرمیت درلود، امنیت شورای ته وسپاري. امنیت شورای باید پریکړه وکړئ چې کوم یو ددغو اسنادو او مدرکونو څخه د ملګرو ملتونو سازمان د غړو په اختیار کې ورکړي، او په څومره موده کې یې د عمومي اسامبلې غړو ته ابلاغ کړي او کوم اسناد په محرمانه بڼه باقي پاتې کیږي (۱۰۶:۱۳).

ه: په امنیت شورای کې اصلاحات)بدلونونه):

له هغې ورځې نه چې د ملګرو ملتونو سازمان تأسیس شوی، د امنیت شورای د څوکیو د عادلانه ویش پر سر بحثونه روان وو، له همغې ورځې نه دولتونو، پنځو هیوادونو ته د دایمي غړیتوب او ویټو حق له ورکولو سره مخالف وو. د امنیت شورای د غړو د زیاتوالي په هکله اولین وړاندیز د

لاتین امریکا د (۱۸) هیوادونو له خوا په (۱۹۵۷-۱۹۵٦)م کلونو کې وړاندې شو چې د عمومي اسامبلې په یوولسمه او دولسمه ناسته کې وځیړل شو. دغه وړاندیز په ۱۹۵٦م کال په بلګراد کې د غیر منسلکو هیوادونو له خوا او ۱۹٦۳م کال کې د افریقا د خپلواک کنفرانس له خوا وځیړل شو او ملاتړ ورڅخه اعلان شو.

په ۱۹۴۵م کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د (۵۱) غړو څخه په ۱۹٦۳م کې (۱۱۴) غړو زیاتوالي ته په پاملرنې سره دغې پړاو تیزوالی پیداکړ، چې د عمومي اسامبلې د ۱۹٦۳م کې د ډسمبر د (۱۷) نیټې ۱۸/۱۹۹۱ ګڼې قطعنامې په تصویب پای ته ورسیدو، ددې پریکړې پربنسټ په ۱۹٦۵م کال کې د امنیت شورای غیر دایمي غړي له (٦) غړو څخه (۱۰) غړو ته زیاتوالی وموند.

د نړیوالو بدلونو په پای کې یوځل بیا د امنیت شورای په جوړښت او اصلاح باندې خبرې راپورته شوې، چې په ۱۹۷۹م کال د عمومي اسامبلې په غونډه کې ورباندې خبرې وشوې، په سومالیه کې د ملګروملتونو له ناکامۍ وروسته، د ناپیلتوب غورځنګ په لسمه غونډه کې چې په ۱۹۹۲م کال د ډسمبر په (٦) نیټه په جاکارته کې جوړه شوه، د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورای د اصلاح غوښتنه پکې وشوه.

د دغو بدلونونو په تعقیب عمومي اسامبلې د یوې قطعنامې په ترڅ کې د دولتونو د نظر څرګندونې غوښتنه وکړه، عمومي اسامبلې په ۱۹۹۳م کال کې یوه بله قطعنامه تصویب کړه چې د هغې پربنسټ یوه کاري ډله جوړه شوه، چې په عادلانه ډول د امنیت شورای د غړو په زیاتوالي او په امنیت شورای پورې اړوند نورو مسائلو باندې غور وکړي.

ددې کاري ډلې د یوې لسیزې دکار او فعالیت نه وروسته نه یواځې دا

چې د امنیت شورای د غړو په زیاتوالي هوکړه ونشوه بلکه ددوی ترمنځ د نظر اختلاف هم باقي پاتې شو. په دې هکله د ملګرو ملتونو سازمان د وخت سرمنشي (کوفي انان) د وړاندیز بنې (بدلونونه) عبارت دي له:

اول مډل: په اول مډل کې (٦) دايمې څوکۍ د ویټو له حق پرته او (۳) غیر دایمي څوکۍ د دوو کالو لپاره وړاندیز کوي چې د لویو سیمئیزو حوزو په منځ کې وویشل شي (جمعا ۲۴ غړي).

د لومړي مډل پر بنسټ د افریقا لویې وچې لپاره (۲) څوکۍ، د اسیا او اقیانوس سیمې لپاره (۲) دایمي څوکۍ، د اروپا لپاره یوه دایمي څوکۍ او یوه دایمي څوکۍ د امریکا لپاره. په اوسنیو زیاتو شوو څوکیو پورې تړاو لري ددې مډل پربنسټ غیر دایمي څوکۍ د نویو دوو کالو لپاره پدې ډول وویشل شي.

(۴) څوکۍ د افریقا د براعظم لپاره، (۳) د اسیا او اقیانوس سیمې لپاره، (۲) د اروپا د براعظم لپاره او همدارنګه (۴) د امریکا د براعظم لپاره په پام کې نیول شوې وې، ددې مډل له مخې په ټولو دوه کلونو کې(۱۳) غیردایمي څوکیو باندې د سره کتنه نا ممکنه وه. پدې معنی چې یو هیواد نه شوای کولای په متواتر ډول د دوو پړاوونو لپاره د امنیت شورای د غیر دایمي غړي په عنوان وټاګل شي.

دوهم مډل: د دوهم مډل له مخې د امنیت شورای غړي له (۱۵) غړو څخه (۲۴) غړو ته زیاتیدل، پدې مډل کې د نویو دایمي څوکیو وړاندوینه نه وه شوې. ولې د نوې ډلې چې(۸) څوکیو څخه مشتمله ده، د (۴) کالو لپاره یې وړاندیز وشو. په واقعت سره پدې مډل کې غیردایمي او (نیمه دایمي) څوکۍ چې د ملتونو په ټولنه کې عملي شوې وې، دلته هم عملي شوې پرته له دې چې یوه نوي غیر دایمي څوکۍ چې د سره کتنه

وربانديې نه کيږي. د دوو کالو لپاره په (۲) کلنو غير دايمي څوکيو بانـدې ورزياتيږي، د دوهم مډل پربنسټ د (۴) څوکيو ويش د هرې حوزې يعنــې افريقـا، اسـيا او اقيـانوس، اروپـا او امريکـا هـرې يـوې لپـاره دوې څـوکۍ ځانګړې کيږي، همدا شان د افريقا په نيمه وچې پورې(۴) څوکۍ، د اسيا په براعظم پورې(۳) څوکۍ، د اروپا په براعظم پورې يوه څوکۍ او د امريکا په نيمه وچې پورې(۳) غيردايمي څوکۍ اړه پيداکوي.

**ب: عمومي اسامبله**

عمـومي اسـامبله د ملګـرو ملتونـو سـازمان يـو مهـم (نظـر د تبـادلې او مشورې) ارګان دی چې د ملګرو ملتونو سـازمان د ټولـو غـړو څخـه مشـتمله ده، هر غړی کولای شي چې پدې ارګان کې يوه نمايندګي ولري چې پنځـه تنه پکې کار وکړي. او هر غړی دولت د يوې رأيې حق لري، عمومي اسامبله د يوه نړيوال مجلس په عنوان هغه ځای دی، چې د نـړۍ بيلابيـل هيوادونـه خپل عقايد او نظرونه تبادله کوي، د نړيوال صفت سره سره څو کاله وړانـدې د ملګروملتونو سازمان د نويو غړو له منلو څخه انکار کاوه. په دوو دلايلـو سره يو لړ هيوادونه د ملګروملتونو سازمان د غړيتوب څخه بې برخې وو.

د امريکـا او شـوروی تـرمنځ سـيالي او د نـورو هيوادونـو کـوچنی والـی، پـه ۱۹۵۵م کال کې ددغو لويو هيوادونو د سيالۍ له امله ملګروملتونـو سـازمان ته د نويو هيوادونو د ور داخيليدو لاره وتړل شوه. ولې له ذکر شوې نيټې څخه وروسـته د نـړۍ لويـو او کوچنيـو هيوادونـو د ملګـرو ملتونـو سـازمان عمـومي اسامبلې غړيتوب حاصل کړ، چې د نړيوالتوب نوم يې ځانته غوره کړ.

البته يو لړ هيوادونه چې يو ځانګړی وصفيت يې درلود، د مګـرو ملتونـو سازمان غړيتوب يې ترلاسـه نـه کـړ. د بيلګـې پـه توګـه دوه المانـه او دوې

کورياګانې ولې دغو هيوادونو په ترتيب سره په ۱۹۷۳م او ۱۹۹۱م کلونو کې د ملګرو ملتونو غړيتوب حاصل کړ.

همدا شان اتريش ۱۹۵۰م کال او سويس د ۲۰۰۲ کال پورې په دې پلمه چې بيطرفه هيوادونه وي د ملګرو ملتونو په سازمان کې يې له غړيتوب څخه ډډه کوله.

په ملګرو ملتونو سازمان کې د نويو او کوچنيو هيوادونو غړيتوب د مخنوي بل خنډ د ذروي هيوادونو شتون وو، په (۷۰) لسيزه کې د امريکا متحده اياالتو او نورو لويديځو هيوادونو د ملګرو ملتونو په سازمان کې د ذروي هيوادونو په غړيتوب باندې پدې دليل مخالفت کولو چې دغه هيوادونه نه شي کولای چې د ملګرو ملتونو سازمان د منشور سره سم په خپلو نړيوالو ژمنو باندې عمل وکړي. ان دا چې په خپله د ملګرو ملتونو سازمان سرمنشي (اوتانت) په ۱۹۶۷م کال په جون کې عمومي اسامبلې ته په خپل راپور کې ويلي وو، (چې ذروي هيوادونه نه شي کولای په منشور کې د درج شويو مقرراتو او ژمنو د اجرأ جوګه شي). د استعمار څخه د ازادو شويو او د نويو هيوادونو د رامنځ ته کيدو په نوم نړيوال طرز او تفکر بدلون وموند. په (۷۰) لسيزه کې ذروي او نورو کوچنيو هيوادونو د ملګرو ملتونو سازمان غړيتوب ته ور داخل شول چې پدې ترتيب سره يې د عمومي اسامبلې نړيوالو ته عملي جامه ورواغوستله.

**په عمومي اسامبله کې د رأی ګيری بڼه (شکل)**

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د (۱۸) مادې سره سم د عمومي اسامبلې هر غړی هيواد د يوې رأيې حق لری. په عمومي اسامبله کې د رأی ګيری ډول د بحث وړ موضوع د موضوع په ځانګړتيا پورې اړه لری.

عمومي اسامبله د مهمو مسائلو په هکله د غونډې د حاضرو غړو د ۳/۲

رأیو په اکثریت پریکړه کوي او همدارنګه د یادولو وړ ده چې عمومي اسامبله کولای شي د ساده رأیو په اکثریت په مهمو مسائلو باندې نور مسائل هم ور زیات کړي (۱۲:۱۳).

**د عمومي اسامبلې دندې او واکونه**

عمومي اسامبله چې د ټولو غړو هیوادونو له استازو څخه متشکله ده د منشور د څلوم فصل د (۱۰ نه تر ۱۷) مادو د حکمونو له مخې پراخ واکونه لري په عمل کې د نړیوال وجدان څرګندونه کوي، د هغه مسائلو له مخې چې پدې ارګان کې وربانده‌ی بحث کیږي پدې توانیدلې چې د نړیوالو په افکارو باندط نفوذ پیداکړئ.

د دغو صفتونو او د زیاتو واکونو په لرلو سره نشو کولای چې عمومي اسامبله د یوه نړیوال پارلمان په توګه تلقي کړو، او یا هم د هیوادونو کورنیو پارلمانونو سره یې مقایسه کړو. عمومي اسامبله په عمومي ډول الزامی قوانین نه وضع کوي په اغلب ګومان سره د هغې ټولې پریکړې د سپارښتنې په معنا دي.

د منشور د (۱۰) ماده عمومي اسامبلې ته په پوره واکونو قایله شوې ده، ددې مادې د حکم سره سم (عمومي ټولنه د دغې اعلامیې د اجراعاتو په دایره کې په هره موضوع باندې د څیړنې واک لري. او د هغې هرې اداري په اجراعاتو او اختیاراتو باندې خبرې کولای شي چې ددې اعلامیې په اثر منځ ته راغلي وي او په استثنایي حالاتو کې چې په (۱۲) ماده کې د هغې په باب لیکل شوي دي د دا ډول موضوع یا معاملې په باب د ملګرو ملتونو امنیت شورای او دواړو ته سپارښتنه کولای شي.

د عمومي اسامبلې تصمیمونه د قطعنامو، تصویب لیکونو او اعلامیو په تصویب باندې پای ته رسیږي همدا شان د منشور د (۱۱) مادې د حکم

له مخې (عمومي اسامبله د نړیوال امنیت ساتلو په چارو کې یا هم د بې وسلې کولو یا د وسلو د تنظیم په باره کې حاکمو اصولو ته لاسرسی کوي،د اصولو سره سم په ټولو برخو باندې غور کوئ او اړونده ارګانونه او یا هم د امنیت شورای ته په دې اړه سپارښتنې کولای شي. عمومي ټولنه په داسې موضوع باندې چې په نړیوال امنیت پورې اړه ولری، د ملګرو ملتونو کوم غړی یا د امنیت شورای او یا کوم داسې هیواد چې ددغه هیواد غړیتوب نه لري د (۳۵) مادې د دوهمې فقرې په اساس ورته وړاندې شي په هغه خبرې اترې کولای شي، هر هغه پوښتنه چې هواری یې ضروري وي د عمومي ټولنې له خوا تر بحث او څیړنې لاندې نیول کیږي او بیا تر څیړنې وروسته امنیت شورای ته لیږل کیږي).

## څلورم څپرکی

## د عدالت نړیواله محکمه

تاریخچه: د نړیوال قضایي سازمان بنیاد او بنسټ باید د لاهـه د ۱۹۰۷م کال د سولې په دوهم کنفـرانس کـې ولټـوو دغـې کنفـرانس د دوو بنسـټونو تأسیس وړاندوینه کـړې وه چـې یـو د (جنگـي عنـاوینو دیـوان) او بـل یـې د (نړیوال عدالت داوري محکمه) وه. اگر چې دا دیوانونه تأسیس نه شول ولې د هغوی تأسیس یوازې د سازمان ورکونکـو پـه فکـر کـې یـو تصـویر وو، چـې وروسته یې د یوې نړیوالې محکمې د تأسیس شرایط رامنځ ته کړل.

د پورتني اقدام پرتـه د یـوه نړیـوال عـدلي دیـوان د تأسـیس پـه مـورد د (البهروت موسسې) وړاندیز ذکـر کـولای شـو، د الیهـروت پـه وړانـدیز کـې وړاندوینه شوې ده چې په دې عدلي نړیوال دیـوان کـې بایـد د ټولـو بـیلا بیلو حقوقي نظامونو استازي شامل وی، دغه طرحه په واقعـت کـې د ټولـو دولتونو د منلو وړ وگرځیده، ولې د دیوان د قاضیانو د غوره کولو په مـورد د نظر اختلاف موجود وو.

او هر دولت میلان درلود چې پدې دیوان کې باید خپل استازی ولـري، ترهغـه ځایـه چـې د قاضـیانو تعـداد محـدود وو د ټولـو دولتونـو د نظرونـو تأمینول امکان نه درلود. په همدې دلیل د نړیـوال عـدلي دیـوان تأسـیس باقي پاتې شو.

نړیوالو قاضیانو ته په پـاملرنې سره د ملتونـو د ټـولنې نـه وړانـدې زیـات دیوانونه منځ ته راغلل چـې د هغـې لـه جملـې څخـه کـولای شـو (د مرکـزي امریکا د محکمې دیوان) ذکر کړو چـې پـه ۱۹۰۷م کـال کـې دې تـه پـه پاملرنې سره د دغه قضایي بنسټونو فعالیت د غړو دولتونو رضـایت حاصـل

نه کړ. په ۱۹۱۴م کال کې غړو دولتونو (کاستاریکا، ګواتیمالا، هنوراس، نیکاراګوا او السلوادور) نوموړی بنسټ منحل کړ (۱۱:۱٦٦).

او همدارنګه د یادولو وړ ده چې نړیواله دایمي محکمه ملتونو ټولنې ته منسوبه ده چې د عدالت د نړیوالې محکمې سره یې په لاندې ګډو او مخالفو ټکو کې پرتله کوو.

**د عدالت نړیوالې محکمې پرتله د نړیوالې دایمي محکمې سره**

- دواړه محکمې د لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د دولتونو د حقوقي اختلافاتو د مسالمت امیز حل او فصل لپاره منځ ته راغلې او تنها دولتونه کولای شي چې په دغو محاکماتو کې خپلې دعوې اقامه کړئ او نور څوک نشی کولای چې د دولتونو له دغه حق څخه ګټه پورته کړي.
- د دواړو محکمو د کار ماهیت قضایي بڼه لري او یوازې د دولتونو حقوقي منازعاتو او اختلافاتو ته لاس رسی کوي او مشورتي رأیې ورکوي.
- او همدارنګه دواړې محکمې کولای شي چې خپلې بالاتر مشورتي رأیې د نړیوالو سازمانونو په غوښتنه ورکړئ او دولتونه دارنګه حق نه لري.

**اختلافي نقطې**

- د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو سازمان اصلي رکن ګڼل کیږي په داسې حال کې چې د دایمي محکمې موسسه د ملتونو په ټولنې پورې تړلې او د ملتونو ټولنې له اصلي ارګانونو څخه نه ګڼل کیږي.
- د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب ترلاسه کول د عدالت د نړیوالې محکمې سره همزمان هم غړیتوب دی په داسې حال کې چې په ملتونو ټولنه کې غړیتوب د نړیوالې دایمي محکمې د غړیتوب په معنا ندی.
- په نړیواله دایمي محکمه کې یوازې غړي دولتونه او په میثاق کې

مندرج دولتونه کولای شي د نوموړې محکمې غړیتوب ترلاسه کړي خو د عدالت په نړیواله محکمه کې کلیه دولتونه حق لري چې د منشور د مندرجو شرایطو سره ددغه محکمې غړیتوب لاسته راوړي.

- په نړیواله دایمي محکمه کې یوازې عمومي غونډه او د ټولنې شورای کولای شي چې د نوموړې محکمې څخه د مشورتي رأیې غوښته وکړي پداسې حال کې چې د عدالت نړیواله محکمه کې د عمومي غونډې او امنیت شورای سربیره د ملګرو ملتونو د نورو ارګانونو په ګډون تخصصي سازمانونه چې د عمومي غونډې له خوا مجاز ګڼل شوي کولای شي د مشورتي رأیې غوښتنه وکړي.
- د دایمي محکمې د احکامو تطبیق د محکوم علیه دولت په حسن نیت او یا د محکوم دولت له قدرت سره تړاو درلود پداسې حال کې چې د عدالت د نړیوالې محکمې د احکامو د تطبیق او اجرأ په وړاندې د محکوم علیه دولت د سرغړونې په صورت کې د امنیت شورای ته واپس کیږي.

**د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو د سازمان اصلی رکن**

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د (۹۲) مادې په اساس د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو سازمان اصلي او قضایي رکن دی.

او اساسنامه یې چې د عدالت نړیوالې محکمې د اساسنامې پربنسټ تنظیم شویده، د منشور لاسلیک جز ګڼل کیږي.

یو له هغه اساسی تغیراتو څخه چې د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د بالاتر په پایله کې منځ ته راغلو هغه دا وو چې د عدالت د نړیوالې محکمې اساسنامه د منشور ضمیمه وګرځید. او پردې اساس د ملګرو ملتونو ټول غړي په خپله خپل کارونه د عدالت د نړیوالې محکمې قبول

کړل شویدي.

د عدالت د نړیوالې محکمې یوځای کیدل د ملګرو ملتونو سازمان سره د هغه اصلي قضایي رکن په عنوان لاندې پایلې لري.

١. عمومي غونډه (مجمع عمومی) یا د امنیت شورای په ګډه د محکمې غړي ټاکي (٨ ماده د محکمې اساسنامه).

٢. عمومي ټولنه یا د امنیت شورای کولای شي چې د دولتونو ترمنځ هرې حقوقي مسئلې په اړوند د عدالت د نړیوالې محکمې څخه مشورتي نظر واخلی. لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو نور ارکان او تخصصي-نهادونه چې د عمومي غونډې نه یې اجازه اخیستله همدارنګه هم کولای شي چې په حقوقي مسائلو کې د هغه د فعالیتونو په حدودو کې د محکمې مشورتي نظر واخلي (د منشور ٩٦ ماده).

٣. که چیرې یو د دعوا له طرف څخه دهغه تعهداتو له انجام څخه چې د محکمې د رأیې پر اساس د هغه پرغاړه ایښودل شوی تخلف وکړي د دعوا مقابل لوری کولای شي د امنیت شورای ته رجوع وکړي او نوموړې شورای د ضروري تشخیص وروسته متخلف دولت ته سپارښتنه کوي او یا د محکمې د رأیې د تطبیق او اجرأ لپاره په اقداماتو لاس پورې کوي (د منشور ۹۴ ماده).

٤. د عدالت د نړیوالې محکمې مخارج چې د عمومي غونډې لخوا تعیین کیږي د ملګرو ملتونو سازمان په غاړه به وي (د محکمې د اساسنامې ٣٣ ماده).

٥. هغه شرایط چې د هغه په موجب ټول دولتونه کولای شي چې د مادي معاهداتو د خاصو مقرراتو په رعایت نوموړې محکمې ته رجوع وکړي د امنیت شورای له خوا به معین شي (د محکمې د اساسنامې ۴۵ ماده).

٦. دعدالت د نړیوالې محکمې د اساسنامې تعدیل په هماغه بڼه عملي کیږي چې د ملګرو ملتونو د منشور په اصلاحاتو کې ځای پرځای شویدی (د محکمې د اساسنامې ٦٩ ماده).
٧. که چیرې نړیواله محکمه د اوضاع په ایجاب پر موقتي اقداماتو لاس پورې کړي خو دا موضوع د دعوی طرفینو او د امنیت شورای ته ابلاغ کوي (د محکمې اساسنامه ۴۱ ماده).
٨. هره غوښتنه چې د عدالت په نړیواله محکمه کې اقامه کیږي نوموړې غوښتنه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي- په وسیله د ملګرو ملتونو سازمان غړو ته اطلاع کیږي (د محکمې د اساسنامې ۴۰ ماده).

**د نړیوالې محکمې د دیوان پیدایښت**

د ملتونو ټولنې مؤسسو غړو دولتونو د یوې نړوالې عدلي محکمې د تأسیس په مورد دې پایلې ته ورسیدل چې د یوې نړیوالې محکمې تشکیلیدل یو اړین کار دی ذکر شویو دولتونو د میثاق د (۴) مادې سره سم خپل نیت دا ډول د ټولنې شورای دنده لري چې د یوې دایمي نړیوالې محکمې کارونه تنظیم او د ټولنې غړو ته یی تسلیم کړي دغه محکمه باید هغه ټولو شخړو ته لاس رسی ولري چې نړیواله بڼه ولري چې اصحاب د دعوی هغه ته مراجعه وکړي دیوان کولای شي چې د هغې موضوع په هکله چې عمومي ټولنه یې هغې ته راجع کړې مشورتي نظر ورکړي.

د پورته ذکر شوې مادې په اجرأ کولو سره د ملتونو ټولنې د (حقوق پوهانو) په نوم یوه کمیټه جوړه کړه چې د نړیوالې محکمې اساسنامه یې طرحه او تنظیم کړې وه ددغه کمیټې د اساسنامې مقدماتي طرحه ترتیب او د ملتونو ټولنې د عمومي غونډې له خوا د یو لړ بدلونونو د راوستلو په نتیجه کې په کال ۱۹۲۰م کې تصویب شوه.

ذکر شوي اساسنامه په ۱۹۲۱م کال د سپتمبر په لمړۍ نیټه د ملتونو ټولنې د ټولو غړو له خوا د لاسلیک څخه وروسته لازم الاجرأ وګرځیده.

په ۱۹۲۲م کال په فبرورۍ کې د محکمې کار رسما پیل شو د محکمې په اساسنامه باندې په ۱۹۲۹م کال کې د سره کتنه وشوه نوې اساسنامه په ۱۹۳٦م کال کې تصویب او اجرأ وړ وګرځیده.

د دیوان د اساسنامې سره سم دیوان یوه واقعي بڼه درلوده چې ۱۵ قاضیان یی درلودل ۱۱ یې اصلی او ۴ نور یې علی البدل وو. چې د ملتونو ټولنې د دوو ارګانونو یعنی شورای او عمومي غونډې له خوا د ۹ کالو لپاره ټاکل کیدل د دیوان اصلي مقر د لاهه د سولې په ماڼۍ کې وو.

دیوان یوه کلنه عادي غونډه درلوده ولې کولای یې شوای چې فوق العاده غونډې هم راوبولي. دیوان د یوه رسمي دفتر لرونکی وو چې د مدیر او د هغه د مرستیالانو تر لاس لاندې یې قرار درلود د دوی دندو یوازې اداري بڼه درلوده (۱۱:۱٦۸).

دیوان د دوه ډوله صلاحیت لرونکی وو یو یې ترافعي او بل یې هم مشورتي وو، د لومړي صلاحیت پربنسټ یې د حکم صادرول او د دوهم صلاحیت له مخې یې مشورتي نظر ورکولای شو.

ددې دیوان یوه ځانګرتیا داده چې د ملتونو ټولنې څخه یې پوره خپلواکي درلوده د همدې خپلواکۍ له امله د نړۍ اکثره دولتونو (د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو) پرته په رسمیت پیژندلی وو. د دوهمې نړیوالې جګړې په پیل کیدو سره د دایمي دیوان قاضیان د محکمې د لاهه له مقر څخه ووتل د جګړې په بهیر کې دغه قاضیان په ژینوا کې هستوګن شول، د محکمې د لاهه له مقر څخه د قاضیانو د وتلو علت د المان هغه اعلان وو چې المان د دغو قاضیانو سیاسي مصؤنیت ته

قایل نه دي. د جګړې پر مهال هغه وخت چې محتدو هیوادونو د یوه نړیوال سازمان د تشکیل پریکړه وکړه د یوه نړیوال قضایي دیوان د جوړیدو موضوع هم د دوي د پام وړ موضوع وه او دغه موضوع د (امبارتن اوکس) په کنفرانس کې هم طرحه شوې وه.

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور ۱۴ فصل (له ۹۲ نه تر ۹٦) پورې پرته د سانسفرانسسکو په کنفرانس کې د دیوان اساسنامه چې د ملګروملتونو سازمان د منشور ضمینه بلل کیږي، د کنفرانس د ګډوونکونکو د تأیید وړ وګرځیده د منشور د ۹۳ مادې په موجب د ملګرو ملتونو سازمان ټول غړي په خپل ذات کې د نړیوالې محکمې اساسنامې د قبلوونکو په ډله کې راځي.

د نوې نړیوالې محکمې تشکیل د پخواني دایمي دیوان په تعقیب منځ ته راغی او د پخوانۍ محکمې غړو قاضیانو په ۱۹۴۵م کال په اکتوبر کې غونډه وکړه او خپلې استعفاوې یې وکړې د ملتونو ټولنې عمومي اسامبلې ۱۹۴٦م کال اپریل کې دایمي دیوان کار رسما پای ته ورسوه او خپل سوابق یې نوې محکمې ته وسپارل، د نوې محکمې لپاره قاضیان د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلې له خوا په ۱۹۴٦م کال کې په اپریل کې وټاکل شول او اولینه غونډه یې په ۱۹۴٦م کال په لندۍ کې دایره کړه او دیوان عمل خپل کار په ۱۹۴٦م کال په لاهه کې پیل کړ (۱۱۹:۱۸).

## د نړیوالې محکمې تأسیس

نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو د سازمان اصلي او قضایي رکن دی چې اساسنامه یې هم د نړیوالې محکمې دایمي دیوان د اساسنامې پر بنسټ تنظیم شویده، چې د ملګرو ملتونو سازمان یو نه بیلیدونکی جز

ګڼل کیږي. ددې محکمې اساسنامه په ۱۹۴۵م کال د جون په ۲٦ نیټه د سانسفرانسسکو په کنفرانس کې د (۵۱) هیوادونو لخوا لاسلیک شوه او ددې محکمې قاضیان هم په ۱۹۴٦م کال د فبرورۍ په (۵) نیټه د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلې په لومړۍ غونډه کې وټاکل شول ددې محکمې رسمي کار په ۱۹۴٦م کال د اپریل په میاشت کې شروع شو.

**د نړیوالې محکمې جوړښت او تشکیلات**

نوموړې محکمه خپلې چارې د اساسنامې د (۲ نه تر ۳۳) مادو پورې او له (۱ نه تر ۱۸) مادو پورې او همدرانګه له (۳۲ نه تر ۳۷) مادو پربنسټ اداره کیږي. د اساسنامې (۲ او ۳) مادو سره سم نړیواله محکمه د یوه قاضي پلاوي څخه عبارت ده. چې ۱۵ قاضیان او خپلواک حقوق پوهان لري دا قاضیان باید چې د ملیت په پام کې نیولو پرته د لوړ اخلاقي معیار لرونکي وي په شرایطو پوره په خپل هیواد کې یې مسلکي ګامونه ترسره کړي وي، د حقوقی علم او ښه شهرت لرونکی وي ګمارل کیږي. دا قاضیان د عمومي اسامبلې له خوا او امنیت شورای له خوا ټاکل کیږي او د خپل هیواد لخوا انتصابي بڼه نه لري دا دیوان قاضیان دولتي چارواکي نه دي چې د خپل متنوع هیواد د دستورونو او مقرراتو تابع وي همدا دلیل دی چې دولتونه دغه قاضیانو ته د سیاسي چارواکو په څیر د مصؤنیت او خپواکۍ په هکله قایل شویدي.

دغه قاضیان نه عزل کیږي او د اصولو له مخې نه باید نور شغلي فعالیتونه اوکړه وړه هر یو له دغه قاضیانو څخه باید وړاندې له دې چې د دیوان په عمومي ونډه کې رسمي پیل کړی باید ژمنه وکړي هغه صلاحیتونه چې د اساسنامې پربنسټ هغوی ته ورکړل شویدي په پوره بې طرفۍ سره اعمال کړي (۱۷۲:۴).

**د ځانګړي قاضي څخه ګټه اخیستنه**

د یوه ځانګړي قاضي تأسیسي د حقوق پوهانو له بیلابیلو نظرونو سره مخ شویدي یو لړ حقوق پوهان دغې بنسټ سره په مخالفت کې دوه دلائل وړاندې کوي، لومړی دا چې قاضي باید اصولا د عدال او انصاف اصل په پام کې ونیسئ په داسې حال کې چې ځانګړی قاضي د متبوع هیواد استازی بلل کیږي له دغه اصل څخه سرغړونه وکړي او د خپل هیواد پر ګټه رأیه ورکوي.

او دوهم دا چې دغه ځانکړی قاضي بنسټ د حقوقي اصل سره چې (هیڅوک نه باید د خپلې قاضی واوسي) په ټکر کې دی.

پوهان د ځانکړي قاضي د بنسټ د تائید په هکله پنځه دلایل وړاندې کوي.

۱) د هغه قاضیانو د ګډون اصل چې د یوه ملت له لورید دعوی اصحاب وي، دعوی ته لاسرسی هغه اصل دی، چې په ټولنیزه توګه د ټولو محکمو او د مقاصدو نړیوالو محکمو د پلویانو له خوا لا وړاندې مراعات کیدو.

۲) سره له دې چې نوموړي قاضیان د متبوع هیواد په ګټه رأیه ورکوي، ولې بیا هم د محکمو لپاره دده د نظر څرګندول ډیر ګټور دي د متبوع دولت لخوا د رأیې د اجرأ په موخه د قاضي سره مرسته کوي.

۳) د ځانګړو قاضیانو د ټاکلو وروسته، د خپلواکو قاضیانو د پلاوي په توګه خپلې دندې سرته رسوي او د دولت استازیتوب نه کوي، او نه باید دعوی ته د لاس رسي له وړتیا څخه بې برخې شي، دغو قاضیانو په زیاتو مواردو کېد خپل متبوع دولت د ګټو پرخلاف رأی ورکړي دي. څرنګه چې (لردمک نر) د ایران او انګلیسي تر منځ په دعوای کې همدا شان عمل ترسره کړی وو. په دی ځای کې د ځانګړو

قاضیانو نظرونه د دعوای په بشپړولو کې ارزښتناک نقش لوبوي.

٤) د ځانګړو قاضیانو ګډون هغه وخت ضروري دی چې د محکمې په جوړښت کې د دوی ګډون او د محکمې په بهیر کې د دوی نظرونه ګټور واقع شیدغه امر هم د قاضیانو په زیاتوالي سره لرې والی پیداکوي.

٥) اړینه نده، چې ځانګړي قاضیان د دعوی د لوري هیواد ملت لرونکی وي. په یو لړ مواردو کې قاضي یا قاضیان باید د بیطرفه هیوادونو له حقوق پوهانو څخه غوره شي. د نړیوالې محکمې دیوان د اساسنامې د حکم سره سم ملي قاضیان د غونډو له حق څخه نه بې برخې کوي او د برابرو اجراعاتو په موخه د دعوی د بل لوري د نظرونو اوریدو لپاره د ځانګړو قاضیانو د غوره کولو جواز ورکړل شویدی. ځانګړي قاضیان چې د محکمې غړي نه دي حقوق نه شي ترلاسه کولای بلکه په محکمه کې ورځنۍ مقرري او په محکمه کې حضور په هغوی پورې اړه لري.

د نړیوالې محکمې قاضیان د ۹ کالو لپاره ټاکل کیږي. د ټاکل شوې مودې له ختمیدو وروسته دوی کولای شي چې د دوهم ځل لپاره وټاکل شی. دغه د دوهم ځل لپاره ټاکل لیدل د هرو ۹ کلونو په پای کې صورت نیسي. دغه د دوهم ځل ټاکنه امکان لري چې د دیوان دوام ته صدمه ورسوي همدا علت دی چې دغه د دوهم ځل ټاکنه په هرو دریو کالو کې یو ځل د ۱/۲ قاضیان د پچې اچونې په ترسره کولو سره د اساسنامې د (۱۲) مادې د حکم سره سم بدلون مومي.

عمومي اسامبله او امنیت شورای په خپلواکه توګه د نړیوالې محکمې قاضیان ټاکي نوماند قاضیان باید په عمومي اسامبله او هم په امنیت شورای کې په مطلق اکثریت رأې خپلې کړي د قاضیانو په ټاکنه کې د امنیت شورای د دایمي او غیر دایمي غړو د رأیو ترمنځ هیڅ توپیر نشته

(۱۷:۱۰،۱۹).

قاضیان باید له هر ډول سیاسي او اداري ماموریت څخه چې حرفوي بڼه ولري ډډه وکړئ. د محکمې غړي په هیڅ دعوی کې مدعي او مدعي علیه مشاور او یا د ویه اړخ وکیل د اوسني او همدارنگه نشی کولای چې د ملي او نړیوالې محکمې او د څیړنې د پلاوي غړی واوسئ او په هره بڼه چې وي لاسوهنه وکړي د محکمې د تشکیل لپاره لږ تر لږه (۹) قاضیانو ته اړتیا ده (۱۷:۳).

د نړیوالې محکمې د قاضیانو د ټاکنې په برخه کې دوه ټکي اهم او د پام وړ دي چې په لاندې توگه ورته اشاره کوؤ:

لومړی ټکی دادی چې د قاضیانو په غوره کولو کې امنیت شورای د دایمي او غیر دایمي غړو ترمنځ هیڅ توپیر نشته که چیرې د امنیت شورای او عمومي اسامبلې خپلې رأیې له یو هیواد څخه زیاتو نوماندانو ته ورکړې وي یواځې د عمر په لحاظ یو له دغو نوماندانو څخه چې د زیات عمر لرونکي وي ټاکل کیږي پدې هکله د امینت شورای د دایمي غړو د ویټو حق د بحث وړ نه دی. هیڅ هیواد نه شي کولای چې نړیوالې محکمې ته له یوه څخه زیات نوماندان د قاضیانو په توگه ور وپیژني (د اساسنامې ۱۰ ماده).

دوهم ټکی دادی هغه څوک چې د قاضیانو په توگه غوره کیږي، غوره کوونکی باید په پام کې ولري چې نوماندان د نورو شرایطو ترڅنگ باید د ټولو لویو حقوقي نظامونو استازیتوب وگړای شي. دې ته په پاملرنې سره چې د محکمې قاضیان د ټولو بشري تمدونو او حقوقي نظامونو استازیتوب کوي نو ځکه دولتونه د قاضیانو په غوراوي او محکمې ته د دوي په ور پیژندلو کې نیغ په نیغه د لاسوهنې حق نه لري.

د یادونې وړ ده چې د نړیوالې محکمې قاضیان د ملګرو ملتونو سازمان کارکوونکي دي.

د هغوی حقوق او امتیازات د سازمان د عادي بودیجې څخه ترلاسه کیږي او د ټولو دیپلوماتیکو امتیازاتو او مصؤنیتونو څخه برخمن دي (۱۴۳:۷).

**ج: د نړیوالې محکمې واکونه (صلاحیتونه)**

د دولتونو ترمنځ ستونزو ته لاس رسی د نړیوالې محکمې واک په ستونزو کې د ښکیلو اړخونو په رضایت پورې تړلی دي، (ځکه چې په نړیوالو اړیکو کې محکمې ته د قاضیانو لاس رسی د دولتونو په اراده پورې اړه نه لري بلکه د شخړې په هواري کې د دولتونو په هوکړه پورې اړه لري چې اصل شرط نه بلل کیږي). د (قضاییاو ترافعي) واکونو پرته د دیوان د اساسنامې(٦) مادې د حکم سره سم دیوان کولای شي په هره قضایي مسئاله کې کوم چې د ملګرو ملتونو سازمان په منشور کې ورته اشاره شویده مشورتي نظر ورکړي نو په همدې دلیل کولای شو چې د محکمې واکونه په ترافعي او مشورتي واکونو وویشو چې په لاندې توګه وربانده بحث کیږي.

ترافعي واکونه (صلاحیتونه) څه ډول چې وړاندې ورته اشاره وشوه (هغه شخړې چې نړیوالې محکمې ته اقامه کیږي پردولتونو باندې الزامي بڼه لري یا په بل عبارت مخکې له دې چې نړیواله محکمه د شخړو ماهیت ته لاس رسی پیداکړي باید په شخړه کېد ښکیلو دولتونو رضایت ترلاسه کړي پرته له دې رضایت څخه په نړیواله محکمه کې د شخړو هواری ته لاس رسی ناممکن دی د محکمې د اساسامې د (٣٦) ماده په ځانګړې توګه د محکمې د واک په باره کې دا ډول څرګندونه کوئ:

د محکمې واک هغه ټول اختلافات په برکې نیسي- چې اصحاب د دعوی یی نړیوالې محکمې ته اقامه کوي او یا هغه ټول موارد دي چې د ملګرو ملتونو سازمان په منشور او یا په نورو تړونونو کې د هغه وړاندوینه شویده (۱۸۹:٦).

**د محکمې مشورتي واکونه (صلاحیتونه)**

د نړیوالې محکمې مشورتي واکونه د نړیوالو مسائلو په باره کې د حقوقي او قضایي نظر څرګندلو څخه عبارت دي چې نړوال سازمانونه یې نړیوالې محکمې ته راجع کوي دغه مشورتي واکونه په هغه اصولو ولاړ دي چې د انګلوساکسون په هیوادونو معمول او مندرج دي.

په ۱۹۲۰م کال کې د دغې معمول او اصولو د اغیزو پربنسټ په انګلستان او امریکا کې د مشورتي نظر څخه په ګټې اخیستنې سره د نړیوالې محکمې په اساسنامه کې ورته ځای ورکړل شو. د نړیوالې محکمې د ساسنامې د (٦۵) مادې د حکم سره سم د ملګرو ملتونو سازمان او یا د هغې د ځانګړو ارګانونو له خوا چې هره مسئله نړیوالې محکمې ته راجع شي مشورتي نظر ورکولای شي. هغه ارګانونه یا سازمانونه چې مشورتي نظر ته اړتیا ولري د دغو ارګانونو نومونه په منشور کې ذکر شویدي او یا یو تعداد نور کولای شي چې د مشورتي نظر د غوښتنې په موخه د عمومي اسامبلې څخه واک ترلاسه کړي (۱۹۳:٦).

عمومي اسامبله او امنیت شورای د نړیوالې محکمې څخه د مشورتي نظر د غوښتنې حق لري د منشور د مقرراتو سره سم عمومي اسامبلې اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای او قیمومیت شورای ته د مشورتي نظر څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکړې ده همدارنګه یو لړ نورو ځانګړو سازمانونو د هغې هوکړې له مخې چې د سازمان سره یې لاسلیک کړې

وي د مشورتي نظر د غوښتنې حق ځانته حاصل کړی دی.

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د مقرراتو سره سم په ټولو حقوقي مسائلو کې د نړیوالې محکمې مشورتي نظر حتمي بولي چې ددغه مسائلو څخه کولای شو لاندې یو څو په ګوته کړو:

- ✓ د سازمان دندې، تشکیلات او د کار طرزالعمل
- ✓ د سازمانونو ترمنځ ستونزې او شخړې
- ✓ د غیر غړو دولتونو سره د نړیوال سازمان ستونزې او اختلافات
- ✓ د سازمانونو د تأسیس سند تفسیر
- ✓ د هر ډول تړونونو تفسیر او په نړیوالو حقوقو پورې تړلې مسئلې

د حقوقو له نظره د نړیوالې محکمې مشورتي نظرونه الزامی نه دي مګر په هغه مواردو کې چې د نړیوالېهوګړې پربنسټ د محکمې مشورتي نظرونه په ټولنیز ډول د یو لړ مسائلو په باره کې الزامي و پیژندل شي بایـد په نړواله هوکړه باندې عمل وشی.

ددې سره سره چې مشورتي نظرونه غیر الزامي دي ولې په یو لړ مواردو کې د محکمې مشورتي نظرونه د دولتونو او سازمانونو د شخړو په هواري کې ګټور واقع شویدي.

د بیلګې په توګه د ملګرو ملتونو سازمان د بودیجې د لګښت په سر راپروته شوې ستونزه او په ۱۹۵٦م کال کې کنګو ته د ملګرو ملتونو د سازمان د سوله ساتو ځواکونو د لیږلو ستونزه نړیوالې محکمې پـه ۱۹٦۲م کال د جون په ۲۰ نیټه مشورتي نظر ورکړ چې لګښت شوي بودیجه د ملګرو ملتونو سازمان لګښت دی او ټـول غړي هیوادونه بایـد خپله ونډه سازمان ته ورکړي. فرانسې او پخوانی شوروي اتحاد په دې پلمه چې دغه لګښت د ملګرو ملتونو سازمان د عادي بودیجې له جملې څخه نـه دي نـو

له خپلې وندې ورکولو څخه يې ډډه کوله ولې سره له دې چې د محکمې مشورتي نظر غیر الزامی دی ددې سبب شو چې د سوله ساتو ځواکونو د لیدلو لګښت د عادي بودیجې څخه وګڼل شئ او ذکر شويو هیوادونو خپله ونډه ملګرو ملتونو سازمان ته ورکړه (۱۹۳:٦).

## پنځم څپرکی

## د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای

د ملګرو ملتونو سازمان منشور لسم فصل د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای ته ځانګړی شوی دی ذکر شوې شورای د یالتا د کنفرانس په بهیر کې د شوروي اتحاد، متحده ایالات او انګلستان د مشرانو د پاملرنې وړ وګرځیده. او د سانفرانسسکو په کنفرانس کې د ملګرو ملتونو سازمان د یوه اصلي ارګان په توګه وپیژندل شوه.

تر هغه ځایه چې د ملګرو ملتونو سازمان اصلي فلسفه د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه ده د ملګرو ملتونو سازمان برخلاف د ملتونو په ټولنه کې اقتصادي او ټولنیزو مسائلو ته چندان پاملرنه نه کیده. د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو د هواري په موخه د ملتونو ترمنځ یو تعاون موجود وو چې دغه ستونزه هواره کړي دا چې د ملګرو ملتونو سازمان منشور په سریزه کې د اقتصادي او ټولنیزو چارو په هکله نړیوالو مؤسساتو ته مراجعه کول لازم بلل شوي وو او په اوله ماده (۳) فقره کې د ملګرو ملتونو سازمان مهمې موخې په ګوته شویدي چې اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي او د بشر دوستۍ بڼه لري. او همدارنګه د منشور (۹ او ۱۰) نړیوالې اقتصادي او ټولنیزې همکارۍ ته ځانګړې شویدی. په همدې بنسټ د ملګرو ملتونو سازمان منشور په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، روزنې، روغیتا، بشري حقوقو او د افرادو د اساسي ازادیو په هکله تحقیق او څیړنه هغه مسائل دي چې د اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای یې مسؤلیت په غاړه لري (۱۵۱:۱۴).

**د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای د غړو جوړښت (ترکیب):**

د ټولنیزو او اقتصادي چارو شورای د اساسنامې د (٦١) مادې د حکم سره سم خپل ځان د عمومي اسامبلې تابع ګڼي. ددې مادې پربنسټ شورای د ملګرو ملتونو سازمان د (٢٨) غړو څخه متشکله ده چې د عمومي اسامبلې له خوا غوره کیږي همدا شان د (٦٦) مادې د حکم سره سم نوموړې شورای خپلې دندې د عمومي اسامبلې په سپارښتنه او لارښوونه سرته رسوي.

ددې سره سره چې اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای یو خپلواک ارګان دی د سرمنشي د څارنې لاندې او د عمومي اسامبلې په لارښونه خپلې دندې سرته رسوي.

په لومړیو کې ددې شورای غړو تعداد(١٨) هیوادونو ته رسیدو (٦١) ماده چې د ملګرو ملتونو سازمان د غړو په زیاتوالي سره منشور دوه ځلې ددې شورای د غړو په تعداد کې بدلون راوست.

اولین بدلون په کال ١٩٦٥م کې رامنځ ته شو چې ددې پربنسټ د غړو تعداد (٢٧) دولتونو ته رسیدو، دوهم بدلون په ١٩٧٣م کال کې منځ ته راغی چې د یادې شوې شورای د غړو تعدا (۵۴) دولتونو ته پورته شو چې د دریو کالو لپاره د عمومي اسامبلې له خوا ټاکل کیږي د دوهم ځل لپاره بیا هم ټاکل کیدای شي او دغه ټاکنه د عادلانه جغرافیوي ویش د اصل له مخې ترسره کیږي.

په دې ترتیب سره (١۴) هیوادونه له افریقا (١١) هیوادونه له اسیا (١٠) هیوادونه له لاتین امریکا (٦) هیوادونه د ختیځې اروپا او (١١) هیوادونه له لویدیځېاروپا او نورو سیمو څخه غوره کیږي (١۵٣:۵).

د هر غړي د ماموریت دوره په نوموړې شورای کې درې کاله ده او

هرکال ددې شورای ۳/۱ غړي بدلون مومي.

د عمـومي اسـامبلې د (XXVI)۲۸۴۷ ګڼـې قطعنـامې پربنسـټ، د شورای لپاره د عادلانه ټاکنو په هکله کوم اصلاحات چې د شورای په (٦١) ماده کې رامنځته شول، د (۱۸) غړو له جملې څخه د امنیت شورای څلور دایمي غړي (پرته له چین)، د اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای د هرې دورې لپاره د غړو په عنوان ټاکل کیږي. چین په ۱۹۷۲ م کال په ډیرې چټکۍ سره د نوموړې شورای غړیتوب تر لاسه کړ. همدا شان غیر غړي دولتونه، ملي آزادۍ بښوونکي جنبشونه او نور تشکیلات کولای شي، چې د رأیې حق پرته اقتصادي او ټولینزو چارو شورای په غونډو او بحثونو کې ګډون وکړئ. د هرو دریو کالو په پای کې د اقتصادیاو ټولنیزو چارو شورای بدلون مومي او (۹) نور نوي غړي د پخوانیو غړو ځای نیسي. هر غړی هیواد یوه نمایندګي او رأیه لري. د رأیو د برابرۍ اصل باید په هغوی باندې حاکم وي، اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای دایمي غړي نه لري(٦:١٣٥).

**د کار طرزالعمل**

اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای معمولا دوې شورا ګانې لري، چې په کال کې دوه ځلې غونډې کوي. چې پنځه اونۍ وخت نیسي- چې په نوبتي ډول په نیویارک او ژینوا کې دایریږي.

په دغه غونډو کې د غړو هیوادونو د مشرانو، وزیرانو او نورو لوړپوړو چارواکو په ګډون د مهمو اقتصادي او ټولنیزو مسائلو په هکله بحث کیږي. د ټولنیزو او اقتصادي چارو عالی شورای په کال کې دوه ځلې غونډې لري. ددې شورای اوله غونډه د اپریل د میاشتې په اوله سه شنبې او دوهمه غونډه یې د کلنۍ غونډې څخه شپږ اونۍ وړاندې دایریږي. د

اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای فوق العاده غونډه د سرمنشي او د شورای د اکثريت غړو په غوښتنه، په داسې حال کې چې په روغتيايي، اقتصادي او ټولنيزو برخو کې بحرانونه رامنځ ته شي،دايريږي.

د اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای دندې او د اختياراتو حدود د ملګرو ملتونو سازمان د منشور په (٦١ نه تر ۷۲) مادو کې ذکر شويدي. د دغو مادو له جملې څخه (٦٨) امه ماده داسې ليکي: (اقتصادي او ټولنيزو چارو د کيفيت د لوړولو لپاره چې هغه د انساني حقوقو په هلکه وي داسې کميټې جوړولای شي، چې د دغه شورای د دندو د اجرأ لپاره اړينې وي) (۲:۳۰).

د دغې اصلي موخې په پام کې نيولو سره اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د نړيوالې همکارۍ او تعاون لپاره ځانګړي تخصصي- مؤسسې او سيمه ييز اقتصادي کميسيونونه (اسيا، اروپا او د بشر- د حقوقو کميسيونونه) جوړولای شي.

اقتصادي او ټولينزو چارو شورای هيڅکله د خپلو پريکړو د اجرأ واک او اختيارات نه درلود، او هم د الزامي پريکړو د تصويب حق نه لري. نشي-کولای د عمومي اسامبلې پرته په خپلواکه توګه عمل وکړي.

يوائې کولای شي چې قطعنامې صادرې کړي، چې د خپلې غونډې او د سازمان د غړو لپاره د سپارښتنې په معنی دي، چې د اکثريت ساده رأيو په واسطه تصويبيږي.(١٥٥:٦)

يوائې د ملګرو ملتونو سازمان د کورني طرزالعمل له مخې شورای د موضوعاتو د اجرأ الزامي واک لري. ولې په نورو مسائلو کې د تصميم نيولو واقعي واک نه لري. د زياتو نړيوالو ملي واکمنو ډلو له خوا زيات شکايتونه د نړۍ د زياتو هيوادونو له خوا د بشري حقوقو څخه سرغړونه او د هغوي سره څه ډول سلوک ترسره شي. ددغه مسائلو په مطالعې سره، شورای

توانيدلې، چې په يو لړ مسائلو کې مثتبې لاسوهنې وکړي او رغنده اقدامات ترسره کړي او د بشري حقوقو کميسيون د بشري حقوقو د پراختيا په هکله مهم نقش لوبولی دی.

همدرانګه د ۱۹٦٦ م کال د ترون له مخې اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای په اقتصادي چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان يو فعال ارګان بلل شوی دی. د بيلګې په توګه يو لړ اقتصادي ارګانونه چې د نوموړې شورای تر څارنې لاندې کار او فعاليت کوي اشاره کيږي: د سوداګرۍ او د عمومي تعرفو، د بيا رغونې او پراختيا نړيوال بانګ، د پراختيا نړيواله مؤسسه، مالي نړيوال شرکت، د کرهنې د پراختيا نړيوال صندوق، د ملګرو ملتونو سازمان اقتصادي کميسيونونه، د سوداګرۍ د پراختيا په برخه کې، د ملګرو ملتونو کنفرانس (آنکتاد)، ټولنيزه او اقتصادي شورای د اقتصاد د پراختيا په برخه کې، د تکنالوژۍ او د علومو د پرمختګ په برخه کې پروګرامونه جوړوي او عمل ورباندې کوي.

د بشري حقوقو، طبيعي سرچينو، چاپيريال ساتنې، انرژۍ، اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای پراخ مسؤليتونه لري. له دې پرته نوموړې شورای پورې تړلي اختصاصی نړيوال سازمانونه لري، چې د ملګرو ملتونو سازمان له غړو څخه تشکيل شويدي، چې خپله موده ددې شورای تر څارنې لاندې ترسره کړي.

اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د ملګروملتونوسازمان څخه جلا بوديجه لري. او هر غړی يوه رأيه لري. شورای خپلې پريکړې د رأيو په اکثريت سره تصويبوي اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د خپلو غړو د دولتونو لپاره الزامي پريکړې نشي تصويب کولای، بلکې يوازې د سپارښتنې حق لري. چې غړو دولتونو، عمومي اسامبلې او اختصاصي

سازمانونو ته يې وړاندې کوي. وړاندې له دې چې د اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د دندو جزيات وړاندې کړو بايد يادونه وکړو چې، د اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د کار او فعاليت ساحه ډيره پراخه ده، چې محدود اختيارات لري. ددې شورای اکثره فعاليتونه د اختصاصي سازمانونو په وجود کې ترسره کيږي.

دا امر ددې سبب کيږي چې اقتصادي او ټوليزو چارو شورای په بشپړيدونکي ارګان بدل شي. اوس د ملګرو ملتونو سازمان د منشور په (٦٢) ماده کې د شورای دندو او اختياراتو ته اشاره شويده (١١:١٨٨).

(اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای کولای شي چې د نړيوالې اقتصادي، ټولينزو، فرهنګي، روزنيز او روغتيايي او دغه ډول د نور مسائلو په باب څيړنې وکړې، او د راپورونو ترتيبول پيل کړي، او ددغه مسائلو په اړوند د ملګرو ملتونو سازمان او اړوند خصوصيت سازمانونو ته سپارښتنې وکړي. او همدا شان د اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای کولای شي د بشري حقوقو او د ټولو خلکو د فطري ازادۍ او انسان ته د درناوي په اړه سپارښتنې وکړي. دغه شورای کولای شي چې د کار په دايره کې د اړوندو مسائلو په باب عمومي اسامبلې ته خپلې مسودې او ژمنې ترتيب او وړاندې کړي.

د ملګرو ملتونو سازمان له مقرراتو او قواعدو سره سم د خپل کار د اړوندو مسائلو په باره کې نړيوال کنفرانسونه پرانيستی شي)(۴:١٦١).

**د مطالعاتو اجرأ کول**

دملګروملتونو سازمان منشور (٦٢) مادې د لومړۍ فقرې سره سم اقتصادي او ټولنيزې چارو شورای کولای شي، چې په اقتصادي، فرهنګي، ورزشي،روغتيايي او نورو چارو پورې اړوند نړيوالو مسائلو په برخه کې مطالعات ترسره او په دې هکله راپورونه ترتيب او وړاندې کړي. پدې

برخه کې عمومي اسامبلې او اړوند تخصصي- مؤسساتو ته سپارښتنه وکړي، د دا ډول مطالعاتو او څیړنو د اجرأ په اړه سپارښتنې باید سرمنشي- سیمه‌ییز اقتصادي کمیسیونه، ځانګړو کمیټو، د کارپوهانو ډلو او یا تخصصي سازمانونو ته ور ورسیږي.(۱۵۱:۶)

**سپارښتلیکونه صادرول**

د ملګرو ملتونو سازمان منشور (۶۲) مادې د دوهمې فقرې د حکم له مخې اقتصادي او ټولیزو چارو شورای کولای شي د بشري حقوقو او اساسي ازادیو ته د واقعي درناوي په منظور ټولو ته تشریفي سپارښتنې وکړئ. ددې مادې پربنسټ دوه ټکي د یادولو وړ دي. لومړی دا چې شورای کولای شي د (بشر د حقوقو او اساسي آزادیو) په هکله خپل دریځ ولري. دوهم دا چې شورای یوازې کولای شي، چې سپارښتنې صادرې کړي باید بله ژبه هیڅ حق ونه لري چې دولتونو ته الزامي پریکړې صادرې کړي. په همدې لحاظ په خپلو قعطنامو کې داسې عبارتونه لکه (بلنه درکول کیږي)، (لمانځل کیږي) اود نورو څخه کار اخیستلی شي. دا سپارښتنه کیدای شي ټولو ته یو خطاب وي، او دا په خپل ذات کې امر دی چې شورای د مخاطب په وړاندې هیڅ ډول محدودیتونه نه لري. او شورای کولای شي خپل سپارښت لیکونه چې عمومي اسامبلې، تخصصي سازمانونو او دولتونو ته خطاب پکې شوی وي، صادر کړي.

**د کنوانسیونونو د مسودې ترتیبول**

اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای په ځانګړو چارو کې چې شورای یې واک او اختیار ولري د کنوانسیونونو مسودې ترتیب او عمومي اسامبلې ته یې وړاندې کړي، چې وروسته په تصویب ورسیږي. لکه د (نسل زادایې مخنیوی) یوه بله اړتیا چې دقیقې څیړنې ته اړتیا لري، باید نړیوالو

کنفرانسونو ته يې وړاندې کړي او د شورای د واک او صلاحيتونو څخه هم ده، هغه (بې صلاحيته اشخاصو په هکله پرتوکول) د کنوانسيون مسوده ده، چې د شورای له خوا ترتيب او په ۱۹۵۴ م کال کې د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي کنفرانس ته وړاندې شوه.

**د نړۍ والو کنفرانسونو تشکيل**

د ملګرو ملتونو سازمان منشور د (۴۲) مادې د (۴) فقرې د حکم سره سم اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای کولای شي، د هغه مسائلو په باره کې چې ذکر شويدي شورای يې واک او اختيار لري او د قواعدو او مقرراتو سره سم کنفرانسونه داير کړي.

د کنوانسيونونو د مسودې د ترتيبولو پرته شورای واک لري، چې د بيلا بيلو موضوعاتو په باره کې نړيوال کنفرانسونه را وغواړي. ددغه کنفرانسونو په هکله بايد ووايو چې دغه کنفرانسونه لازمه بين الدوستي بڼه نه لري لکه د (۱۹۵۴م کال د نړۍ د جميعت کنفرانس) يا غير دولتي او يا سيمه ييز وي او يا (د کار پوهانو د غونډو په څير) يا د (سرچينو څخه د ګټې اخيستنې او ساتنې علمي کنفرانس) وي، او بالاخره د دا ډول کنفرانسونو موضوعات کيدای شي بيلا بيل وي لکه (روغتيايي چارې وړل او راوړل، سوداګري، مهاجرت او داسې نور)(۱۴:۱۸۹)

**د تخصصي سازمانونو سره مرسته او د هغوي ترمنځ د همغږۍ ټينګښت**

د اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای يوه مهه دنده د ملګرو ملتونو سازمان د تخصصي سازمانونو ترمنځ د همغږۍ د شرايطو رامنځ ته کول دي. د ذکر شوې شوارى او تخصصي سازمانونو ترمنځ د اړيکو ټينګښت د تړونونو پربنسټ صورت مومي، د منشور د (۶۳) مادې د حکم سره سم (اقتصادي او ټولنيزو چارو شورای د تخصصي- سازمانونو سره تړونونه

لاسلیک کولای شي او هم هغه شرطونه روښانه کولای شي کوم چې د هغه پربنسټ اړونده څانګې د ملګرو ملتونو په سازمان پورې تړل کیدای شي. دغه ډول تړونونه به د عمومي اسامبلې په منظورۍ باندې ترسره کیږي.

اقتصادي او ټولینزو چارو شورای به ددغه ډول خصوصي سازمانونو په اجراعاتو کې هغوی ته مسودې ورکوي او د بلې خوا به عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو سازمان غړو ته سپارښتنې کوئ چې په دې ټوګه همغږي پیدا کړئ) (۶۳:۱۷)

په اوسني وخت کې د ملګرو ملتونو سازمان د اقتصادي او ټولنیزو چارو شورای له لارې د (۱۶) تخصصي سازمانونو سره تړونونه لاسلیک کړیدي، چې نوموړي سازمانونه عبارت دي له: د مخابراتو نړیواله اتحادیه (ITU)، د خوراکي موادو نړیوال سازمان (FAO)، د پیسو نړیوال صندوق(IMF)، د بیارغونې او پراختیا نړیوال بانګ (IBRD)، مالي نړیواله اتحادیه (IFC)، په عملي، فرهنګي، ښوونې او روزنې په برخه کې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان (UNCSCO)، د ملکي هوانوردۍ نړیوال سازمان (WMO)، د سمندرونو نړیوال سازمان (IMO) او د صنعت په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان (UNIDO) دلته د یادلو وړده، چې (د اټومي انرژۍ نړیوال آژانس) د تخصصي سازمان په ډله کې نشو حسابولای. هغه هوکړه چې دغې آژانس د ملګرو ملتونو سره په ۱۹۵۷م کال د نومبر د میاشتې په (۱۴) نیټه لاسلیک کړه او د عمومي اسامبلې له خوا هم په تصویب رسیدلې ده. د هغو اغیزو له امله چې د نوموړي اژانس یې په نړیواله سوله او امنیت او د اتمي انرژۍ په پراختیا باندې یې کړې زیاته خپلواکي ورکړل شویده.

د اژآنس اصلي اړیکې د عمومي اسامبلې او امنیت شورای سره دي، نه

د ټولنيزو او اقتصادي چارو شوراى سره، پورته ذكر شوي تخصصيـ سازمانونه ځانګړې بوديجه لري، چې د خپل طرزالعمل پربنسټ يې په لګښت رسوي.(۱۰:۱۹)

**و- دارالانشأ**

د ملګرو ملتونو سازمان د (۷) مادې د حكم سره سم، دارالانشأ د ملګرو ملتونو سازمان يو له مهو ارګانونو څخه شميرل كيږي. د منشور د (۹۷) مادې د حكم سره سم دارالانشأ د يوه منشيـ او نورو داسې غړو څخه جوړيږي، چې د دې نظم لپاره اړين وي. تر هغه ځايه چې د دارالانشأ نقش او فعاليتونه تر ډيره بريده د سر منشي په شخصيت پورې اړه لري.په لومړيو كې د سرمنشي په عنوان او وروسته دارالانشأ او د هغې د نړيوالې پيژندګلوۍ په مورد مطالعه تر غور لاندې نيول كيږي.

**ز- سرمنشي**

سرمنشي د ملګرو ملتونو سازمان لوړ رتبه چارواكى بلل شوى، چې د دارالانشأ رهبري په غاړه لري.د سانسفرانسكو د كنفرانس وړاندې طرحې موجودې وې، چې د هغه پر بنسټ د سازمان اداري چارې د سرمنشيـ په غاړه او اجرائوي دنده د يوه اجرائوي رئيس په غاړه ايښودل كيدې. ولې دغه طرحې په تصويب ونه رسيدې، نو ځكه دواړه دندې د سرمنشي له خوا په مخ وړل كيږي.

**ح- د سرمنشي د ټاكلو بنه**

د سرمنشي د ټاكلو لپاره په لومړي ګام كې د امنيت شوراى له خوا په يوه ځانګړې غونډه كې نوماندان څيړي او ارزوي يې، د رأيې وركونې وروسته په غير تشريفاتي ډول د يوې قعطنامې په صادرولو سره يو له دغه

نوماندانو څخه د نامزد سرمنشي په توګه عمومي اسامبلې ته ورپیژني. له دې وروسته غونډه د ځانګړو خبرو اترو په ترڅ کې ارزوي او وروسته د اسامبلې په عمومي غونډه کې د مخفي رأیو په ورکولو سره خپل قطعي نظر اعلانوي. د سرمنشي د خدمت موده په منشور کې نه وه ټاکل شوې، ولې په ۱۹۴٦م کال کې عمومي اسامبلې د سرمنشي د خدمت موده (۵) کاله وټاکله او د تمدید وړ ده.

د ملګرو ملتونو سازمان د تأسیس نه را پدې خوا لاندې اشخاصو د سرمنشي په توګه خپلې دندې ترسره کړې دي.

۱: تریګولي (Trygirelie) د ۱۹۴٦ م کال د فبروری څخه تر ۱۹۵۳م د اپریل پورې، مخکې له دې یې د ناروې د بهرنیو چارو وزیر په توګه دنده ترسره کوله.

۲: ډګ هامرشولډ (Dag Hammar Shjlod) د ۱۹۵۳ مکال د اپریل نه تر ۱۹٦۱م کال تر ډسمبر پورې، نوموړی وړاندې له دې د سویډن د بهرنیو چارو د کفیل په توګه دنده ترسره کوله.

۳: اوتانت (U – Tant) د ۱۹٦۱م کال د ډسمبر نه تر ۱۹۷۲م کال تر جون پورې، له دې وړاندې یې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د برما هیواد د سیاسي نماینده ګۍ د رئیس په توګه دنده ترسره کوله.

۴: کورت والد هیام (Kurt Wald Heim) له ۱۹۷۲م کال د جون څخه تر ۱۹۸۲م کال تر جون پورې، چې د اتریش وګړی وو.

۵: خاوید پرزدیکو تیاره (Jaried Perez Decalleara) د ۱۹۸۲م کال د جون څخه تر ۱۹۹۲م کال تر مې پورې، چې د پیرو وکړی وو.

٦: پطروس پطروس غالی (Bautros Bautros Ghali) د ۱۱۹۲م کال د جون څخه د ۱۹۹٦م کال د ډسمبر تر پای پورې، چې د مر وکړی وو.

۷: کـوفی عنـان (Kufi Annan) د ۱۹۹۷م کـال د جنـوري د پیـل نـه تـر ۲۰۰٦ کال د ډسمبر تر پای پورې، چې د غنا وګړی وو.

۷: بـانکی مـون (Banki Moon) د ۲۰۰۷ کـال د جنـوري د پیـل نـه تـر ۲۰۱۱ ډسمبر پورې، چې د جنوبي کوریا وګړی وو.

**ب: د سرمنشي دندې او اختیارات**

د سرمنشي دندې او اختیارت د ملګرو ملتونو سـازمان منشـور لـه (۹۷) څخه تر (۱۰۱) مادو کې درج شویدي، په ټولیز ډول د سرمنشي دندې په دوه ډوله ویشلای شو.

۱: اداري دندې ۲: اجرأیوي دندې

۱: اداری دندې: سرمنشي د ملګرو ملتونو سـازمان لـوړ اداري ارګـان دی، چې عمده او اساسي دندې یې عبارت دي له:

د هِو غونډو په صحیحه بڼه تظمین، چې د ملګرو ملتونو سازمان له خـوا رابلل کیږي. د کنفرانسونو د کار د قانون او روس په هکله وړاندیزونه.

د اسنادو د مسودې د ترتیبولو په هکله مسلکي او حقوقي مشورې.

د تخصصي سازمانونو او دارالانشأ ترمنځ د همکاریو همغږي کول.

د سازمان د کلنۍ بودیجې د تنظیم مسؤلیت.

د نړیوالو تړونونو امانـت سـاتل، ((سرمنشيـ لـه (٦۰) زیـات څـو اړخیـز تړونونه امانت ساتلی شي)) عمومي اسامبلې ته د خپل کـار او فعالیـت پـه اړه راپورټ ورکول.

۲: د سرمنشيـ اجرأیـوي دنـدې: د سرمنشيـ اجرأیـوي دنـدې سـیاسي ماهیت لري، او د دغو غونډو په بـاور سرمنشيـ کـولای شي پـه نړیـوال سیاست کې فعال او مهم نقش ولوبوئ په ۱۹٦۱م کال کې د شـوروی اتحاد دولـت وړانـدیز وکـړ چـې د سرمنشيـ مقـام دې د (درې کسـیزه

پلاوي) په واسطه ونیول شي. دغه وړاندیز د (ډګ هامر شولډ) د سیاسي عملکرد او اختیاراتو څخه د شوروي اتحاد ناراضایتي په ګوته کوله. تر هغه ځایه چې دغې وړاندیز د سرمنشي د پام وړ نقش راکم او د هغې اختیارت یې د یوه رئیس تر کچې راټیټ کړل او په عمومي اسامبله کې د دولت د ټولو استازو له خوا ومنل شو. پورته ټکي ته په پام سره د سرمنشي بنسټیز اجرأیوي دندې په لاندې ډول سره دي.

د نړیوالې سولې او امنیت اړوند مسائلو ته د امنیت شورای د پاملرنې راجلبول د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو په برخه کې د شتو نیمګړتیاوو د پوره کولو په هکله د عمل نوښت د بیګلې په توګه (ډګ هامر شولډ) د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي- د څوکۍ د ترلاسه کولو پرمهال په ۱۹۵۷م کال کې اعلان وکړي چې (د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې په موخه د هر ډول نیمګړتیاوو د پوره کولو او د تشو د ډکولو په موخه د منشور په رڼا کې دیپلوماتیکه او سنتي هڅه کوئ).

- **د دارالانشأ بنسټ:**

د دارالانشأ نړیوال هویت: د ملګرو ملتونو سازمان منشور(۱۰۰) ماده د دارالانشأ د نړیوال هویت په هکله لیکي:(سرمنشي- او دده عمله د خپلو دندو په اجرأ کولو کې له کوم دولت څخه او ددې سازمان د باندې د کوم بل واک څخه لارښوونه او هدایت نه غواړئ او نه یې څوک ورکولای شي.دوی له هر داسې عمل څخه ځان ژغوري، چې د ملګرو ملتونو د سازمان په وړاندې یوازې د نړیوالو مسؤلو مامورینو په حیث د دوی موقف اغیزمن کړي) (۳۸:۱۷).

په ۱۹۴۶م کال د فبرورۍ په (۱۳) نیټه د عمومي اسامبلې په لومړۍ غونډه کې د پنځم کمیسیون په وړاندیز،د ملګرو ملتونو سازمان سرمنشي ته

دنده وسپارل شوه،چې د دارالانشأ څانګه په لاندې شرحه تشکیل کړي:

۱. د کورنۍ څارنې او مراقبت دفتر(DIOS): څوک د سازمان د بېلا بیلو دندو د اجرأ مسؤلیت په غاړه لري؟

۲. د حقوقي چارو دفتر(OLA):چې په حقوقي، عمومي، خصوصي، کورنیو او نړیوالو مسائلو کې څوک د سرمنشي۔ دلارښوونې او مشورې ورکولو مسؤلیت په غاړه لري؟

۳. د سیاسی چارو په برخه کې(DPA):څوک د ستونزو د تعقیب، څارنې او د پریکړو د عملی کولو په برخه کې د سرمنشي۔ د لارښوونې مسؤلیت په غاړه لري؟

۴. د سولې ساتنې د عملیاتو په برخه کې(DPD): څوک د سوله ساتنې د عملیاتو د اجرأ د مدیریت مسؤلیت په غاړه لري؟ د بیلګې په توګه په ۱۹۹۸م کال کې د سوله ساتنې په (۱۷) ماموریتونو کې قابو (۱۴۵۰۰) سربازانو فعالیت درلود.

۵. د بشر۔ دوستۍ په چارو کې د همغږۍ اداره (COHA): څوک د همکارۍ په رامنځته کولو، د ماموریتونو د اړتیا او ضرورتونو اټکل، د غوښتنلیکونو، تجهیراتو او د امکاناتو د برابرولو مسؤلیت په غاړه لري؟

٦. د بې وسلې کولو په برخه کې (DDA): څوک د عمومي اسامبلې د بې وسلې کولو له کمیټې سره همکارۍ لري؟

تر ډیره بریده د هسته اي بې وسلې کولو په برخه کې کار او فعالیت کوي. په یو لړ نورو مواردو کې لکه د ډله ییزې وژنې، د وسلو نه تولید، د قراردادي وسلو بې وسلې کول او په ځانګړې توګه د سپکو وسلو او ځمکني ماینونه چې معمولا په معاصرو جګړو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي، ددې برخې له فعالیتونو څخه شمیرل کیږي.

۷. د اقتصادي او ټولنيزو چارو څانگه (DESA): لاندېدندې لري په پراخه پيمانه سره د اقتصادي،ټولنيزو او چاپيريال ساتنې مسائلو په برخه کې د اطلاعاتو تأمينول دي او په دې برخه کې د بين الحکمتي بيستونو لپاره د خبرو اترو او اړيکو د شرايطو برابرول.

۸: د عمومي اساملبې او کنفرانسونو څانگه (DGASCS): څوک د ملگرو ملتونو سازمان د عمومي اساملبې او د هغې د اصلي او فرعي کميټو د چارو ټولنيزې او اقتصادي شورای او نورو فرعي ارگانونو سره د غونډو او کنفرانسونو په دايرولو کې مرسته کوي.

۹: د عمومي اطلاعاتو څانگه (DPI):څوک له دريو برخو څخه تشکل شويدي، د ملگرو ملتونو سازمان پورې وتړي تلويزيونونو، راديو او نورو خپرونو څخه مشتلمه ده. د عمومي خدماتو برخه چې د ملگرو ملتونو سازمان کنفرانسونو ته د اطلاعاتو او خبرونو رسولو مسؤليت په غاړه لري.

۱۰: د مديريت څانگه (DM): څوک ددې مديرت د عمده او اساسي کړنو د تدوين مسؤليت په غاړه لري؟ ددغو کړنو له جملېڅخه د مالي او انساني سرچينو يادونه کولای شو چې په مجوعي ډول ددې مديريت ملاتړ ورسره وي.

۱۱: د ملگرو ملتونوسازمان د امنيتي همغږی دفتر (UNSECOORD): څوک بحراني حالاتو ته د ځواب ويلو او د امنيتي سياستونو مسؤليت په غاړه لري؟

**۵: د قيموميت شورای تاريخچه**

نومو ړې شورای د ملگرو ملتونو سازمان يو له شپږو ارگانون څخه شميرل کيږي چې د قيموميت لاندې ځمکو باندې څارنه کوي. دغه شورای چې د ملتونو د ټولنې په ميثاق کې (Mandate) او د ملگرو ملتونو

سازمان په منشور کې د (Trusteeship) په نوم یادیږي ددغه شورای کړه وړه په هغو سیمو ترسره کیدل چې بې سرنوشته بلل کیدې هغه هیوادونه چې ددغه سیمو سر پرستي یې په غاړه درلوده د ملتونو ټولنې ته منسوب کیدل ددغه تأسیس شوي نظام په موجب دغه سیمې چې د آلمان د واک د عثماني امپراطورۍ په لومړۍ نړیواله جګړه کې مغلوب هیوادونه د واک لاندې وو دفاع هیوادونو تر سرپرستۍ لاندې راغلل.

د قیمومیت شورای د سانسفرانسسکو په کنفرانس کې تأسیس چې د ملتونو ټولنې د نماینده ګۍ سیستم ځای یې ونیو. قیمومیت د نظام په هکله د ملګرو ملتونو د منشور په (۷٦) ماده کې په صراحت سره بیان شوی دی (د قمیومیت سیمو د اوسیدنکو سیاسي، ټولنیزو او روزنیزو حالاتو پرمختګ په نظر کې نیول او د هغو سیمو د اوسیدونکو د حالاتو سره سم د قومونو د غوښتنې له مخې د قیمومیت د تړون په اساس د داسې حالاتو رامنځته کول چې د هغې سره سم ترلاس لاندې سیمه ازادۍ ته ورسیږي.نژاد، جنس، ژبیاو د مذهبي توپیر پرته د انساني حقوقو او د انسانانو فطري ازادیوته درناوی، یو او بل دې ته هڅول چې د پورته اصل سره سم ټول انساني کرامت ته درناوی د ملګرو ملتونو سازمان د ټولو ارګانونو او د دې سیمو د اوسیدونکو لپاره په ټولنیز او اقتصادي چارو کې د مساویانه سلوک تضمینول او د وروستي مقصد په غرض بې له دې چې د لمړنیو مقصدونو لاسته راوړلو ته کوم زیان ونه رسیږي، د (۸۰) ومې مادې له شرطونو سره سم د عدالت په دایره کې د مساویانه سلوک ضمانت)(۷٦:۱۷).

و: اوله ډله هغه سیمې دي چې، د یوې لنډې مودې لپاره د سرپرستۍ لاندې یې قرار درلود.

د خپلواکۍ او خودمختارۍ د لاسته راوړلو لپاره يې بشپړتياوې درلودې. لکه (لويديځې سيمې چې پخوا د عثماني امپراطورۍ اجزاوې بلل کيدې)

ز: دوهمه ډله هغه سيمې وې، چې د هغوی سره په نيږدې راتلوونکي کې د خپلواکۍ د ورکولو ژمنې نه وې شوې. او پريکړه شوې وه، چې د مستعمرې په عنوان د اداره شئ، او د هغوی لمړني حقوق د تضمين شي. (د افريقا په ختيځ او لوديځ کې د آلمان مستعمرې).

ه: دريمه ډله هغه سيمې، چې د پريکړې له مخې د (سرپرستو هيوادونو برخې وګرځول شي) اداره شي او هغوي ته د خپلواکۍ د ورکړې ژمنې نه وې شوې. د ميثاق پربنسټ د دغو سيمو د سرپرستو هيوادونو له خوا اداره کولو په موخه يو دايمي کميسيون چې د ځانګړي کار پوهانو څخه متشکل وو تشکيل شوي وو. چې تردې دمه يې خپلواکي نه ده ترلاسه کړې. (د جنوب لويديځې افريقا په استثنا) د قيموميت شورای ترڅارنې لاندې راغلې. د دوهمې نړيوالې جګړې په پايله کې يوازې يوه سيمه د ايټاليا (سومالي لنډ) د قيموميت شورای د ادارې لاندې راغله.

د قيموميت لاندې سيمې د اداره کوونکو هيوادونو د هوکړې پربنسټ چې عمومي اسامبلې هغه هم په تصويب ورسولې، د قيموميت لاندې راغلې.ددغه سيمو څخه اداره کول او څارنه، د قيموميت شورای په غاړه ور واچول شول، چې د کلنيو راپورونو، د سيمو د اوسيدونکو شکايتونو ته لاس رسی او دغو سيمو ته د پلاوو د ليږلو پربنسټ خپلې دندې سرته رسولې. د ملګرو ملتونو هيواد په غاړه اچول کيدل، چې ددې سيمې مادي او معنوي شريط ښه والی پيداکړي او د خپلواکۍ لپاره يې شرايط برابر کړي. (۲۰۲:۱۲)

و: د قيموميت نظام: د ملګرو ملتونو سازمان د منشور سره د قيموميت

نظام یو د څارنې نظام دی، چې په دوه ډوله سیمو باندې د څارنې اعمال ترسره کوي. یو په ستراتیژیکو او دوهم یې په غیر ستراتیژیکو سیمو باندې، په ستراتیژیکو سیمو باندې څارنه د امنیت شورای په قیمومیت پورې اړه لري. او په غیر ستراتیژیکو سیمو باندې څارنه د عمومي اسامبلې په پریکړه پورې تړلې ده. د یادلو وړ ده چې د ملګرو ملتونو سازمان د قیمومیت نظام امنیت د ملتونو د ټولنیز نظام ته ډیر پراخ دی. د منشور د (۷۷) مادې د حکم سره سم د قیمومیت نظام په درې ډوله سیمه باندې پلی کیږي.

الف: هغه سیمې چې په حاضر وخت کې تر سر پرستۍ لاندې قرار لري.

ب: هغه سیمې چې د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته له هیوادونو څخه جلا شوې وې.

ج: هغه سیمې چې په خپله خوښه د اداره کوونکو هیوادونو له خوا د قیمومیت نظام ته شاملې شوې وې، چې ددغو سیمو نظم او نسق پر غاړه لري. په اوسنیو شرایطو کې یوازې د (الف) ډلې سیمې او په یو لړ مواردو کې د (ب) ډلې سیمې د قیمومیت نظام لاندې قرار لري. یوائې هغه سیمې چې د منشور په (۷۷) ماده دوهمه فقره کې شاملې دي، چې اوس یې خپلواکي ترلاسه کړې او همغه د ایټالیا(سومالې لنډ) سیمه ده. د (۷۷) مادې د دریمې فقرې د حکم له مخې هیڅ یوه سیمه په خپله خوښه د قیمومیت د نظام لاندې نه وه اولا تر اوسه پورې ګټه نده ورڅخه اخیستل شوې، نو په همدې دلیل ویلای شو، چې د ملتونو ټولنې د میثاق سره سم قیمومیت نظام یوائې په هغه سیمو باندې پلی کیدو،چې د سرپرستۍ لاندې وې، مګر د یوې استثنا په پام کې نیولو سره هغه دا چې دا سیمې په خپل رضایت سره د قیمومیت د نظام لاندې راشي.

دا استثنا د هغه سیمو څخه عبارت ده، چې د دغه سیمو اداره کوونکي

د اداره کولو څخه ډډه وکړي. د بیلګې په توګه (د جنوب لودیځې افریقا سیمې چې جنوبی افریقا د قیمومیت د نظام په چاوکاټ کې د هغې د اداره کولو څخه ډډه وکړه).

د قیمومیت شورای فعالیتونه په (۱۹٦۸م) کال کې اوج ته ورسیدل، چې هر غړی یې مرکب وو له: د قیمومیت لاندې سیمو اداره کوونکي هیوادونه (آسترالیا، بریتانیا، متحده ایالات او نوی زلانډ)، د امنیت شورای درې دایمي غړي (چین، شوروی اتحاد او فرانسه) او د امنیت شورای یو انتخابي غړی.

د قیمومیت شورای دندې په لاندې میتودونو تر سره کیدې: عمومي اسامبلې ته د سپارښتنو وړاندې کول، د قیمومیت لاندې سیمو د استازو د شکایتونو اوریدل، د کلنیو ځانګړو راپوټونو ترتیبول او د قیمومیت لاندې سیمې ته د ځارنې په موخه د پلاوو استول.

د یادولو وړ ده چې د ټولو سوق الجیشي سیمو په هکله د ملګرو ملتونو سازمان دندې او د دغه دندو له جملې څخه د قیمومیت په هکله د هوکړه لیکونو د شرایطو تصویبول او د امنیت شورای په واسطه په هوکړه کې احتمالي تعدیل او اصلاح تر سره کیږي.(د امنیت شورای د قیمومیت د هوکړه لیکونو د شرطونو له مخې بې له دې چې د سولې او امنیت په برخه کې زیان ورسوي په هغه سیمو کې چې پوځي او سیاسي اهمیت لري. د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او روزنیزو چارو په اړه د ملګرو ملتونو د دندو په تر سره کولو کې د قیمومیت د شورای مرسته لاسته راوړي). (۸۳) ماده، دریمه فقره.

بل دا چې اداره کوونکي مقامونه مکلف دي، چې د نړیوالې سولې او امنیت په ساتنه کې د قیمومیت لاندې سیمو ونډې ته پاملرنه وکړي. په

همدې منظور اداره کوونکي مقامونه چې د امنیت شورای په وړانـدې یـې ژمنې کړې دي، د اجرا لپاره یې هڅې وکړې. د قیمومیت لاندې سیمو کـې د سیمییز نظم او قانون په ساتنه کې د قیمومیت لاندې سیمو د رضا کارانـه پوځونـو او نـورو وسـایلو څخـه کـار واخـلي. (د منشـور ۸۴ مـاده) قیمومیـت شورای ددې دندې په تر سره کولو کې د پام وړ بریاوې تر لاسه کړې دي.

تر ۱۹۸۲مکال پورې له (۱۱) نـه زیـاتې سـیمې موجـودې وې، چـې د قیمومیت لاندې یې قرار درلود، (۱۰) سیمو خپلواکي تر لاسـه کـړې او یـا دا چې د ملګرو ملتونو سازمان د څارنې لاندې د ټول پوښتنې په پایله کې په ګاونډیو هیوادونو پـورې وصـل شـوې. پـه (۱۹۶۰ کـال کـې توګولنـد او کامرون په فرانسې)، په (۱۹۶۰م کال سومالي لنډ (سومالي) په ایټالیې)، په ۱۹۶۱م کال کې بریتانوي کامرون (د هغې یوه برخه پـه نیجریـه او بلـه برخه یـې پـه کـامرون پـورې وتـړل شـوه)، پـه ۱۹۶۱م کـال کـې (تانګانیـا (تانزاینـا))، پـه ۱۹۶۲م کـال کـې روانـدا برونـدې (رونـډا- برونـدې)، پـه ۱۹۶۲م کال لودیځه سـاووای (سـاحوا)، پـه ۱۹۶۸م کـال (نـائورو) او (پـه ۱۹۷۵م کال نوې ګینه (نوی ګینه پاپوا)).

یوولسـمه او وروسـتۍ سـیمه چـې د قیمومیـت شـورای پـه نظـام کـې موجوده وه، په آرام اقیـانوس کـې د پـالائو ټـاپو وزمـه وه، چـې هغـه هـم د امریکا له خوا اداره کیـده. پـه ۱۹۹۴م کـال د نـومبر پـه لـومړۍ نیټـه یـې خپلواکي تر لاسه کړه او د امنیت شورای د پریکـړې لـه مخـې د قیمومیـت شورای څخه ووته.

په حاضر وخت کې د قیمومیت لاندې سیمې وجود نه لـري. قیمومیـت شورای خپل د کار قانون ته بدلون ورکړی او د اړتیا په صـورت کـې کـولای شي غونډه وکړي(۱۲: ۲۰۵،۲۰۳).

**د قیمومیت شورای صلاحیتونه او اختیارات**

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور (۸۷) ماده د قیمومیت شورای صلاحیتونه په ګوته کړي دي. ددې شورای دندې او اختیارات په لاندې ډول دي:

د قیمومیت شورای لاندې سیمو اوسیدونکو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په اړه د دغو سیمو د اداره کوونکو مقاماتو د حالاتو او شرایطو په پام کې نیولو سره، هره سیمه او ددغو سیمو خلکو د تمایلاتو سره سم کلنی راپوټ ترتیبوي، دغه کلني راپوټ د ملګرو ملتونو سازمان د پوښتنلیکونو پر بنسټ تنظیمېږي او قیمومیت شورای ته دا امکان ورکوي، چې د قیمومیت لاندې سیمو په هکله جامعي اطلاعات تر لاسه کړي.

شکایتونو ته لاسرسی، د قیمومیت لاندې سیمو د استازو غوښتنې، د څارنې او قیم هیواد سره د همغږۍ په موخه د قیمومیت لاندې سیمو ته د پلاوو استول او په اړه یې عمومي اسامبلې ته سپارښتنه کولای شي.

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د (۸۵) مادې د حکم سره سم قیمومیت شورای خپلې دندې د عمومي اسامبلې د څارنې لاندې تر سره کوي، ولې د منشور(۸۲ او ۸۳) مادې د هغو سیمو په هکله چې ستراتیژیک اهمیت ولري، وړاندوینه کوي. ددغو سوق الجیشي- سیمو د قیمومیت مسؤلیت د عمومي اسامبلې پر ځای د امنیت شورای په غاړه دي، چې په ټولنیز ژوند کې ددې سیمو اقتصادي، سیاسي او ټولنیز شرایط بدلون ومومي(٦:١٦٥،١٦۴).

## شپږم څپرکی

## د بشري حقونو نړیواله اعلامیه

د ۱۹۴۸زیږدیزکال د ډسمبر د لسمې مصوب
۱۳۲۷/۹/۱۹ لمریزکال

**سریزه**

څرنگه چې د بشري کورنۍ د ټولو غړو د ذاتي کرامت او د دوی د برابرو او نه بېلیدونکو حقونو پیژندل په نړۍ کې د سولې، آزادۍ او عدالت بنسټ جوړوي؛

څرنگه چې د بشري حقونو له پامه غورځول او د هغوی سپکاوی د داسې ناوړه او وحشیانه اعمالو لامل گرځي، چې د انساني وجدان بې حرمتي گڼل کیږي او هغې نړۍ ته رسیدنه چې انسانان پکې بې له ویرې او نیستۍ وکړای شي د بیان او عقیدې له آزادۍ گټه واخلي، د بشر د خورا لوړو آرمانونو په څېر اعلان شویدي؛

څرنگه چې د ظلم او جبر په مقابل کې د وروستۍ وسیلې یعنې بغاوت کولو څخه د انسان د ژغورلو لپاره د بشري حقونو ساتل د قانون حاکمیت پر مټ اړین شمیرل شوي؛

څرنگه چې د ملتونو په منځ کې د دوستانه اړیکو د ودې هڅول او پراخول اړین دي؛

څرنگه چې خلکو او ملگرو ملتونو د همدې سازمان په منشور کې د بشر د بنسټیزو حقونو، د انسان پر کرامت او ارزښت او د ښځې او نارینه د برابرو حقونو په اړه خپل باور بیا تیید کړي او پریکړه یې کړې ده، چې ټولنیزې پراختیا او د ژوند غوره معیارونو ته په پراخه آزادۍ کې وده ورکوي؛

څرنګه چې د ملګرو ملتونو غړو هیوادونو ژمنه کړې ده چې ددې سازمان په همکارۍ به په نړۍ واله کچه، بشري حقونو او بنسټيزو آزادیو ته په درنښت او د هغوی په څارنه کې زیاتوالی راولي؛

څرنګه چې د دې حقونو او آزادیو په وړاندې ګډ پوهاوی او پوهیدل ددې ژمنې د تر سره کولو لپاره د ډیر زیات اهمیت لرونکي دي؛

نو ځکه اوس د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د بشري حقونو دغه نړیواله اعلامیه خلکو او هیوادونو لپاره د بریالیتوب د یو ګډ معیار په توګه له دې هدف سره اعلاموي؛ چې هر فرد او د ټولنې هر غړی په پرله پسې ډول ددې اعلامیې په پام کې نیولو سره باید د ښوونې، روزنې او زده کړې له لارې هڅه وکړي، چې دغه آزادیو او حقونو دې درناوي وده ورکړي او د تدریجي او مترقي اقداماتو په مټ، ملي وي او که نړیوال، د هغې د بشپړ او اغیزناکه پیژندنه او څارنه هم په خپله د غړیو هیوادونو د خلکو او هم د هغو سیمو د خلکو په منځ کې تامین او تضمین کړي، چې د دوی د قانوني صلاحیت په حدودو کې اوسي.

**لومړۍ ماده**

ټول انسانان آزاد پیدا کیږي او یو ډول حقونه، عزت او کرامت لري. انسانان په عقل او وجدان سمبال شوي او باید یو له بل سره د ورور ګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

**دوهمه ماده**

هر څوک پرته له دې چې هر ډول توپیر څخه لکه نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي یا بله نظریه، ملي یا اجتماعي منشا، دارایي، د زیږیدنې یا بل موقف په نظر کې نیولو سره، د ټولوهغو حقونو مستحق دي، چې په دې اعلامیه کې راغلي دي.

**دریمه ماده**

هر څوک د ژوند آزادۍ او ځاني خونیتوب حق لري.

**څلورمه ماده**

هیڅوک په مریبتوب یا د غلام په حیث نه شي ساتل کیدای، مرییتوب او د غلامانو پیرودل باید په ټولو بڼو کې منع شي.

**پنځمه ماده**

هیڅوک باید ونه ربړول شي، او نه په ظالمانه او نا انساني توګه سپک شي تو یا سزا وويني.

**شپږمه ماده**

هر څوک حق لري، هر چیرته چې وي، د هغه حقوقي شخصیت د قانون پر وړاندې د یوه انسان په څیر وپیژندل شي.

**اوومه ماده**

ټول خلک د قانون په وړاندې یو برابر دي او ددې حق لري، چې د هر ډول تبعیض نه پرته په برابره توګه د قانوني ملاتړ مستحق وي، دوی حق لري چې د هر هغه تبعیض په وړاندې چې اعلامیه نقضوي اویا د هغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعیض ته لمن وهي په برابره توګه وساتل شي.

**آتمه ماده**

که د هر چا په آساسي حقونو، چې د آساسي قانون یا د کوم بل قانون له خوا پیژندل شوي وي، تیری وشي، دی حق لري، چې د صلاحیت لرونکو ملي محکمو په مټ د تلف شویو حقونو موثره تلافي تر لاسه کړي.

**نهمه ماده**

هیڅوک په خپل سر توقیف، بندي یا تبعید کیدای نه شي.

**لسمه ماده**

هر څوک په مساویانه ډول حق لري، چې دعوه یې د یوې بې پلوه او خپلواکې محکمې لخوا په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونیول شي او دغه شان محکمه به دده په حقونو او وجایبو او هغه الزام په باره کې پریکړه کوي، چې په ده لګول شوی وي.

**یوولسمه ماده**

یو) الف: په جرم هر تورن شوی فرد حق لري تر هغې بې ګناه و ګڼل شي، چې جرم یې په داسې یوه محاکمه کې ثابت شوی نه وي، چې تورن پکې د خپل دفاع لپاره ټول اړین او رسمي تضمینونه ونه لري.

دوه) ب: هیڅوک دداسې اعمالو تر سره کولو یا نه کولو په وجه محکوم کیدای نه شي، چې د اجرا کیدلو په وخت کې د ملي یا نړیوال قانون له مخې جرم نه شمیرل کیده، دغه راز هیڅوک د یوه جرم د کولو له امله، له هغه سخته سزا نه ویني، چې د جرم د اجرا کیدو په وخت کې د هغه جرم لپاره تعیین شوی وي.

**دولسمه ماده**

هیڅوک د چا په محرمیت، کورنۍ، کور یا لیکونو کې د خپلسرې مداخلې حق نه لري او نه یې پر نوم او حیثیت تعرض کیدای شي.

هر څوک ددې ډول حملو یا مداخلې په مقابل کې د قانوني ملاتړ حق لري.

**دیارلسمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري چې د هر هیواد په دننه کې آزادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

دوه) ب: هر څوک حق لري، چې د خپل هیواد په ګډون هر هیواد پریږدي او یا خپل هیواد ته راستون شي.

**څوارلسمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري چې د ځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو هیوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي.

دوه) ب: له دغه حق څخه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخیستل کیدای، که چیرې تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا د داسې اعمالو د تر سره کولو له امله وي چې د ملګرو ملتونو له موخو اواصولو سره توپیر ولري.

**پنځلسمه ماده**

یو) الف: هر څوک د تابعیت حق لري.

دوه) ب: هیڅوک باید له خپل تابیعت څخه محروم نه شي او نه یې باید دا حق باطل شي، چې خپل تابیعت ته تغییر ورکړي.

**شپاړسمه ماده**

یو) الف: ټول بالغ نارینه او ښځینه له هیڅ ډول محدودیت پرته لکه نژاد، ملیت، تابعیت یا مذهب څخه حق لري چې واده وکړي او کورنۍ تشکیل کړي.دوی د واده کولو پر وخت او د هغه په فسخ کولو کې یو ډول حقونه لري.

دوه) ب: واده یواځې په هغه وخت کې کیدای شي چې ښځه او میړه دواړه خپله بشپړه خوښه او رضا څرګنده کړي.

درې) ج: کورنۍ د ټولنې طبعي او بنسټییز واحد دی او حق لري چې د دولت او ټولنې له خوا یې ملاتړ وشي.

**اولسمه ماده**

الف: هر څوک په ځانګړي اویا ډله ییزه توګه د مالکیت حق لري.

ب: هیڅوک باید په خپلسري ډول د مالکیت له حق څخه بې برخې نه شي.

**اتلسمه ماده**

هر څوک د فکر، وجدان او مذهب د آزادۍ حق لري. په دې حق کې هغه آزادي شامله ده، چې خپل مذهب یا عقیدې ته تغییر ورکړي او دغه راز هغه آزادي، چې یواځې یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره یا خصوصي ډول خپله عقیده یا مذهب په زړه،عمل، عبادت کولو او د دیني مراسمو په اجرا کولو کې څرګند کړي، هم شاملیږي.

**نولسمه ماده**

هر څوک د بیان او نظر د آزادۍ حق لري په دې حق کې هغه آزادي هم شامله ده، چې بې له ویرې څخه مفکورې او نظر یې ولري او په هره وسیله، پرته له دې چې سرحدونه په پام کې ونیسي ـ، عقاید او معلومات ولټي، تر لاسه او خپاره یې کړي.

**شلمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري، چې په آزاد ډول سوله ییزې اتحادیې او ډلې جوړې کړي.

دوه)ب: هیڅوک باید په دې مجبوره نه شي، چې په کومې ډلې پورې وتړل شي.

**یوویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري، چې په مستقیمه یا په آزاد ډول د ټاکل شویو استازو په مټ د خپل هیواد په حکومتي چارو کې برخه واخلي.

دوه) ب: هر څوک حق لري، چې په براره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.

درې) ج: د خلکو اراده باید د حکومت د واک بنیاد جوړ کړي، دغه اراده باید په نوبتي ډول په ریښتینو انتخاباتو کې څرګنده شي.انتخابات باید د

رايې ورکولو د عمومي او برابر حق لـه مخـې وشي اوبايـد چـې د پټـې رايـې ورکولو او يا د رايې ورکولو د برابرۍ او آزادې طريقې سره سم تر سره شي.

**دوه ويشتمه ماده**

هر څوک د ټولنې د يوه غړي پـه توگـه حـق لـري، چـې ټـولنيز امنيـت ولري، او د ملي هڅو او نړيوالې همکارۍ له لارې د هر دولت د سـازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه تر لاسه کړي، چې دده د حيثيت او شخصيت د آزادې ودې لپاره اړين وي.

**درويشتمه ماده**

يو) الف:هر څوک حق لري، چې کار وکـړي، پـه آزاد ډول د ځـان لپـاره کار انتخاب کړي، د کار مناسب او عادلانـه شرايـط ولـري او د وزگارتيـا پـه وړاندې يې ملاتړ او ساتنه وشي.

دوه) ب: هر څوک بې له کوم تبعيض پرته حق لري، چې د برابر کار پـه مقابل کې برابره اجوره واخلي.

درې) ج: هر څوک چې کار کوي،د مناسب معاش حق لـري، چـې دده او دده د کورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمينوي او کـه ضروري وي حق لري، چې د نورو ټولنيزو محافظتي وسايلو پر مټ پياوړي شي.

څلور) د: هر څوک حق لري، چې د خپلو گټو د ساتلو په غـرض صـنفي اتحاديې جوړې کړي او له هغو سره يو ځای شي.

**څلورويشتمه ماده**

هر څوک د کار د سـاعتونو د مناسـب محـدوديت او د بـا معاشـه نـوبتي رخصتيو په شمول حق لري، چې استراحت او تفريح وکړي.

**پنځه ويشتمه ماده**

يو) الف: هر څـوک حـق لـري چـې د ځـان او د کـورنۍ د ژونـد کچـه د

سلامتیا او سوکالۍ، خوړو، کور، روغتیایي څارنو او ټولنیزو اړینو خدمتونو له پلوه تامین کړي او همدارنګه حق لري چې د وزګارتیا، ناروغۍ، معلولیت،کونډیتوب، زړښت او په ټولو هغه مواردو چې د انسان له ارادې بهر دي، د ژوند معیشت تامین نه شي کړای، باید د پتمن ژوند له شرایطو برخمن شي.

دوه) ب: میندې او ماشومان د ځانګړې پاملرنې او مرستې مستحق دي. ټول ماشومان که د نکاح په واسطه او یا بې نکاح پیدا شوي وي د مساوي ټولنیز خوندیتوب حق لري.

**شپږویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک د ښوونې، روزنې حق لري، ښوونه، روزنه باید لږ تر لږه په لومړنیو او آساسي زده کړو کې وړیا وي. لومړنۍ زده کړې باید اجباري وي، تخنیکي او مسلکي زده کړې باید عمومیت وموومي او لوړې زده کړې باید د ټولو پر مخ د استعداد او لیاقت پر آساس خلاصې وي.

دوه) ب: ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت او بشپړې ودې او بشري حقونو او اساسي آزادیو ته د احترام د زیاتوالي په اوري سوق شي. ښوونه، روزنه باید د ټولو ملتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي پیاوړې کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د ساتنې او پیاوړتیا لپاره غښتلې کړي.

درې) ج: میندې او پلرونه د لومړي توب حق لري. چې د ښوونې، روزنې هغه ډول انتخاب کړي، چې د دوي ماشومانو ته باید ورکړل شي.

**اووه ویشتمه ماده**

یو)الف: هر څوک حق لري په آزاده توګه د خپلې ټولنې په کولتوري فعالیتونو کې برخه واخلي.له هنرونو څخه ګټه پورته کړي او په علمي

پرمختګ کې شریک او له ګټو څخه یې برخمن شي.

دوه)ب: هر څوک د خپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ حق لري، چې دده په مټ له هرې علمي، فرهنګي او یا هنري تخلیق څخه رامنځته شوی وي.

**اته ویشتمه ماده**

هر څوک حق لري په داسې یو ټولنیز او نړیوال نظم کې ژوند وکړي، چې په دې اعلامیه کې بیان شوي او حقونه او آزادۍ یې په بشپړ ډول عملي شي.

**نه ویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک د هغې ټولنې په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري، چې د هغه د آزادۍ ودې او بشپړ شخصیت زمینه ورته چمتو کوي.

دوه)ب: هر څوک باید د خپلو حقونو او آزادیو په عملي کولو کې یواځې د هغو محدودیتونو تابع وي، چې د قانون په بنسټ ددې لپاره تعین شوي وي، چې د نورو آزادیو او حقونو ته په مناسب ډول احترام وشي او وپیژندل شي او په یوه دیموکراتیکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د مقتضیاتو، عامه نظم او هوساینې مراعات وشي.

درې)ج: دغه حقونه او آزادۍ باید په هیڅ صورت د ملګرو ملتونو د اصولو او موضوعاتو پر خلاف عملي نه شي.

**دیرشمه ماده**

پدې اعلامیه کې هیڅ یوه فقره یا ماده باید داسې تعبیر نه شي، چې کوم دولت، ډلې یا شخص ته ددې حق ورکړي چې په داسې فعالیت لاس پورې کړي یا داسې کار اجرا کړي چې هدف یې، په دې اعلامیه کې د ذکر شویو حقونو او آزادیو له منځه وړل وي.

# اووم څپرکی

## د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه

### سریزه

د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه په قاهره کې د اسلامي کنفرانس د تنظیم له خوا بیسته شوې. په دې اعلامیه کې د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي دولتونه پر اللهﷻ باندې په ایمان درلودلو سره د نړیوالو پروردګار او د کایناتو د پیدا کوونکي او د نعمتونو ښوونکي، هغه اللهﷻ چې انسان یې په غوره بڼه پیدا کړی او هغه ته یې حیثیت ورکړی دی او هغه یې د ځمکې پر مخ خپل خلیفه ګرځولی، هغه اللهﷻ چې د ځمکې ودانول او اصلاح یې د بشر پر غاړه اچولې او د الهی تکالیفو امانت یې د هغه پر اوږه اچولی، هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي د هغه په واک کې یې ورکړي دي او د حضرت محمدﷺ د رسالت په تصدیق سره چې خدای پاک هغه به یوه ریښتیني دین سره د هدایت لپاره رالیږلی او هغه یې د نړیوالو لپاره رحمت، د غلامانو آزادوونکی د طاغوتیانو او مستکبرانو ماتوونکی ګرځولی دی.هغه پیغمبرﷺ چې د ټول بشریت تر منځ یې برابري اعلام کړه او له تقوا پرته د هیچا په بل چا باندې په اومړیتوب قائل نه دي او د خلکو تر منځ یې واټنونه او کرکې له منځه یوړې او هغه انسان چې له یوه واحد روح څخه یې پیدا کړی دی او د بې مثاله توحید له په پام کې نیولو سره چې د اسلام جوړښت د هغه په ستنه باندې درول شوی دی، هغه عقیده چې بشریت یې دې ته راوباله چې پرته له اللهﷻ نه د بل چا عبادت ونه کړي او له خدای پاک سره شریک پیدا نه کړي او د اللهﷻ پر ځای هیڅوک د خدای پاک په نامه ونه منئ،

هغه عقیده چې د بشریت د واقعي آزادۍ او د هغه د حیثیت یې ایښې او د غلامۍ څخه یې د انسان خلاصون اعلام کړی دی. او د هغه څه د تحقیق لپاره چې په اسلامي شریعت کې راغلي دي د هغه له جملې څخه د دین، ځان، پوهې، ناموس، مال، نسل او نورو امتیازاتو لکه په ټولو دریځونو او احکامو کې منځلاري او عادل ساتل.دغه شریعت معنویات او ماده سره یو ځای کړل، عقل او زړه یې سره ونښلول، د حقوقو او وجایبو تر منځ یې موازنه منځ ته راوړه او د فرد حرمت او عمومي مصلحت تر منځ یې تلفیقات رامنځ ته کړل او د اړوندو اړخونو تر منځ یې د قسط معیارونه ټینګ کړل تر څو چې نه طغیاني وي او نه زیاني. او په بشري هلو ځلو کې د خپلې ونډې د تر سره کولو په غرض چې د بشر په حقونو پورې اړه لري، هغه حقونو چې هدف یې د ګټې اخیستنې او ظلم په وړاندې د یو بل ملاتړ دي او د هغه په هغه شرافتمندانه ژوند کې پر آزادۍ او حقونو تأکید چې له اسلامي شریعت سره همغږي دي پر دې باندې په باور سره هغه بشر چې په مادي علم کې ډېرو لوړو درجو ته رسیدلی دی، په پرلپسې توګه او په هر وخت کې د خپل تمدن د ساتلو په غرض یوې ایماني تکیې او له خپلو حقونو څخه د ملاتړ عامل ته ضرورت لري، سره یو لاس شي او پر دې باندې په باور سره په اسلام کې آساسي حقونه او عمومي آزادۍ د مسلمانانو د دین یو جز دی، نو هیڅوک په اصولي توګه د الهی احکامو د کلي یا جزئی متوقف کولو، تر پښو لاندې کولو او سترګو پټولو حق نه لري. هغه څه چې خدای(ج) خپلو کتابونو کې نازل کړي او خاتم النبین یې رالیږلی او د هغه په واسطه یې رسالت پای ته رسولی دی نو د هغو مراعاتول عبادت دی او په هغو کې سستي کول او یا له هغو څخه تجاوز کول منکرات دي. هر انسان په یوازې توګه د هغو د ساتلو او اجرأ کولو

مسؤلیت لري او امت په همغږه توګه په ګډ تضمین کې د هغه په وړاندې مسؤل دی، له دې امله د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي په دې آساس د بشر اسلامي حقونه په (۲۵) مادو کې اعلاموي.

**لومړۍ ماده**

۱ بشر په ټولیزه توګه یوه کورنۍ ده چې د خدای ﷻ په وړاندې بنده ګي او د حضرت آدم ؑ د زویتوب نسبت دوی سره یو ځای کړي او ټول خلک د انساني شرافت په اصل او د نژاد، ژبې، جنس، دیني اعتقاد، سیاسي ترون او ټولنیز حالت له هر ډول توپیر او مسؤلیت پرته یو برابر دي.

۲ د پاک خدای ﷻ ټول مخلوقات د یوې کورنۍ حیثیت لري او د خدای(ج) په وړاندې د دوی ډیر محبوب خپلو هم نوعانو ته ډیره ګټه رسوونکی دی او هیڅوک پر نورو لوړتیا نه لري، خو په تقوا او ښو کارونو کې.

**دوهمه ماده**

۱ ژوند د خدای ﷻ نعمت دی او د ژوند کولو حق تضمین شوی دی، په تولو افرادو او حکومتونو واجب دي چې ددغه حق ننګه وکړي.د هر ډول تیري په وړاندې د ودریږي او له شرعي جواز پرته د هیچا وژل جواز نه لري.

۲ له هغه وسیلې څخه استفاده کول منع دي چې په کلي یا جزئي توګه د بشریت د سرچینې په له منځه وړلو تمامه شي.

۳ د بشریت د ژوند د دوام ساتنه تر هغه ځایه چې پاک خدای ﷻ فرمایلي دي شرعي دنده ده.

۴ د انسان د جنازې حرمت باید وساتل شي او هغه ته بې احترامي جواز نه لري او همدارنګه د هغه لمس جایز نه دی، خو شرعي مجوز ته، دولت د هغه د ملاتړ مسؤلیت لري.

**دریمه ماده**

۱ د زور یا وسله والو لانجو د کارولو په صورت کې باید هغه څوک ونه وژل شي چې په هغه کې برخه نه لري لکه بوډاګان، ښځې او ماشومان، هر زهمي او ناروغ د درملنې حق او اسیران د خوراک، پوښاک او ټاټوبي حق لري او د وژل شوو مثله کول منع دي، باید اسیران تبادله او د کورنۍ غړو ته یې د لیدو کتو اجازه ورکړل شي.

۲ د دښمنۍ له امله د ونو غوځول، د کروندو او باغونو له منځه وړل، د دولتي ودانیو او موسسو ړنګول جواز نه لري.

**څلورمه ماده**

هر انسان حرمت لري او کولای شي په ژوند او یا تر مرګ وروسته خپل شهرت وساتي، دولت او ټولنه وظیفه لري چې د هغه مړی او مړستون وساتي.

**پنځمه ماده**

۱ کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ دی او واده کول د هغه د ایجاد آساس دی، نو نارینه او ښځې د واده حق لري او هیڅ هغه قید او بندیز چې د نژاد، رنګ یا قیمومیت پر بنسټ وي نه شي کولای ددې حق مخه ونیسي.

۲ ټولنه او دولت وظیفه لري د واده په مخ کې پراته خنډونه له منځه یوسي، لارې یې آسانه کړي او د کورنۍ ملاتړ وکړي.

**شپږمه ماده**

۱ په انساني حیثیت کې ښځه او نارینه سره یو برابر دي، ښځې چې څومره دندې لري حقونه هم لري او مدني شخصیت، مستقله مالي ذمه او د خپل نامه او نسب د ساتلو حق لري.

۲ د نفقې تأمین او د هغو د ساتلو مسوولیت د نارینه له دندو څخه دي.

**اوومه ماده**

۱ د ماشومانو د وړکتوب د وخت ساتنه، ښوونه او درملنه د مور، پلار او دولت په غاړه دي او ددې په ترځ کې باید د جنین او مور ساتنه وشي او د هغوي د ځانګړې ځارنې په نسبت باید هلې ځلې وشي.

۲ پلرونه او هغه څوک چې د شریعت له نظره د پلار مقام لري، د هغوی د ګټو او راتلوونکي په پام کې نیولو سره د روزنې د ډول د انتخاب حق د اخلاقي ارزښتونو او شرعي احکامو په رڼا کې په غاړه لري.

**آتمه ماده**

هر انسان د الزام له پلوه یو شرعي شخصیت لري او که چیرې دغه شخصیت له منځه ولاړ یا تر ګواښ لاندې راغی، قیمتونه یې ځای نیسي.

**نهمه ماده**

۱ د علم طلب یوه فریظه ده او تعلیم په ټولنه او دولت یو واجب امر دی، پر دولت لازمه ده چې لارې چارې او وسایل یې برابر کړي او د هغه متنوع والی هغه شان چې د ټولنې مصلحت دی تر سره او تأمین کړي او انسان ته وخت ورکړي چې د اسلام د دین او د هستۍ د حقایقو په اړه پوهه تر لاسه کړي او هغه د بشریت په ښیګڼه وکاروي.

۲ دا د هر انسان حق دی چې له کورنۍ، مدرسې او پوهنتون نه نیولې تر تبلیغاتي دستګاوو او نورو پورې بیلا بیلې روزنیزې او څیړنیزې موسسې چې د انسان د دنیوي او دیني زده کړو په غرض کوښښ کوي، دهغه د بشپړې او متوازنې روزنې لپاره هلې ځلې وکړي او شخصیت یې وروزي، داسې چې پر خدایﷻ باندې یې ایمان او د هغه حقونو او وظایفو ته یې احترام برابر شي.

**لسمه ماده**

اسلام د فطرت دین دی او د انسان د هر ډول اکراه کارول یا پر بل دین یا ایجاد باندې د دغه دین د بدلولو په غرض د انسان له فقر یا ناپوهۍ څخه ګټه اخیستل جواز نه لري.

**یوولسمه ماده**

۱ انسان آزاد پیدا کیږي او پرته له خدای ﷻ نه هیڅوک حق نه لري چې هغه غلام او ذلیل کړي او یا یې وځپي یا له هغه څخه ناسمه ګټه واخلي.

۲ ښکیلاک د هغه له بیلابیلو ډولونو سره او په دې باور چې د مرییتوب ډیر ناوړه ډول دی په کلکه تحریمیږي او هغه ملتونه چې له هغه څخه کړیږي حق لري له هغه څخه خلاصون ومومي او خپل برخلیک په خپله وټاکي.ټول دولتونه او هیوادونه هم دنده لري له دغې ډلې سره د هر ډول ښکیلاک او اشغال د له منځه وړلو پر خلاف په مبارزو کې مرسته وکړي. ټول ملتونه هم د مستقل شخصیت د ساتلو او پر خپلو طبیعي منابعو او شتمنیو باندې د واکمنۍ حق لري.

**دولسمه ماده**

هر انسان له شریعت سره مطابق په خپل هیواد او یا له خپل هیواد څخه بهر د استوګنې لپاره د ځای د انتقال او انتخاب حق لري او په هغه صورت کې چې د ظلم تر فشار لاندې راځي کوم بل هیواد ته کډه کولای شي. پر هغه هیواد چې کډوال ورځي، واجب ده چې له هغوی سره ښه چلند وکړي تر څو چې پناه ورکول ورته برابر شي، په دې شرط چې د شرعې مطابق د جرم د کولو له امله کډوالۍ ته نوي اړ شوي.

**دیارلسمه ماده**

کار هغه حق دی چې دولت او ټولنه یې د هر هغه چا لپاره تضمین

کړي چې د هغه د سرته رسولو توان لري، او هر انسان د وړ کار د انتخاب آزادي لري. داسې چې هم دده مصلحت او هم د ټولنې مصلحت تر سره شي، هر کارګر حق لري له امنیت، سلامت او نورو ټولنیزو تأمیناتو څخه برخمن وي او هغه باید داسې کار ته اړ نه شي چې د کولو توان یې نه لري، او په زور کار ته باید اړ نه کړای شي او له هغه څخه ګټه وانه خیستل شي. هغه ته باید زیان ونه رسول شي، له توپیر پرته هر ښځینه او نارینه کارګر حق لري د هغه کار په مقابل کې عادلانه مزدوري تر لاسه کړي چې سرته یې رسوي او له رخصتیو، بدلون، استحقاقي ترفیعاتو څخه د استفادې حق لري او په عین وخت کې وظیفه لري چې په خپل کار کې صادق او ریښتینی وي. که چیرې کارګرانو له ګومارونکو سره اختلاف پیدا کړ دولت وظیفه لري ددغه اختلاف د حل، د ظلم د له منځه وړلو او د حق د اعادې او په عدل باندې د پابندۍ لپاره پرته له دې چې د کوم لوري په ګټه فیصله وکړي.

**څوارلسمه ماده**

انسان حق لري له احتکار، فریب یا ځان او نورو ته له زیان رسولو پرته مشروع کار وکړي، او سود خوړل په کلکه منع دی.

**پنځه لسمه ماده**

۱ هر انسان له شرعي لارو څخه د مالک کیدلو حق لري او کولای شي د مالکیت له حق څخه په هغه ډول برخمن شي چې خپل ځان یا نورو او ټولنې ته زیان ونه رسوي، نه شو کولای له چا څخه مالکیت واخلو، که د عمومي ګټو د ساتلو ضرورت وي، نو بیا باید په مقابل کې فوري او عادلانه غرامت ورکړل شي.

۲ د مالونو مصادره او د هغو ضبطول منع دي، خو له شرعي احکامو سره سم.

**شپاړسمه ماده**

هر انسان حق لري د خپلو عملي، ادبي، هنري یا تکنالوژیکي بریاوو څخه ګټه تر لاسه کړي او حق لري د تر لاسه شوو ادبي او مالي ګټو ساتنه وکړي، په دې شرط چې هغه بریا (اثر) د شریعت د احکامو مخالف نه وي.

**اوولسمه ماده**

۱ هر انسان حق لري په داسې چاپیریال کې ژوند وکړي چې له مفاسدو او اخلاقي ناروغیو څخه پاک وي داسې چې وکړای شي خپل ځان له معنوي پلوه ډاډه کړي، ټولنه او دولت وظیفه لري چې دغه حق ورته برابر کړي.

۲ دولت او ټولنه وظیفه لري د موجودو امکاناتو پر بنسټ د ضرورت وړ عمومي مرکزونو د ایجاد له لارې د هر انسان لپاره روغتیایي او ټولنیز خدمتونه تأمین او برابر کړي.

۳ دولت مکلف دی د هر انسان په شرفتمندانه ژوند کې چې وکړای شي د هغه له لارې خپل او د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کړي لکه خوراک، ټاټوبی، معارف، درملنه او نور آساسي ضرورتونه تضمین کړي.

**اتلسمه ماده**

۱ هر انسان حق لري چې د خپل ځان، دین، کورنۍ، ناموس او مال په اړه په آرامۍ ژوند وکړي.

۲ هر انسان حق لري چې د خپل ځانګړي ژوند (په ټاټوبي، کورنۍ، مال او اړیکو) کې آزادي ولري او د هغه د حیثیت د ټيټولو لپاره د هغه په وړاندې جاسوسي او څارنه جواز نه لري او باید په دې برخو کې د هر ډول زورورو د لاسوهنې په وړاندې د هغه ملاتړ وشي.

۳ ټاټوبی په هر حالت کې حرمت لري او باید د هغه د اوسېدونکو له

اجازې پرته په غیر مشروع ډول ورداخل نه شو او هم هغه باید ویجاړ او مصادره نه شي او اوسیدونکي یې ترینه ونه شړل شي.

**نوولسمه ماده**

۱ خلک د شرعې په وړاندې یو برابر دي، پدې کار کې حاکم او محکوم هم له یو بل سره برابر دي.

۲ محکمې ته مراجعه او پناه وړل هغه حق دی چې د ټولو لپاره تضمین شوی دی.

۳- مسوؤلیت په اصل کې شخصي دی.

۴ هیڅ جرم او یا مجازات د شریعت له احکامو پرته نشته.

۵ تورن تر هغه وخته بې ګناه بلل کیږي، چې محکومیت یې د عادلانه محاکمې په وسیله نه وي تثبیت شوی.

**شلمه ماده**

له شرعي غوښتنې پرته د هر انسان نیول، د هغه د آزادۍ محدودول یا تبعیدول یا مجازات جواز نه لري او باید هغه ته بدني یا روحي ربړونه ورنه کړل شي. او د انساني حیثیت پر خلاف ورسره له سپکاوي او سخت چلند باید ونه شي.همدارنګه په زور د روغتیایي یا علمي آزمایښتونو لپاره اجبار پر هر فرد باندې جواز نه لري، خو که هغه رضایت ولري او په دې شرط چې د هغه سلامتي او ژوند په خطر کې ونه لویږي. همدارنګه د هغو استثنایي قوانینو تدوین چې اجرایه قوې ته دغه شان اجازه ورکړې هم جواز نه لري.

**یوویشتمه ماده**

یرغمل نیول په هره بڼه او د هر هدف لپاره چې وي منع دي.

**دوه ویشتمه ماده**

۱ هر انسان حق لري خپل نظر په هره بڼه چې له شرعي اصولو سره

مخالف نه وي، په آزاده توګه بيان کړي.

۲ هر انسان حق لري د اسلامي شريعت د ضوابطو پر بنسټ د خير او له منکر څخه د منعې لپاره دعوت وکړي.

۳ تبليغات د ټولنې لپاره يو حياتي ضرورت دی، له هغه څخه ناوړه استفاده او ناوړه استعمال يې او د انبياوو په کرامت او مقدساتو باندې حمله او يا د هغه څه کارول چې په ارزښتونو کې د اخلال سبب شي ياد ټولنې تر منځ ګډوډي يا اعتقاد ته د زيان رسولو يا سره د پاشلو سبب شي، منع دي.

۴ د قومي يا مذهبي احساساتو را پارول او يا هر هغه څه چې د هر ډول توکميز توپير د راپارولو سبب شي جواز نه لري.

**درويشتمه ماده**

۱ ولايت هغه امانت دی چې استبداد يا له هغه څخه ناوړه استفاده په غوڅه توګه منع دي ځکه چې آساسي حقونه له دې لارې تضمينږي.

۲ هر انسان حق لري د خپل هيواد د عمومي چارو په اداره کې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه ګډون وکړي.همدارنګه هغه کولای شي د شرعت د احکامو مطابق عمومي څوکۍ تر لاسه کړي.

**څلورويشتمه ماده**

په دې سند کې ټول حقوق او آزادۍ د اسلامي شريعت له احکامو سره د مطابقت شرط لري.

**پنځه ويشتمه ماده**

اسلامي شريعت ددې اعلاميې د هرې مادې د بدلون يا توضيح لپاره يوازينۍ مرجع ده.

**پای**

# ضمايم

## لومړی ضمیمه

اوله ضمیمه: د نړیوالو سازمانونو اختصاري عناوین

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علایم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د کارائب هیوادونو ټولنه | Association Of Caribbean States | ACS | ۱ |
| د اسیا برمختیایی بانک | Asian Development Bank | ADB | ۲ |
| د افریقا پرمختیایی بانک | African Development Bank | ADF | ۳ |
| د عربو اتحادیه | Arab League | AL | ۴ |
| د اسیا او اقیانوسیې اقتصادي سازمان | Asia – Pacific Economic Cooperation | APEC | ۵ |
| د جنوب ختیځی اسیا ټولنه | Association Of South East Asia | ASA | ٦ |
| د جنوب ختیځي اسیا هیوادونو ټولنه | Association Of South – East Asian Nations | ASEAN | ۷ |
| د افریقا اتحادیه | African Union | AU | ۸ |
| د مرکزی اسیا د همکاری سازمان | Central Asian Cooperation Organization | CACO | ۹ |
| د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقوقو کمیسیون | Commission On Human Rights (OF UN) | CHR | ۱۰ |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علایم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د کارائب هوا پیژندنی سازمان | Caribbean Meteorological Organization | CMO | ۱۱ |
| د حکمیت دایمی محکمه | Permanent Court Of Arbitration | PCA | ۱۲ |
| د هستوی اسلحی امتحان د منع معاهده | Comprehensive Test Ban Treaty | CTBT | ۱۳ |
| سي ټی بی ټي سازمان | CTBT Organization | CTBTO | ۱۴ |
| د اروپا رادیویی اتحادیه | European Broadcasting Union | EBU | ۱۵ |
| د اقتصادی مرستو سازمان | Economic Cooperation Organization | ECO | ۱٦ |
| اقتصادی او ټولنیزه شورا | Economic and Social Council | ECOSOC | ۱۷ |
| د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنی سازمان | Food and Agricultural Organization | FAO | ۱۸ |
| د تجارت او تعرفی عمومی موافقت نامه | General Agreement on Tariffs and Trade | GATT | ۱۹ |
| د نړیوالی اتومی انرژی آژانس | International Atomic Energy Agency | IAEA | ۲۰ |
| د هوایی حمل او نقل نړیواله ټولنه | International Air Transport Association | IATA | ۲۱ |

| گڼه | اختصاري علایم | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه |
|---|---|---|---|
| ۲۲ | IBE | International Bureau Of Education | د پوهنی نړیواله اداره |
| ۲۳ | IBRD | International Bank For Reconstruction And Development | د پراختیا او بیا رغونی نړیوال بانک |
| ۲۴ | ICAO | International Civil Aviation Organization | د ملکی هوا نوردی نړیوال سازمان |
| ۲۵ | ICJ | International Court Of Justice | د عدالت نړیواله محکمه |
| ۲۶ | ICPC | International Criminal Police Commission | د جنایی پولیسو نړیوال کمیسیون |
| ۲۷ | ICRC | International Committee of the Red Cross | د سرې میاشتې نړیواله کمیټه |
| ۲۸ | ICSID | International Centre For Settlement of Investment Dispute | د پانګی اچونی منازعاتو حل او فصل نړیوال مرکز |
| ۲۹ | IDA | International Development Association | د پراختیا نړیواله ټولنه |
| ۳۰ | IESCO | Islamic Educational, Scientific And Cultural Organization | د اسلامی زده کړو علمی او فرهنګی سازمان |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علايم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د کار نړيوال سازمان | International Labor Organization | ILO | ۳۱ |
| د پيسو نړيوال صندوق | International Monetary Fund | IMF | ۳۲ |
| بحرى نړيوال سازمان | International Maritime Organization | IMO | ۳۳ |
| د سټلايټ او مخابراتو نړيوال سازمان | International Mobile Satellite Organization | IMSO | ۳۴ |
| غير دولتی نړيوال سازمان | International Non – Governmental Organization | INGO | ۳۵ |
| د ملګروملتونو د ښځو لپاره د زده کړو او څيړنو نړيوال انستيتوت | United Nation International Research and Training Institute of Women | INSTRAW | ۳٦ |
| د مهاجرت نړيوال سازمان | International Organization Migration | IOM | ۳۷ |
| بين الپارلمانی اتحاديه | Inter-Parliamentary Union | IPU | ۳۸ |
| سټنډرډ نړيوال سازمان | International Organization for Standardisation | ISO | ۳۹ |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انگلسی ژبه | اختصاري علايم | گڼه |
|---|---|---|---|
| د مخابراتو نړيواله اتحاديه | International Telecommunications Union | ITU | ۴۰ |
| اصل دولت های کاملا در خور توجه | Most Favored Nation | MFN | ۴۱ |
| جنبش غیر متعهد | Non Aligned Movement | NAM | ۴۲ |
| د ناټو سازمان | North Atlantic Treaty Organization | NATO | ۴۳ |
| د پطرولو د صادرونکو هیوادونو سازمان | Organization Of Arab Petroleum Exporting Countries | OAPEC | ۴۳ |
| د آمریکایی هیوادونو سازمان | Organization Of American States | OAS | ۴۴ |
| د اقتصادی همکاری او پراختیا سازمان | Organization For Economic Cooperation and Development | OECD | ۴۵ |
| د ختیځ کارائب هیوادونو سازمان | Organization Of Eastern Caribbean States | OECS | ۴۶ |
| د اسلامی هیوادونو سازمان | Organization Of Islamic Countries | OIC | ۴۷ |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علایم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د نفتو صادرونکو هیوادونو سازمان | Organization of the Petroleum Exporting Countries | OPEC | ۴۸ |
| د جنوبی اسیا د منطقوی همکاریو سازمان | South Asia Association For Regional Cooperation | SAARC | ۴۹ |
| د جنوبی اسیا د ازاد تجارت منطقه | South Asia Free Trade Area | SAFTA | ۵۰ |
| د سارک تجارت امتیازی مقررات | SAARC Preferential Trading Arrangment | SAPTA | ۵۱ |
| د مخابراتو د پراختیا دفتر (اداره) | Telecommunication Development Bureau | TDB | ۵۲ |
| عربی متحده امارات | United Arab Emirates | UAE | ۵۳ |
| انګلستان | United Kingdom | UK | ۵۴ |
| ملګری ملتونه | United Nation | UN | ۵۵ |
| د ملګرو ملتونو د محیط زیست او پراختیا کنفرانس | United Nation Conference on Environment and Development | UNCED | ۵٦ |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علایم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د ملګرو ملتونو د نشه یی توګو د کنترول پروګرام | United Nation International Drug Control Program | UNDCP | ۵۷ |
| د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام | United Nations Development Program | UNDP | ۵۸ |
| د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي، او فرهنګي سازمان | United Nations Educational Scientific and Cultural Organization | UNESCO | ۵۹ |
| د ملګروملتونو د نفوس د فعالیتونو صندوق | United Nations Fund for Population Activities | UNFPA | ۶۰ |
| د ملګروملتونو د نفوس د فعالیتونو صندوق | United Nations Fund for Population Activities | UNFPA | ۶۱ |
| د ملګروملتونو د نفوس د فعالیتونو صندوق | United Nations Fund for Population Activities | UNFPA | ۶۲ |
| د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان | United Nations Industrial Development Organization | UNIDO | ۶۳ |

| د سازمان کامل نوم په پښتو ژبه | د سازمان کامل نوم په انګلسی ژبه | اختصاري علايم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| د ښځو لپاره د ملګروملتونو پرمختيايي صندوق | United Nations Development Fund for Women | UNIFEM | ٦۴ |
| د ملګرو ملتونو سازمان | United Nations Organization | UNO | ٦۵ |
| د ملګرو ملتونو پوهنتون | United Nations University | UNU | ٦٦ |
| د ملګرو ملتونو د داوطلبانو سازمان | United Nations Volunteers | UNV | ٦٧ |
| د پست نړيواله اتحاديه | Universal Postal Union | UPU | ٦٨ |
| د امريکا متحده ايالات | United States | Us | ٦٩ |
| د لوديځې اروپا اتحاديه | Western European Union | WEU | ٧٠ |
| د روغتيا نړيوال سازمان | World Health Organization | WHO | ٧١ |
| د معنوي ملکيتونو نړيوال سازمان | World Intellectual Property Organization | WIPO | ٧٢ |
| د هوا پيژندنې نړيوال سازمان | World Meteorological Organization | WMO | ٧٣ |
| د تجارت نړيوال سازمان | World Trade Organization | WTO | ٧۴ |

## دویمه ضمیمه

د افغانستان د اسلامی جمهوریت غړیتوب په نړیوالو سازمانونو کې

| ګڼه | دنړیوال سازمان نوم | دتاسیس نیټه | مقر(ځای) | د افغانستان د غړیتوب نیټه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ملګرو ملتونو سازمان | ۱۹۴۵م ۱۹ نومبر | نیویارک | ۱۹۴۶م ۱۹ نومبر | |
| ۲ | د ملکي هوا نوردۍ نړیوال سازمان | ۱۹۴۷م ۴ اپریل | کاناډا مونتریال | ۲۰۱۰م ۷ اکتوبر | |
| ۳ | نړیوال دریا نوردي سازمان | ۱۹۵۹م جنوري | لندن | | غړیتوب نه لري |
| ۴ | نړیواله پستي اتحادیه | ۱۸۷۸م ۹ اکتوبر | سویس – برن | ۱۹۲۸م | |
| ۵ | د مخابراتو نړیواله اتحادیه | ۱۸۶۵م ۱۷ مې | جینوا | ۱۹۲۸ اپریل | |
| ۶ | د کار نړیوال سازمان | ۱۹۱۹م ۱۱ اپریل | جینوا | ۱۹۳۴م ۲۸ سپټمبر | |
| ۷ | د ملګرو ملتونو د کرنې او غذایي موادو سازمان | ۱۹۴۵م ۱۶ اکتوبر | روم | ۱۹۴۹م ۱ ډسمبر | |
| ۸ | د کرنیزې پراختیا نړیوال صندوق | ۱۹۷۷م ۳۰ نوومبر | روم | ۱۹۷۸م ۳۱ ډسمبر | |
| ۹ | د روغتیا نړیوال سازمان | ۱۹۴۸م ۷ اپریل | جینوا | غړیتوب لري | |
| ۱۰ | د ترمیم او پراختیا نړیوال بانک | ۱۹۴۶م | واشنګټن | ۱۹۵۵م ۱۴ جولای | |

| ګڼه | دنړیوال سازمان نوم | دتاسیس نیټه | مقر(ځای) | د افغانستان د غړیتوب نیټه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | د پراختیا نړیواله موسسه | ۱۹۶۰ ۲۴ ډسمبر | واشنګټن | ۱۹۵۵ ۱۴ جولای | |
| ۱۲ | نړیواله مالي موسسه | ۱۹۵۶ ۲۰ جولای | واشنګټن | غړیتوب لري | |
| ۱۳ | د پانګې اچونې د اختلافاتو د حل نړیوال مرکز | ۱۹۶۶ | واشنګټن | ۱۹۶۸ ۲۵ جون | |
| ۱۴ | د پیسو نړیوال صندوق | ۱۹۴۵ ۲۷ ډسمبر | واشنګټن | ۱۹۵۵ ۱۹ جولای | |
| ۱۵ | د نړیوال تجارت سازمان | ۱۹۵۵ | جینوا | | غړیتوب نه لري |
| ۱۶ | د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي، او فرهنګي سازمان | ۱۹۴۶ ۴ نوومبر | پاریس | ۱۹۴۸ ۴ مې | |
| ۱۷ | د اتمي انرژۍ نړیوال آژانس | ۱۹۵۷ ۲۹ جولای | ویانا | ۱۹۵۷ | |
| ۱۸ | د هوا پیژندنې نړیوال سازمان | ۱۸۷۸ | جینوا | ۱۹۵۶ ۱۱ سپتمبر | |
| ۱۹ | د معنوي مالکیت نړیوال سازمان | ۱۹۷۰ ۲۶ اپریل | جینوا | ۲۰۰۵ | |
| ۲۰ | د (ایکو) د اقتصادي همکاریو سازمان | ۱۹۶۴ | استانبول | ۱۹۹۳ نوومبر | |
| ۲۱ | سارک(د جنوبي آسیا منطقوي همکاریو سازمان) | ۱۹۸۵ ۸ ډسمبر | | ۲۰۰۵ ۱۳ نوومبر | |

| ګڼه | دنړیوال سازمان نوم | دتاسیس نیټه | مقر(ځای) | د افغانستان د غړیتوب نیټه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | د پلان کولمبو سازمان | ۱۹۵۰ جنوري | کولمبو | ۱۹۶۳ | |
| ۲۳ | د شانګهای همکارۍ سازمان | ۱۹۹۶ اپریل | شانګهای | ۲۰۱۲ | د ناظر غړي په توګه |
| ۲۴ | د اسلامي کنفرانس سازمان | ۱۹۶۹ سپټمبر | رباط | ۱۹۶۹ | |

## اخځليکونه


۱- د م.م اطلاعاتي مرکز. (۱۳۸۰). م.م منشور، ۱٦ فصل، متفرقه مواد، ۱۰۲ ماده، کابل: د بشر د حقونو خپلواک کميسيون.

۲- منشور سازمان ملل متحد.

۳- محمد غفوري. (۱۳۸٦) سازمان های بين المللي، تهران: دانشگاه روابط بين المللي.

۴- ميثاق صندوق بين المللي پول.

۵- تقي زاده انصاري، مصطفی، (۱۳۸۰)، حقوق سازمان های بين المللي، جلد اول، تهران. نشر قومس.

٦- صفي الله ناصري، د ملګرو ملتونو منشور، نړيوال سندونه، (۱۳۹۵).

۷- قايم مقام فرهاني، سيد عبدالمجيد. (۱۳۷۹). حقوق بين المللي و سازمان های بين المللي، تهران: دانشگاه تهران.

۸- عقيل پور کيوان، ژباړن: لاهورخان منګل، سياست پوهنه/ د سياست له علم سره آشنايي، (۱۳۹۵).

۹- ګنجي، منوچهر. (۱۳۵۲). سازمان ملل در تيوري، تهران:

۱۰- د بشري حقونو نړيواله اعلاميه، د ۱۹۴۸ز کال د ډسمبر د لسمې مصوب.

۱۱- د بشري حقونو نړيواله اسلامي اعلاميه.

۱۲- منصفي، ابوقاسم. (۱۳۵۸) سازمانهاي بين المللي، تهران: انتشارات دانشگاه علوم اجتماعي.

۱۳- احمديان؛ فاطمه؛ حقوق بين ملل عمومي و سازمان های بين المللي؛ تهران؛ ناشرپوران پژوهش(۱۳۸٦).

١٤- WWW.UNITEDNATIONS.COM.

١٥- WWW.UN.COM.

١٦-http://www.un-instraw.org/en/instraw/exec-board/٢.html.